# زما پوښتنې سیاسي مرکې

## ذبیح الله احساس

هغه کتابونه چې سمسور ووبپاڼې پرلیکه کړې او یا یې پر لیکه

کوي، نور څوک یې پر لیکه کول اجازه نه لري

www.samsoor.com

## زما پوښتنې او انګېرنې:

په مزارشریف ښار کې د روضې په چارباغ کې تېرېدم. د دایرې په بڼه د خلکو ګڼه ګوڼه مې ولیده، ګومان مې وکړ، چې کوم مداح بیا خلک له ځانه تاو کړي او د پیسو اخیستو په پلمه ورته په افواهاتو ولاړې کیسې کوي. خو ډېر زر پوه شوم، چې مداح نشته، بلکې دغه خلک له عبدالجبار ثابت څخه راتاو دي. هغه عبدالجبار ثابت، چې په ۱۳۸۵لمریز، یې ما د مرکې لپاره په کابل کې لس ورځې تېرې کړې وې.

د ۱۳۸۷لمریز د ولسمشریزو ټاکنو د کمپاینونو وخت و. پخوانی لوی څارنوال عبدالجبار ثابت هم ولسمشریزو ټاکنو ته ځان کاندید کړی و. د کمپاین په موخه مزارشریف ته راغلي و او همدا ګڼه ګوڼه یې د کمپاین له ټولو ستره غونډه وه. د ده د نوم له اورېدو سره سم مې په ۱۳۸۵لمریز، د پسرلی مجلې لپاره له نوموړي سره شوې مرکه ذهن ته راغله او په مرکه کې مې دا پوښتنه په یاد شوه:

...د خلکو زړونو کې مو یو څه ځای موندلی؛ زړه کې مو نه دي تېر شوي چې د جمهوري ریاست په راتلونکو ټولټاکنو کې ځان کاندید کړئ؟

د ثابت صیب ځواب جالب و، راته یې کړه:

نه قطعا نه. زه دومره جاه طلب سړی نه یمه، چې د لوی څارنوالي نه جمهوري ریاست ته ځان ورسوم.

دوه کاله وروسته یې د ۱۳۸۷لمریز، ولسمشریزو ټاکنو کې ځان کاندید کړ، جمهوري ریاست ته د ځان د رسولو هڅه یې وکړه؛ خو ونه رسېد.

موخه مې دا نه ده، چې عبدالجبار ثابت ولسمشریزو ټاکنو ته د ځان د کاندیدۍ حق نه درلود، بلکې موخه مې له نوموړي سره د شوې مرکې د څرنګوالي ده، د دغه حالت د خوندیتوب ده، چې څه ډول یې له هغې کړنې چورلټ انکار کړی او رد کړې یې وه، چې دوه کاله وروسته یې په ترسره کېدو مجبور شوی دی. بلکې دغه حالت په پسرلی مجله کې د شویو ټولو مرکو ارزښت را په ډاګه کړ، چې باید د سیاسي مرکو د ځانګړې ټولګې په توګه خوندي کړای شي.

په یاد کتاب کې ټولې مرکې د پسرلی مجلې لپاره د تېرو دیارلسو کلونو په اوږدو کې په بېلا بېلو وختونو کې شوي او پکې خپرې شوې دي. یوازې د پخواني ولسمشر حامد کرزي مرکه، چې په ۲۰۱۱ کال کې یې له جیو تلویزون سره کړې وه، ژباړه ده، چې دا هم په پسرلی مجله کې خپره شوې وه.

له سیاسي شخصیتونو سره مرکې د سیاسي مجلې اړتیا ده. د همدې اړتیا د پوره کېدو په موخه مو وخت ناوخت هڅه کړې، چې له ځینو سیاسي شخصیتونو سره د هېواد په روانو سیاسي حالاتو او په تاریخي موضوعاتو د پسرلی مجلې لپاره مرکې وکړو.

د کتاب لومړۍ مرکه له ولسمشر اشرف غني سره ده، چې د ۱۳۸۷ لمریز د ولسمشریزو ټاکنو په درشل کې ورسره شوې وه. دغه ټاکنې د پخواني ولسمشر حامد کرزي په ګټه پای ته ورسېدې؛ خو د مرکې پر مهال راته د محمد اشرف غني د ځوابونو راکولو انداز اوس هم یاد دی، چې د ټاکنو د ګټلو په تمه و.

دغه مرکه د محمد اشرف غني د بوختیا له امله په درې پړاونو کې تر سره شوه. وروستی پړاو یې په موټر کې و، چې د کابل له دارالامان څخه تر شهرنو پورې ورسره په موټر کې ناست وم او زما پوښتنو ته یې ځوابونه راکول.

دی راته بار بار د پوښتنو د ځوابولو پر مهال احساساتي شوی؛ خو د ده د ورور په اړه پوښتنې پر وړاندې یې غبرګون وښود او په غوسه یې زما پوښتنه ځواب کړه.

ما ترې وپوښتل: د کرزي د نورو نیمګړتیاو تر څنګ ځینې خلک په کورني تړاو له واک څخه یې د ورونو ناوړه ګټه پورته کول هم ستره نیمګړتیا بولي. ستاسو ورور ښاغلي حشمت غني هم ځینې وخت له رسنیو سره د ځینو ملي مسایلو په اړه داسې څرګندونې کړې، چې خلک ترې خپه دي.

ستاسو له بریالیتوبه وروسته به د ده موقف هم د کرزي د ورونو په څېر وي؟

دی احساساتي شو، د پوښتنې پر وړاندې د غبرګون ښودلو په انداز یې ځواب راکړ: زما ورور به زما د واك پر مهال په دولتي ادارو او یا هم د افغانستان په اقتصاد کې هېڅ ډول رول ونلري. خو د یوې خبرې یادونه اړینه بولم چې دغه کوم تور چې تا زما په ورور ولګوه، دا یواځې ستا خبره ده. زه یې لا له دغه ډول څرګندونو څخه نه یم خبر.

محمد اشرف غني د ۱۳۸۷لمریز ټاکنې ونه ګټلې؛ خو ۱۳۹۳لمریز په ولسمشریز ټاکنو کې د افغانستان ولسمشر شو. زما لا خپله پوښتنه یاده او د ده ځواب مې هم هېر نه دی؛ خو سهي یې ویلي و. لا مې هم د ده د ورور حشمت غني په اړه داسې کومه خبره نه ده اورېدلې، چې د ده له واک څخه دې ناوړه ګټه پورته کړې وي.

په ولسي جرګه کې د کابل د خلکو استازي رمضان بشر دوست سره شوې مرکې ته چې څومره لېوال وم، په هماغه اندازه مې په اسانه وموند. شمېره مې ورته پیدا کړه، زنګ مې ورته وکړ، اوکې شوو او د مرکې لپاره یې په لنډه موده کې وخت راکړ. له نورو سره داسې نه وه.

دی مې له نږدې وکوت. د ده رښتینولې ته هیله مند وم، خو له شوې مرکه دې پایلې ته ورسېدم، چې بې بندوباره سیاست کوي. سیاست د ښکاره رښتینولۍ په فورمول نه دی ولاړ، بلکې خپلې موخې ته د رسېدو لپاره باید د ټولنیزو مثبتونو او منفي خویونو له لوړو ژورو تېر شي.

له ده چې مې کله پوښتنه وکړه، چې ولې له تېرو څو کلونو رمضان بشردوست د خپل کړي سیاست له امله هم فکره خلک پیدا نه کړل؛ نه یې په پارلمان کې ملګری پیدا کړ او نه یې دباندې. د ده ځواب جالب و، راته یې کړه، چې په ګوندي سیاست باندې باور نه لري، له ده سره وېره وه، چې که د ګوند یو کس ناوړه عمل وکړي نو د ټول ګوند رنګه ورسره بدېږي؛ خو دا حقیقت دی، چې اوسمهال د سیاست له ټولو ستر چوکاټ ګوندي سیاست بلل کېږي.

له غلام محمد زرملوال او سلیمان لایق سره د لوی افغانستان او د ډیورنډ کرښې په ماهیت مرکې شوې دي. د دوی په مرکو کې هڅه شوې، چې له حقوقي او تاریخي پلوه د ډیورنډ کرښې ماهیت وڅېړل شي.

غلام محمد زرملوال صیب سره مې مرکه دوه ځله کړې. په لومړي ځل شوې مرکه، چې په کابل کې د ده په کور کې ورسره په غږیزه بڼه ثبت شوې وه، د تخنیکي ستونزې له امله له منځه لاړه. په دې موده کې دی بهر ته په سفر لاړ. د برېښنا لیک له لارې د اړیکو پر مټ مې بیا پوښتنې ورولېږلې او نوموړي یې ځوابونه راکړل. هڅه مو ډېره وکړه، چې د لومړۍ مرکې په څېر جالبه راشي؛ خو لیکلې مرکه کله هم د غږیزې ثبتې مرکې ځای نه شي نیولی. له همدې مرکې څه موده وروسته غلام محمد زرملوال وفات شو.

نوموړي له حقوقي پلوه د ډیورنډ کرښې په اړه جالبې خبرې کړې دي.

خو سلیمان لایق د ډیورنډ په اړه د تاریخي شالید وړاندې کولو تر څنګ د تېل شوې کرښې دواړو غاړو د پروت افغان ولس د غبرګونونو په تړاو جالب معلومات راسره شریک کړل.

که څه هم لایق د افغانستان روان حالت له نږدې څارل؛ خو د مرکې په اوږدو کې راته داسې بریښېده، لکه نور چې ستړی شوی وي، داسې ګومان مې وکړ، چې پټیلې یې ده، د کړې سیاست ستړیا به د شعر او ادب سیوري ته وباسي.

د دغو مرکو په ترسره کولو کې که د ځینو ملګرو مرسته نه وای؛ نو ممکن ځینې یې هېڅ شوې نه وای.

له محمد اشرف غني سره د مرکې په برخه کې له ملګري اسرار احمد خان، له عبدالجبار ثابت سره د مرکې په برخه کې له استاد سعدالدین شپون او همداراز له ځوان مدني فعال ملګري عطاالله خان حیران ستړیا څخه مننه کوم. له سلیمان لایق سره د مرکې په برخه کې له محمد یار انډیوال څخه مننه، چې د لایق د درک معلومولو په برخه کې یې راسره ځان ستړی کړ.

دا چې په پسرلی مجله کې د دغو مرکو د خپراوي پر مهال مجیب لحاظ د مجلې مرستیال و؛ نو یو ډول نه یو ډول د دغو مرکو په ترسره کولو کې راسره ښکېل پاتې شوی، د ده لاسنیوی او مینه د هېرېدو وړ نه ده.

په کتابي بڼه د مرکو د چاپ په برخه کې مو اړتیا حس کړه، له هره شخص سره، چې مرکه شوې، باید پېژندنه یې هم ورسره راشي. د بلخ ادبي خوځښت له اداري او مالي مسوول بریالي جلالزي ملګري څخه نړی مننه

کوم، چې د کاري بوختیاوو سره سره یې د شپږ واړو شخصیتونو پېژندنې برابرې کړې او په کتاب کې مو ځای پر ځای کړې.

د کتاب په بڼه د دغو مرکو د چاپ له امله د داود تپان یار له ټینګار او د ده د ستړیا پوروړی یم. له لمرنیازي ملګري نړۍ مننه، چې د کتاب پښتۍ یې جوړه کړه او اکبر باچا دې ژوندی وی، چې د کتاب لپاره یې راته تصویرونه واخیستل.

په پای کې د بلخ ادبي خوځښت د ټولو ملګرو په انډیوالۍ ویاړم، چې د کتاب د برابرېدو پر مهال یې زما نازونه پورته کړل، حوصله یې راته وکړه او د مرکو په راټولېدو کې راسره ملګري شول.

منته او مینه


ستاسو احساس

بلخ ادبي خوځښت

مزارشریف/۲٦ چنګاښ ۱۳۹۵لمریز

# سياسي مرکې:

- **محمد اشرف غني** – د ۱۳۸۸لمريز ولسمشريزې ټاکنې
- **رمضان بشر دوست** – د افغانستان کورنۍ او بهرنۍ سياست
- **سليمان لايق** – ډيورنډ تپل شوې کرښه او باچا خان
- **غلامحمد زرملوال** – لوی افغانستان
- **عبدالجبار ثابت** – اداري فساد
- **حامد کرزی** – د افغانستان او پاکستان اړيکې



# ۱

# د ولسمشریزو ټاکنو په تړاو له محمد اشرف غني سره مرکه

خپره شوې: پسرلی مجله/ دریم کال، پرله پسې دیارلسمه او څوارلسمه ګڼه ۱۳۸۷لمریز.

دغه مرکه له محمد اشرف غني سره د ۱۳۸۸لمریز د ولسمشریزو ټاکنو په درشل کې د پسرلی مجلې لپاره شوې وه. په دغو ټاکنو کې محمد اشرف غني هم کاندید و؛ خو ټاکنې د حامد کرزي په ګټه پای ته ورسېدې.

## پېژندنه:

محمد اشرف غني په ۱۳۲۸ل زېږېدلی. د ماشومتوب لومړنۍ دوره یې په لوګر ولایت کې تېره کړه. د ځوانۍ په لومړیو کې یې د زده‌کړو لپاره لبنان ته سفر وکړ او د بیروت په امریکایي پوهنتون کې شامل شو.

په۱۳۵۲لمریز، یې په بیروت امریکایي پوهنتون کې خپلې زده‌کړې بشپړې کړې. په ۱۳۵۳ل، افغانستان ته راستون او په کابل پوهنتون کې د ټولنیزو علومو په څانګه کې د انسان‌پوهنې استاد شو. په ۱۳۵٦لمریز، د بورس له لارې د امریکا په کولمبیا پوهنتون کې شامل شو.

محمد اشرف غني له بیروت امریکایي پوهنتون څخه د سیاسي علومو په برخه کې لیسانس او ماسټري اخیستې ده. دویمه ماسټري یې د نړیوالو اړیکو په برخه کې د امریکا له کولمبیا پوهنتون څخه تر لاسه کړې او

وروسته یې په یاد پوهنتون کې د وګړپوهنې په برخه کې دوکتورا ترلاسه کړه.

محمد اشرف غني په ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸م کلونو کې د امریکا له سکرانټن او د کاناډا له ګلف پوهنتونونو څخه دوې افتخاري دوکتوراوې هم تر لاسه کړې دي. دغه راز د پاکستان په کراچۍ او لاهور ښارونو کې یې د یو کال لپاره د نبوي سیرت زده‌کړې هم کړې دي.

محمد اشرف غني ۱۳۷۰-۱۳۶۲ کلونو پورې په کالیفورنیا او جان هاپکنز پوهنتونونو کې د استادۍ دنده ترسره کړه. د یادو پوهنتونونو ترڅنګ یې د نړۍ په نورو ډېرو معتبرو پوهنتونونو لکه بکلي او اروس کې هم استادي کړې ده.

محمد اشرف غني له ۱۳۷۰لمریز څخه په نړیوال بانک کې د خپلې یوولس کلنې دندې په اوږدو کې په ختیځه اسیا کې د پروژو په طرحه کولو پیل او وروسته یې د نړیوال بانک لپاره سیاسي ستراتیژي ترتیب کړه.

اشرف غني پر ۱۳۷۵ل، په نړۍ کې د ادارو او دولتي بنسټونو په هکله یو لړ بنسټیز اصلاحات پېشنهاد کړل. نوموړي په چین، هندوستان او روسیه کې د لویو پروژو او اقتصادي اصلاحاتو د پلي کولو لپاره پنځه کاله کار وکړ. محمد اشرف غني  په نړیوال بانک کې د کار پر مهال د هارورډ-اینسیډ او سټنفورډ تجارتي پوهنتونونو لخوا د مشرتابه (رهبریت) تر عنوان لاندې جوړ شوي روزنیز پروګرامونه هم تعقیب کړي دي.

محمد اشرف غني د طالبانو د نظام له  ړنګېدو وروسته افغانستان ته راغی او د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي لوی سلاکار وټاکل شو. نوموړي د بن کنفرانس په عملي‌کولو کار وکړ او په لنډ مهاله اداره کې د ادارې د مشر سلاکار وټاکل شو. د بېړنۍ لويې جرګې او اساسي قانون د لويې جرګې په جوړولو کې يې بنسټيز رول درلود.

محمد اشرف غني په ۲۰۰۲ز، د ماليې وزير شو. په مالي برخه کې له بنسټيزو اصلاحاتو او نوښتونو سره يې د هېواد د مالي سياست، شفافيت اوحساب ورکونې پروسه عملاً رامنځ ته کړه او د دولت عوايد يې مرکزي کړل. نوي بانک نوټونه يې چاپ او بازار ته وړاندي کړل.

محمد اشرف غني ته د هغه د سترو خدمتونو له امله د افغانستان د هغه وخت جمهور رئيس حامد کرزي د سيد جمال الدين افغان عالي دولتي مډال ورکړ. په ۱۳۸۲ کال د اسيايي هېوادونو ترمنځ د غوره ماليې وزير په توګه هم وپېژندل شو.

محمد اشرف غني په ۱۳۸۳ل، د برلين په کنفرانس کې، د افغانانو د راتلونکي د خوندي‌کولو په موخه اوه کلن پروګرام وړاندې کړ، چې غوره طرحه وپېژندل شوه. دغه راز د محمد اشرف غني په ابتکار د ملي پيوستون پروګرام رامنځته شو.

په ۱۳۸۳ل، کې د ښاغلي کرزي تر انتخابېدو وروسته محمد اشرف غني په کابينه کې له ګډون کولو ډډه وکړه او د کابل پوهنتون د رياست دنده يې ومنله. هلته يې د دولتي اغېزمنتيا انسټيټيوټ بنسټ کېښود.

نوموړي په سلګونو علمي مقالو او اثارو سربېره د اسلام د مبین دین نفاذ، د ښځو حقونه او ټولنیز عدالت، په قبایلي ټولنه کې د دولت جوړول او د اسلامي شریعت په محکمه کې د شخړو هواری د هغه ځېړنیز اثار او لیکنې دي.

د افغانستان معاصر ادبیات، د افغانستان څلورسوه کلن تاریخ، ناکام دولتونه او د هغوی د کامیابۍ تګلاره او د عادلانه نظام لاره هم د محمد اشرف غني له څېړنیزو اثارو څخه دي.

دغه راز محمد اشرف غني په ۱۳۸۹لمریز، له نړیوالو ځواکونو څخه افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو ته د واک د لېږد مسؤل و، چې د هیواد ۳۴ ولایتونو ته یې سفرونو وکړل او دغه بهیر یې په بریالیتوب ترسره کړ. محمد اشرف غني په تېرو دوړو ولسمشریزو ټاکنو کې جمهوري ریاست ته نوماند و.

محمد اشرف غني د ۱۳۹۳لمریز د انتخاباتو د دویم پړاو له ترسره کېدو وروسته د افغانستان منتخب جمهور رئیس شو او د همدغه کال د تلې د میاشتې په اوومه نېټه یې د ارګ په سلام خانه ماڼۍ کې د افغانستان د قاضي القضات پر وړاندې لوړه وکړه.

سرچینه:

د ارګ ویبپاڼه.

## مرکه:

**پوښتنه: د افغانستان په ځینو سیمو کې پر خلکو د دولت د مخالیفینو د ویرې سیوری لا پروت دی، د ټاکنو د کېدو څومره شونتیا وینئ؟**

اشرف غني: شونتیاوې شته، خو عمده خبره دا ده چې سړی باید ځانګړې موخه ولري او د همدې موخې لپاره ترتیبات ونیسي. که موخه مو دا ده چې ټاکنې په سمه توګه په زمري کې تر سره شي، نو دا په امنیتي ارګانونو، ولایتونو او داسې نورو ادارو کې وړ تدابیر او سرته رسول غواړي. دا نه ده چې دښمن قوي دی، بلکې اصلي دلیل دا دی چې حکومت کمزوری دی. یو حکومت چې سر تر پایه له فساده ډک وي، څنګه کولی شي چې امنیت راولي. په داسې حال کې چې د اتمر صیب له راتګ نه

مخکې د پولیسو څوکۍ پلورل کېدې؛ نو څنګه به امنیت راشي. اصلي خبره دا ده چې کومه موخه د لاس لاندې لرو نو باید عملي ګام پورته کړو. که کور جوړوو نو په یو وار څلورم پوړ ته د ختو هڅه نه کوو، د بنسټ نه پیل کوو او همدسې په پرله پسې توګه وړاندې ځوو. نو که موخه مو دا وي چې بریالۍ ټاکنې وشي نو له دې شپږ میاشتو څخه باید داسې ګټه واخلو چې ټاکنې پکې تر سره شي.

**پوښتنه: که یو څه یې ښکاره کړئ چې څنګه ګټه ترې واخیستل شي؟**

اشرف غني: بېلا بېلې لارې شته دي. د بېلګې په توګه د مهمو ښارونو امنیت نیول کېدی شي، او دا هم کېدی شي چې خلك له کلیو نه ښارونو ته راشي. د دې پر ځای چې ټاکنې په یوه ورځ کې وکړو کېدی شي په درې اونیو کې یې وکړو، ځکه اصلي موخه په ټاکنو کې د خلکو ګډون کول دي نو باید داسې تیاری ونیسو چې خلك وکړای شي په ډېره پیمانه په ټاکنو کې ګډون وکړي. که ټاکنې د درې اوونیو په منځ کې ونیسو کولی شو د هغو ولایتونو امنیتي ځواکونه چې نسبي په امن کې دي، هغو ولایتونو ته یوسو چې یو څه ناامنه دي. د ټاکنو د امنیت د چارو نیول د عمومي امنیت نیولو څخه توپیر لري ځکه چې دا د یوې اونۍ یا درې اوونیو کار دی. بله مهمه خبره دا ده چې خلکو ته باید دا فکر ورکړل شي چې رایه یې بدلون راوستی شي ځکه چې که دا فکر شتون ونلري نو که امنیت هم وي، خلك رایو ته اهمیت نه ورکوي، نو اصلي خبره د خلکو په فکر کې ده. که خلك په دې پوه شي چې په رایه یې د دوی، د هېواد او د راتلونکي نسل راتلونکي ژوند کې بدلون راځي نو ټاکنو کې به ضرور برخه اخلي.

**پوښتنه: نو ایا اوس دغه فکر له خلکو سره نشته؟**

اشرف غني: نه تر اوسه نشته، باید پیدا کړای شي.

**پوښتنه: نو څه فکر کوئ چې په دې لنډه موده دوه یا شپږو میاشتو کې به خلکو ته دغه ډول فکر ورکړل شي؟**

اشرف غني: په دوه میاشتو که نه خو په شپږ میاشتو کې کېدی شي، تاسو خپله د دې فکر لېږدولو یوه برخه یاست، د خدای په فضل شپېته ایف ایم رادیوګانې منځ ته راغلي دي، نن اووه نیم میلیونه ټیلیفونه لرو، له دې لارو فکر منځ ته راوړلی شو. د فکر خبره په دې کې ده چې ټول مطرح خلك او په ځانګړې توګه ښاغلی ولسمشر کرزی صیب باید خلکو ته ووایي چې څنګه حکومت کوي.

**پوښتنه: تاسو د نورو کاندیدانو پرتله په وطن کې لږ پاتې شوي یاست، ایا دا یوه ستونزه نه ده؟**

اشرف غني: دا نور خلك نو چېرې افغانستان کې وو دوی خو هم په پاکستان او ایران کې وو. ما هېڅ بهرني حکومت ته کار نه دی کړی او د نړۍ هېڅ دولتي سازمان په شمول د ISI سره تړاو نلرم چې نور خلك ورسره ښکاره اړیکي لري.

**پوښتنه: ډاکتر صیب په کوم ډاډ مو ځان کاندید کړی؟**

اشرف غني: د ولس په ډاډ.

**پوښتنه: اولس د کومې برترۍ په لرلو د نورو کاندیدانو پر وړاندې پر تاسو باور وکړي؟**

اشرف غني: زه طرحه لرم او نور يې نلري.

**پوښتنه: څنگه طرحه؟**

اشرف غني: زما طرحې په څلورو اساساتو درېدلي دي.

لومړۍ: اغېزناك دولت دې بايد راشي، چې له ولس سره تړون ولري او د شفافيت او عدالت پر بنسټ ولاړ وي. زما تېر كارونه بايد خلكو ته دا ډاډ وركړي چې زه څه وايم هغه سرته رسوم. يانې زما نظر او عمل توپير نلري.

دويم: كار، زموږ د ټولنې غوڅ اكثريت ځوانان دي او له سياسي نظره دوى اقليت دي. دا خلك بايد په يو سياسي اكثريت بدل شي او ورسره د كار څښتن شي. همدا ډول د اقتصاد د پياوړي كېدو په خاطر زموږ كرنه كې بدلون راشي، معدنونه تنظيم شي، ښاري خدمتونه منځ ته راشي او د جوړونې او رغونې كارونه په منظم ډول تر سره شي، نو دا هر څه په فرمايشي اقتصاد باندې نه كېږي، دا يو اغېزناك اقتصاد ته اړتيا لري چې په چوكاټ كې يې هر ځوان د دې خاورې څښتن شي. زه نه غواړم شل مليارډرې كورنۍ وي او دوه دېرش ميليونه بې وزله انسانان، بلكې زه غواړم چې دوه دېرش ميليونه باعزته انسانان وي او كه په منځ كې يې سل كورنۍ ميليونرې كېږي څه باك نشته، بايد په مشروع توگه مېليونرې شي.

دریېیم: ملي هویت، موږ باید د افغانستان ملي ګټې د دې پېړۍ په چوکاټ کې بېرته خوندي کړو، دا په دې مانا چې د دې ټولنې ټول خلك د وګړو په حیث د قانون په چوکاټ کې بېل بېل حقوق لري. نو موږ باید د افغاني هویت یو نوی انځور منځ ته راوړو چې همداسې واړه هویتونه په یو لوی هویت کې ځای شي. ځکه چې نن په قوم باندې یوه معامله روانه ده. زه قومي سوداګري نه منم بلکې باید د اسلام په چوکاټ کې یو ملي او واضح هویت ولرو.

څلورم: نړیوالې اړیکې، موږ د دې کور څښتن یوو، موږ دلته مېلمانه نه یوو. نن زموږ سیاسي قشر داسې تګلاره لري چې کواګې دوی دلته مېلمانه دي او هغه نړیوالې مرستې چې کوي هغوی د کور څښتن دي. د نورو مسوولیت به دوه یا څلور کاله وي خو زموږ مسوولیت د سلو څلورسوو کلونو دی، موږ باید راتلونکي ته په دې سترګه وګورو چې نه یوازې اوسني نسل ته مسوول یوو، بلکې راتلونکو پنځه نسلونو ته مسوول یوو.

**پوښتنه: د روان حکومت مسوول هم دې ته ورته طرحې د وعدو په شکل خلکو ته وړاندې کړې وې خو پکې پاتې راغی، لومړی دا چې ستاسې طرحې او هغه طرحې څومره توپیر لري او په کوم باډ واك ته له رسېدو وروسته د خپلو طرحو عملي کېدو ته هیله مند یاست؟**

اشرف غني: ما له کرزي صیب سره په یو وخت کې کار کړی، زما کړه د کرزي له کړو سره په تله کې واچوئ. پیسې مې سمې کړې، کمرګونه مې

اصلاح کړل او مرکزي مې کړل. زما پر وخت پر ټولو وزارتونو باندې اصولي بندیزونه ولګېدل او بودیجه مرتبه شوه. ما ۲.۸ میلیارده ډالره له باندې نه درته راوړل، په داسې حال کې چې نړۍ یو ملیارد ډالر هم نه غوښتل چې دلته راشي. سربېره پر دې مې پروګرامونه په منظمه توګه وړاندې شول. ملي پیوستون منځ ته راغی، د مخابراتو پروګرام منځ ته راغی. همداسې کله چې پوهنتون ته لاړم تاسو پوهېږئ چې په یو کال کې څومره توپیر رامنځ ته شو. نو زما او د کرزي توپیر دا دی چې زما طرحه، مدیریت او مسوولیت یو دي. موخه مې دا ده چې ټیم باید منځ ته راشي او په اوس وخت کې د ټیم تشخیص اسانه دی، په ځانګړې توګه په ځوان نسل کې دومره وړتیا ده چې د استعدادونو له کمښت سره نه مخ کېږوخو خبره د تشخیص ده  او د تشخیص په چوکاټ کې باید مسوولیت وي، سربېره پر دې صلاحیت او مسوولیت باید سره ګډ شي، ځکه چې پرته له دې دوه اصلونو پرمختګ نشو کړای نو همدا ده چې اصلي موخه مې دا ده چې قدرت دې زما په کلونو کې زما له همزولي نسل څخه تاسو ته ولېږدول شي. تاسو چې د دې خاورې اکثریت یاست، په اساسي توګه د دې خاورې څښتن شئ. که زه ولسمشر شوم نو زما معیار به دا وي چې زما د دورې تر پایه پورې باید شل کسان داسې وي چې د ولسمشرۍ وړتیا ولري، بیا به په افغانستان کې دا خبره څوک نه کوي چې یو سړی دی،  په یو سړي باندې چې د هر راز وړتیا خاوند وي، ملك نه ابادېږي، بلکې په یو ټیم باندې ابادېږي.

**پوښتنه: په راوانو حالاتو کې له بهرنیانو او د هغوی له مرستو څومره ګټه واخیستل شوه؟**

اشرف غني: په عمومي توګه مثبته ګټه نه ده اخیستل شوې، خو بیا هم توپیر لري چې د چا له مرستې څومره ګټه واخیستل شوه، د بېلګې په توګه د امریکې له یو ډالر مرستې څخه له یو سلنې څخه تر دېرش سلنې پورې ګټه اخیستل شوې ده خو له ځینو به ډېره ګټه اخیستل شوې خو که په عمومي توګه ناکامۍ په ګوته کړو نو لومړۍ د تخنیکي مرستو یادونه کولی شو. تخنیکي برخې ته دوه ملیارده ډالره راغلل، د دې پر ځای چې زموږ د ادارو ظرفیت پورته کړي، له امله یې ټیټ شو، ځکه چې رشوت یې ډېر کړ. نو که تله واخلو او قضاوت وکړو نو شاید بهرنۍ مرستې دېرش سلنې ګټورې وي او اویا سلنې ګټورې نه وي.

**پوښتنه: له بهرنیانو څخه د ګټې اخیستنې په موخه مو له دوی سره اړیکې څومره دي، یانې که تاسو واک ته ورسئ نو له بهرنیو مرستو به څومره ګټه پورته کړئ؟**

اشرف غني: له نړیوالو سره زما اړیکې په اصولو ولاړې دي، ما یو کتاب لیکلی په دې اړه پکې خبرې شوي چې ناکام دولتونه باید څنګه کامیاب کړای شي. زه په لوړه کچه ډېری نړیوال خلک پېژنم او د مالیې وزارت د دندې پر مهال مې هغو ته قناعت ورکړ چې ډېرې پیسې راکړي او په بل راز یې راکړي، د بېلګې په توګه ما له نړیوال بانك او اسیایي بانك څخه د پروژو تر څنګ نغدې پیسې تر لاسه کړای شوې، ځکه چې نغدې پیسې په

څلور یا پنځه برابره قوت باندې بدلېدی شي. زه په دې اړه ځانګړې طرحې لرم چې مرستو نه څنګه اغېزناکه ګټه واخلو.

**پوښتنه: که په دغو طرحو لږ رڼا واچوئ؟**

اشرف غني: یوه لویه ستونزه د قراردادنو برخه کې ده. د بېلګې په توګه د امریکې دولت تېر کال په افغانستان کې شپږ ویشت زره قراردادونه درلودل چې له څلورڅلویښت زره څخه ډېرو قراردادیانو ته ورکړل شوي وو، په دې اړه هېڅ ډول مالومات نه وو چې دا څلور څلویښت زره لومړی درجه قراردایان دغه قراردادونه چاته ورکوي او اغیز یې څومره دی.

**پوښتنه: لامل به یې څه وي؟**

اشرف غني: لامل یې دا دی چې د پروژو د ادراو او د پروژو د ترتیبولو لپاره یو منظم بنسټ نلرو.

**پوښتنه: نو دغه بنسټ به څنګه جوړېږي؟**

اشرف غني: هو، زما لومړی کار به دغه بنسټ منځ ته راوړل وي. یوه منظمه افغاني اداره به موجوده وي هو دا امکان نلري چې دا به ټوله د افغانانو وي، په دې ترتیب به وي چې د افغانستان دولت به یوه یا دوه کمپنۍ له ازاد بازار څخه واخلي، مدیریت به یې ورسره وي چې په دې اساس موږ ډېری قراردادونه تر سره کولی شو. په داسې حالاتو کې به زما رایه دا وي چې افغانستان باید په اووه تر لسو سیمو ووېشو او په هره سیمه کې به یوه دویمه کمپنۍ وي چې کارونه وڅاري او د دې لاندې به

دوه سوه کمپنۍ کار کوي یانې ساختماني افغاني کمپنۍ به وي. پر همدې کمپنیو به سم معیارونه وټاکل شي او قراردادونه به یې تر منځ وویشل شي. د دې تر څنګ به د کار یوه منظمه قوه جوړه کړو چې له دوه سوه زرو تر یو میلیون کسان پکې په کار بوخت وي او امنیت به یې د تقاعدي افسرانو په لاس کې وي، همدا د کار قوه به هم خپلې پروژې عملي کوي، هم به خپل امنیت نیسي او پنځوس سلنه وخت به یې ځوانانو ته په پوهې ورکولو لګېږي. نو که دغه ډول یو سیستم ولرو نو بیا موخې ټاکلی شو. د بېلګې په توګه شل زره کیلومتره سرك ته اړتیا لرو که څلویښت زره کیلو متره سرك ته، ایا څلورسوه زره کورونو جوړول غواړو که څلورسوه بندونه باید جوړ کړو. نو چې ظرفیت مو تر لاسه کړ بیا نو ولس ته د کار کولو وسیله تر لاسه شوه. که وایوو چې غزني کې بند جوړو، نو په ښکاره باید ووایې چې په غزني کې څومره وخت نیسي، نقشه یې څه ډول ده او څنګه عملي کېږي نو په دې حساب به یو منظمه ادراه ولرو.

**پوښتنه: ډاکټر صیب مننه، په دې اړه نور نه غږېږو، خو دومره وایم چې دغه ډول طرحې وړاندې کول یو منظم پلان ته اړتیا لري، تاسو څو کلن پلان له اوس نه لرئ؟**

اشرف غني: زه لس کلن، شلن کلن پلان دواړه لرم.

**پوښتنه: او په فکري توګه د افغانستان لپاره څوکلن پلان لرئ؟**

اشرف غني: په فکر کې څلور سوه کلن پلان لرم. څلورسوه کاله مې په دې وویل چې زما هډوکي په یو کلي کې له څلورسوه کلونو را پدېخوا پراته

دي چې زه يې قبرونه مالومولی شم نو د افغان په توګه باید د یو کال یا دوه کلونو لپاره فکر ونکړو، باید د راتلونکي پنځو نسلونو باندې فکر وکړو. د بېلګې په توګه که په یو کال کې دوه ملیارده ډالره د پنځو کلونو لپاره د نوي نسل د روزلو په موخه وټاکو، نو راتلونکي پنځه نسلونه به مو هوسا ژوند ولري نو لږ تر لږه باید چوکاټ ته وګورو چې زموږ ځینې کړنې تر سل یا دوه سوه کلونو پورې مثبتې یا منفي اغېزې ولري.

**پوښتنه: د کرزي د نورو نیمګړتیاو تر څنګ ځینې خلک په کورني تړاو له واک څخه يې د ورونو ناوړه ګټه پورته کول هم یوه ستره نیمګړتیا بولي، ستاسو ورور ښاغلي حشمت غني هم ځینې وخت له رسنیو سره د ځینو ملي مسایلو په اړه داسې څرګندونې کړي چې خلک ترې خپه دي، ستاسو له بریالیتوبه وروسته به د ده موقف هم د کرزي د ورونو په څېر وي، که څنګه؟**

اشرف غني: زما ورور به زما د واك پر مهال په دولتي ادراو او یا هم د افغانستان په اقتصاد کې هېڅ ډول رول ونلري. خو د یوې خبرې یادونه اړينه بولم چې دغه کوم تور چې تا زما په ورور ولګوه دا یواځې ستا خبره ده، زه يې لا له دغه ډول څرګندونو څخه نه یم خبر.

**پوښتنه: ځینې خلك چې د تېرو څو لسیزو جګړو له امله ترې ولس خپه وو، کرزي يو ځل بیا واك ته ورسول، ستاسو دریز به څه وي؟**

اشرف غني: زما دریز به د ملي ګټو پر اساس وي. د افغانستان ستونزې بېخې ډېرې شوي دي، موږ په دې تېرو څلور کلونو کې شل کاله وروسته

غورځېدلي یوو. دا په احساساتي فیصلې نشي حل کېدی، په دې باید ډېر کار وکړو چې څرنګه ډېری خلك مثبتې خواته را ګرځولی شوو، خو یوه موضوع باید ښکاره وي له کومې ورځې چې زه د حکومت مشرتابه ته ورسېږم نو له قانون څخه د وتو په وخت کې به هر څوك چې وي له کلك غبرګون سره مخ کېږي. کوم اصول چې مې په ځان او کورنۍ بردم په ټولو یې باید کېږدم، خو بیا هم دا به زما فیصله نه بلکې د ولسي جرګې او بالاخره د لویې جرګې فیصله وي چې په تېر باندې ډېر وخت لګوو، تېر حسابونه یو طرف ته کوو یا دا چې راتلونکی جوړوو.

**پوښتنه: خو ځینې داسې څېرې وي چې په تېر کې ښه شالید نه لري او ممکن په راتلونکې کې ستونزې پیدا کړي او د اوسني حکومت یوه ستره نیمګړتیا په همدې کې ښکاري؟**

اشرف غني: معلومداره ده، خو سیاست د عشق غوندې نه دی چې څوك په چا مین شو او ورسره واده وکړي. د افغانستان مطرح خلك همدا دي، چې خلك یې پېژني. زموږ خبره به دا وي چې څرنګه د سیاست میدان پراخوو تر څو هغه خلك چې لاسونه یې د ولس په وینو نه دي ککړ او د ټولنې لپاره د یوې ښې پېرزوینې غوښتونکي دي، منځ ته راشي. په دې وخت کې له هغو خلکو سره چې ستونزې یې پیدا کړي دي، حساب کوو خو دا باید د قانون په چوکاټ کې تر سره شي، شخصي بڼه باید ونلري. خو یو ځل بیا باید دا وخت ورنکړل شي چې راتلونکي هم له موږ څخه واخلي.

**پوښتنه: په اوسني وخت کې طالبان د دولت له سترو وسلوالو مخالیفینو څخه دي خو دوی له شخص سره نه بلکې سیستم سره مخالفت لري، که تاسو واك ته ورسېږئ؛ نو له طالبانو سره به فاصلې لنډې او که نه لا به اوږدې شي؟**

اشرف غني: پوښتنه دا ده چې طالب څوك دی، د طالبانو د ډلې ډېری سرتېري بې روزگاره ځوان دی او هغه زما زوی دی، زه به دې ته ورته ځوانانو ته هر ډول اسانتیاوې برابرې کړم چې ها خوا لاړ نشي، خو هغه چې د القاعدې سره یو ځای کېږي او زما کور ورانوي، له هغو سره باید خپل دریز مالوم کړو.

**پوښتنه: یانې ستاسو په اند په اوسني دور کې، افغانستان کې د طالب د رامنځ ته کېدو یو ستر لامل بې روزگاري ده؟**

اشرف غني: بالکل، ډېری همداسي دي. په جنوب کې څلور اینجوگانو شپږ زره کسان سروې کړل او ټولو د طالب تعریف بې روزگاري وښوده.

**پوښتنه: لرو بر د لوی افغانستان یوه مهمه موضوع ده، ویل کېږي چې پخوانیو واکمنو او په ځانگړې توگه سلطنتي واکمنانو د خپلو نظامونو د ساتنې په موخه تر یو ځایه صرف نظر کړی و، په دې اړه به ستاسې دریز څه وي؟**

اشرف غني: د ډیورنډ کرښه د لویې جرگې مسئله ده. د شخص مسئله نه ده. خو لومړی چې موږ خپل کور ارام نکړو ها خوا نه شو ورتلی.

**پوښتنه: د همدې مسئلې په اړه مو ځانگړی نظر څه دی؟**

اشرف غني: زما لومړی مسوولیت دې خواته دی. تر هغې چې دا افغانستان جوړ نکړم ها خوا کوم مسوولیت نه لرم.

**پوښتنه: کله چې مو دې خوا خپل مسوولیت پر ځای کړ، بیا؟**

اشرف غني: بیا! بیا به هغه وخت غږېږو. دا مخکې له وخته خبره ده. دا د احساساتو خبره نه ده. دا اوس نه شي کېدی چې پر اس کېنو او په احساسانو وغږېږو. لومړی باید افغانستان جوړ شي او افغانستان ډېرې ستونزې لري. موږ باید خپل لومړیتوبونه مالوم کړو چې وکړای شو له هغو سره په دې مسئله وغږېږو. نن که دا افغان ها خوا لاړ شي مزدوري به کوي، زموږ زده کړې له هغو څخه کمې دي. افغانستان د جغرافیې محصول نه، بلکې د تاریخ محصول دی. زموږ مسوولیت دا دی چې افغانستان وساتو. وینه مو شریکه ده، له ګاونډیانو سره مو ډېرې وینې شریکې دي، باید د دولتونو پراخې همکارۍ منځ ته راشي چې دا کرښې د همکارۍ پر کرښو بدلې شي. کورونه په دې کرښو نه سره بېلېږي. نن ځاځی او منګل د امنیت له نظره ډېر سوکاله دي، دوی میرامشاه ته روغتون ته ځي. دا زموږ ستونزه ده، نو تر هغې چې ځاځی او منګل خپلو روغتیایي او نورو ستونزو د حل لپاره مېرامشاه ته ځي، موږ پر ها خوا باندې غږېدی نشو. موږ باید لومړی خپل لومړیتوبونه په دې باندې وڅرخوو چې د دې خوا هېڅ کس ها خوا ته د ستونزو د حل لپاره لاس اوږد نکړي.

**پوښتنه: بهرني فرهنګ او په ځانګړې توګه د ځينو ګاونډيو هېوادونو کلتوري يرغل اندېښنې پيدا کړي، اوسنې دولت يې په مخنيوي کې پاتې راغلی، په دې اړه به ستاسې تګلاره څه وي؟**

اشرف غني: لومړی خو بايد دا ووايو چې په پښتو ژبه کې يو ستر بدلون راغلی، په سلګونو شاعران او ليکوال لرو. په تېرو اووه کلونو کې په پښتو کې داسې ژوند پيدا شوی چې زه مطلق ايمان لرم چې دا پردی يرغل به کومه نتيجه ورنکړي او په خپلو موخو کې به کامياب نشي.

**پوښتنه: په دې نړدو کې د ايران، تاجکستان او افغانستان يو ګډه ټولنه جوړه شوې چې فارسي ژبی مثلث يې بولي، دا ښه خبره ده چې د ګاونډيو سره د ګډو ټولنو په جوړېدو ښې اړيکې ولرو خو د دې ټولنې په جوړېدو ځکه ډېری افغانان خپه دي چې هېواد يې پکې د فارسي ژبي هېواد په توګه پېژندل شوی دی او دا حقيقت نلري. د دې فارسي ژبي مثلث په اړه څه نظر لرئ؟**

اشرف غني: دري زموږ د تاريخ يوه برخه ده. احمدشاه بابا او خوشال بابا په دري شعر ليکلی، نو دا ژبه زموږ ده. ما د افغانستان په ادبياتو باندې يوه ليکنه کړې، د دري ډېری شعر او نثر د پښتنو لخوا ليکل شوی دی نو په دې اساس موږ له دري څخه ځان نشو بېلولی، که دې نه موخه دا وي چې موږ دې له خپل کلتور څخه بېل شو نو دا خو امکان نلري. بله خبره دا ده چې موږ دوه رسمي ژبې لرو(پښتو او دري) درېيمه رسمي ژبه په کليو کې ده. دا درې واړه توجه غواړي او دوه رسمي ژبې پانګه غواړي. نو په دې دواړو ژبو بايد دومره پانګه ولګول شي چې دواړه وده وکړي او

ویونکي یې د خپلو خپلو حقوقو په لرلو په دې خاوره کې ژوند وکړي. نو دغه هر څه باید په مساوي توګه ترسره شي، یوه باید له بلې لوړه ونه ګڼلی شي.

**پوښتنه: ډاکټر صیب پوښتنه همدلته ده چې دلته یوه له بلې لوړه ګڼل شوې او هغه چې ویونکي یې ډېر دي لرې پاتې شوې او افغانستان په نړیواله کچه د یو فارسي ژبي هېواد په توګه مطرح شوی دی؟**

اشرف غني: دا نړیواله کچه مهمه نه ده. افریقایي هېوادونه چې فرانسوي یې یوه ژبه ده، د فرانسوي ژبو هېوادونو په ټولنه کې راځي؛ خو د دې مانا دا نه ده، چې دوی یو دي، دا یواځې په هغه اړخ کې راځي په کوم کې چې له نورو سره ګډ وجوهات ولري. نو د توطیې تصور باید سړی ونکړي. له دې نه دا منظور نه دی چې افغانستان په یوه ژبه باندې بدل شو. دې خاورې هېڅ وخت یوه ژبه نه درلوده او هېڅ وخت به یوه ژبه ونلري.

**پوښتنه: له نورو کاندیدانو سره د ائتلاف په هکله څه نظر لرئ؟**

اشرف غني: د ائتلاف به څه موخه وي؟

**پوښتنه: د هېواد لپاره د وړ ولسمشر د ټاکلو یوه لار دا هم ده.**

اشرف غني: زه د هېواد لپاره لس کلن او له دې هم اوږدمهاله پلانونه لرم، نو معیارونه باید ښکاره شي چې په کوم معیار موږ مخکې روان یوو. نو د معیار په چوکاټ له هر چا سره خبرو کولو ته تیار یم خو که نور منظم

پلانونه ونلري او د جرګې په اساس سړی له خپلو نظریاتو څخه تېر شي، دا د ثواب لار نه ده.

**پوښتنه: که چېرې همداسې یو څوک وي چې ستاسو په شان پلانونه ولري نو بیا؟**

اشرف غني: دا خو فرضیه ده. په سیاست کې خو سړی په فرضیې نه غږېږي. ماته نوم واخلي څوك دي چې زه ورسره کېنم، که دا ډول پلانونه مو له نورو اورېدلي وي نو ووایاست. د بېلګې په توګه کرزی صیب، له کرزي صیب خو ما نه کوم پلان لیدلی، نه مې کوم مدیریت لیدلي او نه مې هم په کې د دې څرك لیدلی چې په راتلونکي کې به له اوس نه څومره توپیر ولري، دغه نوم مې ځکه واخیست چې مطرح دی. خلك ماته په جرګه راځي چې کرزي صیب ته تېر شه، نو دا کار خو زه نشم کولی.

**پوښتنه: د هغو کاندیدانو شمېر چې ممکن رایې یې ستاسو سره شریکې وي، یو څه زیات برېښي، نو څه فکر کوئ دغه زیاتوالی د نورو کامیابۍ ته لار نه هواروي؟**

اشرف غني: په دې باندې باید خبرې وکړو، جدي خبرې باید وکړو، خو لا وخت شته، زموږ موخه باید دا وي چې یوې نتیجې ته ورسېږو.

**پوښتنه: یانې تاسو له نورو سره خبرو ته تیار یاست؟**

اشرف غني: هو زه تیار یم او هېڅ افغان ته شرط نه لرم خو زما دریځ ښکاره دی. زه معیارونه لرم او معیار باندې خبرې کېدی شي.

**پوښتنه: د ټاکنو د وخت په اړه مو د دولت د پرېکړې مخالفت د هغو کسانو سره وکړ چې د ولس په نظر له تاسو سره د افغانستان د راتلونکي په اړه د یاد وړ فکري واټن لري، لامل یې څه و؟**

اشرف غني: لامل یې دا دی چې قانوني کړنې باید تر سره کړو.

**پوښتنه: نو دا قانون پورې څه اړه لري چې تاسو له هغو سره یو ځای د دولت پر خلاف خپل دریز اعلان کړئ؟**

اشرف غني: ګوره خبره دا ده چې زه له هغو سره په کوم ائتلاف کې نه یم راغلی، زه له هغو سره دې نتیجې ته نه یم رسېدلی چې له غبرګولي وروسته به څوك راځي. زه له هغو سره یواځې په یوه ګډه ملي خبره درېدلی یم چې باید د ټاکنو تاریخ په زمري کې وي. دا هغه دریز و چې پخوا یې هغوی مخالفت کوه او اوس یې له ما سره ومنله. که دا منو چې ټول افغانستان کې یوو نو دا باید زده کړو چې ځینې مسلې د خبرو له لارې حل کړو.

**پوښتنه: ستاسو له خبرو داسې برېښي چې تاسو له هغو سره نه بلکې، هغوی له تاسو سره یوځای شوي وو؟**

اشرف غني: هو، زه له هغو سره نه وم یو ځای شوی، بلکې هغوی له ما سره یوځای شوي وو.

**پوښتنه: د ملګرو ملتونو سرمنشیتوب ته مو ځان پخپله کاندید کړی و که له تاسو غوښتنه شوې وه؟**

اشرف غني: له ما غوښتنه شوې وه، لومړی د نړیوالو رسنیو له خوا غوښتنه وشوه، ځکه چې زه په دنیا باندې اخته وم. کله چې له دولت څخه ووتم او کله چې اغېزناکو او بې اغېزو دولتونو سره مخ کېدم، نو په دې اړه مې په ملګرو ملتونو او په نړیوال بانك باندې سخت اصلاحي نظریات درلودل، نو همدا لامل و چې له ما څخه د ملګرو ملتونو څوکۍ او د نړیوال بانك څوکۍ ته د کاندیدېدو غوښتنه وشوه. دا د یو اعتبار خبره وه.

**پوښتنه: خو تاسو بریالي نشوئ، لامل يې څه و؟**

اشرف غني: دا چې د افغانستان دولت زما لپاره په نړیواله کچه د کمپاین امکانات نه درلودل نو پاتې راغلم. دا ماته او افغانستان ته د ویاړ خبره وه خو ونشوه. ځکه چې له موږ سره امکانات نه وو، ښاغلي بانکي مون سره د کوریا غوندې ستر دولت امکانات ملګري وو خو زموږ یو سفارت او په ملګرو ملتونو کې زموږ استازي د مرستو لپاره هېڅ ډول هڅې ونکړې.

**پوښتنه: یانې افغان دولت له تاسو سره مرسته ونکړه؟**

اشرف غني: هو، پرته له کرزي صیب څخه. ځکه چې ولسمشر زه د افغانستان د یو رسمي کاندید په توګه وړاندې کړم او په دې برخه کې ترې مننه کوم.

**پوښتنه: که تاسو بریالي شوي وای؛ نو افغانستان ته به يې څه ګټه وه؟**

اشرف غني: افغانستان ته به يې ګټه دا وه چې ملګرو ملتونو به په افغانستان کې يو اغېز ناك رول لرلای، نو هم په افغانستان او هم په سيمه کې به د ملګرو ملتونو په هڅو کې ستر بدلون راغلی وای.

**پوښتنه: ځينې خلك وايي چې ډاکټر صيب دوه ګونی تابيعت لري او په همدې دليل تاسو د افغانستان لپاره يو وړ ولسمشر نه ګڼي؟**

اشرف غني: د ولسمشرئ د ټاکنو د کانديد په توګه به زه دوه ګونی تابيعت ونلرم، ځکه چې دا دقانون خلاف خبره ده او وروسته له هغې که ما وګټله که وبايلله، دوه ګونی تابيعت به ونلرم.

**پوښتنه: ځينې خلك ډاکټر صيب اشرف غني احساساتي بولي او له همدې امله يې زړه نه دی چې د ولسمشرتوب لپاره دې، ده ته رايه ورکړي؟**

اشرف غني: دا خبره په چوکاټ کې کېږدئ، لومړی په پوهنتون کې ما له نهه زره محصيلينو سره کار کړی، هلته له ما چا احساسات ليدلي دي؟ دويم دا چې د تېر کال له سرطان نه وروسته مې له لسګونو زره افغانانوسره په کور کې کتلي او همدا ډول کليو ته مې سفرونه کړي دي ايا د بېحوصلګۍ کوم اثار ليدل شوي دي. که خبره ماليې وزارت ته راشي نو خلك دې هغه چوکاټ ته نظر وکړي چې ما له چا سره راشه درشه درلوده. له يوې خوا د قانون مند حکومت راوستو غوښتنې کېدې، د زورواکو زور بايد ونه چلېږي، خلك بايد نور ونه ځپل شي، ګمرك بايد د ولايتونو په لاس کې نه وي. زه پرته له دې چې چاقو هم راسره وي، راغلم او دا ټول کارونه مې درته وکړل. ايا دا هر څه کېدل د تقوی او ايمان خبره وه که د

احساساتو، نو زه هیله کوم چې هېوادوال دې یو قضاوت وکړي. بل ما به هر سخت کار ته پخپله ځان مخکې کوه چې ولسمشر له خلکو سره په جنجال کې رانشي او وروسته له هغې چې ما دولت پرېښود نو ولسمشر له څومره خلکو سره په لانجه واوښود.

**پوښتنه: همدې ته ورته پوښتنه ده، چې ډاکټر صیب روغتیایي ستونزې لري؟**

اشرف غني: بالکل، ما دولس کاله پخوا سرطان تېر کړی، په لومړیو پنځه کلونو کې د سرطان د بیا راتلو گوابن ډېر وي خو له پنځه کلونو وروسته دغه گوابن له منځه ځي. دویم دا چې د دولت د دندې پر مهال زما بدن کې دردونه ډېر و، تاسو به هم په ټلویزون کې د مرکې پر مهال لیدلی اوسم چې لاس به مې ډېری وخت دلته (خپل ښي تشي ته یې اشاره وکړه) و، چې اخر کشف شو چې د غنمو سره مې حساسیت درلود نو نږدې څلور نیم کاله کېږي چې له غنمو مې روژه نیولی ده. اوس د خدای په فضل روغ او جوړ یم. خو په دې ټولو کلونو کې ما له څوارلسو تر شپاړسو ساعتونو پورې کار کړی دی. د دندو پر وخت زه خپل دردونو له دې نه یم اچولی چې کار دې پوره نشم کړای او یا دې سیمیز سفرونو له ما پاتې وي.

**پوښتنه: نو په شپه و ورځ کې د څومره کار کولو وعده ورکوی شئ؟**

اشرف غني: شپاړس ساعته.

**پوښتنه: که تاسو د کرزی پر ځای وای نو څه به کړی وای؟**

اشرف غني: لومړی کار به مې دا کړی وای چې شل کسان به مې روزلي وو چې زما ځای ونیسي، زما فکر به په دې اړه نه و چې زه دې باید تل پر څوکۍ کې اوسم، بلکې نور هم باید وړاندې شي او دې څوکۍ ته تیار کړای شي. جمهوري نظام یو شخصي نظام نه دی. بل دا چې یو ټیم به مې جوړ کړی و چې خلك وکړای شي په هرې ترخې مسلې پرته له دې چې وېدار شي پرې خبرې وکړي او یوې نتیجې ته ورسېږي. درېیم دا چې کار به مې اهلکار ته سپاره. څلورم دا چې په نوي نسل مې پانګه اچونه کوله چې ثابته شي چې موږ په راتلونکي باندې د فکر کولو قوت لرو او له یو نسل نه بل نسل ته د قدرت واګې وسپارو. پنځم په ولایتونو باندې، لکه څنګه چې مې د ملي پیوستون پروګرام کلیو ته جوړ کړ همدا ډول پروګرامونه به مې ولسوالیو او ولایتونو ته جوړ کړي وای، مرکزي اداره کې به مې په لوړه کچه اصلاحات راوستي وو، ځکه که هر کال مو درې وزارتونه سم کړي وای نو اوس به موږ ډېر وړاندې وای.

**پوښتنه: که په ټاکنو کې بریالي نشوئ نو په راتلونکي دولت کې به کار وکړئ؟**

اشرف غني: که کرزی صیب ولسمشر وي، نه.

**پوښتنه: لامل يې څه دی؟**

اشرف غني: زما او دکرزي صیب تر منځ د اعتبار پل نړېدلی خو په دغه حالت کې به زه خپل ټول نظریات له وطن سره شریك کړم خو پخپله به دولت کې نه اوسم.

**پوښتنه: له دې داسې څرګندېږي چې تاسو یوازې د ولسمشرۍ په چوکاټ کې کار کول غواړي او کنه کار نه کوئ؟**

اشرف غني: نه، داسې نه ده، خبره د اغېز ده.

**پوښتنه: یانې تاسو په دې باړ یاست چې نظر نورو دندو ته د ولسمشر په توګه به مو اغېز ښه وي؟**

اشرف غني: هو، ځکه چې ما څو کلونه په دې کار کړی چې څه ډول بېلابېل اړخونه سره یو شي. بل یو ولسمشر باید خپل نظر ولري. که د نورو د شعاع لاندې راشي نو د کرزي صیب غوندې به شي. ښه خبره دا ده چې د ملي ګټو لپاره باید نظریات شریك کړای شي خو سړی باید د رقیب په توګه ونه ګڼل شي خو له بده مرغه زموږ په خاوره کې دا صفت نشته.

**پوښتنه: یو څه نورو پوښتنو ته به راشو، لوستنه کوئ؟**

اشرف غني: هو ولې نه، د نورې لوستنې تر څنګ پښتو شعر او نثر ډېر لولم. ژبه هم ساتل غواړي او په دې توګه ښه ساتل کېږي. د خوشال بابا شعرونه مې ډېر خوښ دي او بار بار یې لولم.

**پوښتنه: چاپي رسنۍ هم لولئ؟**

اشرف غني: هو، په روان کې کال کې مې څلویښت مجلې لوستي دي.

**پوښتنه: پسرلی مجلې سره بلد یاست؟**

اشرف غني: هو، ولې نه. یوه له هغو مجلو څخه ده چې له پیله تر پایه یې لولم.

**پوښتنه: ډاکټر صیب مننه کوو چې موږ ته مو وخت راکړ.**

اشرف غني: نه هیله کوم، بریالی اوسې.



۲

## رمضان بشردوست:

**ډیورنډ نشته، تری اخوا د افغانستان اشغال شوی برخه ده.**

**خپره شوې: پسرلی مجله/ شپږم کال، پرله پسې اوومه ویشتمه گڼه ۱۳۹۰لمریز.**

**د ولسي جرگې له غړي ډاکټر رمضان بشردوست سره مو د ډیورنډ، د افغانستان د اوسنیو سیاسي حالاتو او د هغه د شخصي او سیاسي ژوند په هکله مرکه کړې. که څه هم د ښاغلي مورنۍ ژبه پښتو نه ده، پر یو څه ټکنی؛ خو پوهېدونکې پښتو یې ښې خبرې کولې.**

**ذبیح الله احساس**

## پېژندنه:

ډاکتر رمضان بشردوست د محمد علی زوی، په ۱۳۴۰ل، د غزني ولايت په قره باغ ولسوالۍ کې زېږېدلی دی. لومړنۍ او منځنۍ زده‌کړې يې د غزني ولايت په مقر او قره باغ ولسواليو او د فارياب ولايت په مېمنې ښار کې پای ته رسولي دي.

په ۱۳٦۸ل، کې يې د گرونوبل ښار له پوهنتون څخه د حقوقو او سياسي علومو په برخه کې ماستري ترلاسه کړې ده.

په ۱۳٦۹ل، يې د پاريس په ژان مونی پوهنتون کې په ديپلوماسي کې خپلو زده‌کړو ته دوام ورکړ او د لوړو زده‌کړو تخصصي ديپلوم يا مافوق ماستري يې ترلاسه کړه.

بشردوست له ۱۳۷۵ل تر ۱۳۸۲ل، پورې د پاریس په بېلابېلو پوهنتونونو کې د استاد د همکار په توگه د حقوقو، سیاسي علومو او دیپلوماسۍ مضمونونه تدریسول او د پاریس له دارلوکالهوو سره یې هم همکاري کوله.

په ۱۳۸۳ل، د حامد کرزي په حکومت کې د پلان وزیر وټاکل شو. وروسته له هغه چې نوموړي له ۲۳٦۵ انجوگانو څخه ۱۹۳۵ انجوگانې لغوه اعلان کړې، له دولتي او غیر دولتي غبرگونونو سره مخ شو او په همدې یې له وزارت څخه استعفا وکړه. په ۱۳۸۳ل، یې د کاپیسا ولایت په البیروني پوهنتون کې د حقوقو او سیاسي علومو او شرعیاتو پوهنځي کې تدریس پیل کړ. په ۱۳۸۴ل، یې په پارلماني ټاکنو کې برخه واخیسته او وکیل شو، چې تر ننه، ۱۳۹۵ل، پورې په ولسي جرگې کې د کابل د خلکو استازيتوب کوي. همداراز په افتخاري توگه په البیروني پوهنتون کې درس ورکوي.

سرچینه:

http://ramazanbashardost.com/spip.php?article1

## مرکه:

**پوښتنه: د افغانستان په اوسني حالت کې چې لا هم تر یو ځایه بحراني بلل کېږي، د ګاونډیو هېوادونو په ځانګړې توګه د پاکستان او ایران د لاسوهنو اغېز څومره دی؟**

رمضان بشر دوست: د لوی خدای جل جلاله په نامه او د شهیدانو په یاد، زما تاودې سلامونه ستاسې د مګزین، مګزین به وایوو، څه به وایوو؟

-: مجله.

رمضان بشر دوست: ستاسې د مجلې درنو لوستونکو ته سلامونه.

زه خپله په دې عقیده یم، هغه څه چې موږ په افغانستان کې وینو، مسوولیت یې نه د پاکستان دی، نه د ایران دی، نه د امریکې، نه د شوروي او نه د نورو هېوادونو دی. اساسي مسوولیت د افغانستان د مشرانو دی،

ځکه چې زما په نظر پاکستانیان، ایرانیان، امریکایان، شوریان او یا نور خارجیان نشي کولی په افغانستان کې لاس ووهي؛ تر هغې چې زموږ مشران د دوی غلامي ونه مني او د دوی د لاسوهنې وسیله نشي. د مثال په توګه، که په کور کې یوه لور بد کار کوي؛ نو مسوولیت یې په همسایه ګانو نه دی، د دې مسوولیت په پلار او د کور د مشر پر غاړه دی. په دې کې تردید نه دی، چې امریکا غواړي په افغانستان کې لاس ووهي، پاکستان هم غواړي، فرانسه هم غواړي، ایران هم غواړي، ټول هېوادونه غواړي، هغه وخت چې د دوی ملي ګټې دا غوښتنه وکړي؛ خو له بده مرغه دا زموږ مشران چې و، که پرچم او خلق مشران و، که مجاهدین مشران و، که طالبانو مشران دي، که د شولیانو مشران دي او که نور مشران دي، دوی د خپلو شخصي ګټو لپاره د خارجي هېوادونو وسیله کېږي، چې دوی زموږ په خاوره څه کول غواړي هغه عملي وکي.

**پوښتنه: ستاسو خبرې په خپل ځای سمې دي؛ خو د سیمې او نړۍ د سیاست له مخې د یو افغان په توګه څه فکر کوئ، چې په سیاسي لحاظ د پاکستان او ایران لاسوهنې زموږ د هېواد په بربادۍ کې څومره اغېز لري؟**

رمضان بشر دوست: دا په سیاست کې هېڅ مانا نه لري، چې موږ له یو ګاونډي وغواړو، چې له موږ سره دې ښه ګاونډیتوب ولري. یا په سیاست که وغواړو، چې یو سړی دې له موږ سره صادق وي، ځکه چې که ایرانی مشر دی، که پاکستانی دی، که امریکایی او فرانسوی دی، هغوی خپلې ملې ګټې په نظر کې لري او دا نه ګوري، چې دې کې صادقانه دي که نه.

د پاکستان ملي ګټه چې په هر څه کې وي، نو غواړي، چې عملي يې کړي. زه خو په دې عقيده يم، چې پاکستان فکر کوي، چې نن په افغانستان کې د ايران، مسکو او د دهلي خلك په حکومت کې دي او له همدې امله افغانستان د پاکستان دښمن بولي. که سل ځله کرزی ووايي، که فهيم او خليلي ووايي، چې پاکستان زموږ ورور دی؛ هېڅ پاکستانی مشر دا نه مني او نشي کولی، چې ويې مني؛ نو د همدې لپاره پاکستان حکومت نه غواړي، چې افغان حکومت ارام وي، په سوله کې وي. ځکه چې هغه په دې عقيده دی، چې که په افغانستان کې جګړه نه وي، که په افغانستان کې ارامي وي، که په افغانستان کې سوله وي، نو په اوس وخت کې به د هند يوه اساسي وسيله وي، د مسکو او ايران وسيله به وي، چې همدا افغانستان تربيه کوي او په پاکستان کې ستونزه جوړوي. په هغه وخت کې، چې د ملاعمر حکومت دلته و، نو ايرانيانو، هنديانو او مسکو دا فکر کوه، چې دلته د سعودي عربستان او پاکستان د پلويانو حکومت دی، پيسې ورکوي او جګړه روانه ساتي. زه په دې عقيده يم، چې په افغانستان کې دې داسې ځوک قدرت ته ورسېږي، چې د هغه سياسي قبله کابل وي، نه چې تهران، پاکستان، مسکو، رياض او دهلي؛ نو بيا ډېر امکان لري، چې زموږ ګاونډيان هم پوه شي، چې افغانستان د دوی په زيان نه، بلکې د دوی په ګټه دی.

**پوښتنه: تاسو ووېل، چې پاکستان په دې وېره کې دی، چې په افغانستان کې به داسې يو حکومت راشي، چې هغه به د هند سره نږدې پاتې شي او**

**د پاکستان په خلاف به وکارول شي، یوازې همدا وېره ده، که نور اړخونه به هم ولري؟**

ډاکټر رمضان بشر دوست: دا وېره نه ده، دوی په دې عقیده دي.

**پوښتنه: یوازې همدا یوه عقیده، که بل لامل یې هم شته؟**

رمضان بشردوست: د هرې خاورې سیاستمدار د وخت او شرایطو په کتو سره خپل سیاست جوړوي. هغه وخت، چې ملاعمر د افغانستان په قدرت کې و، د پاکستان سیاست دا و، چې غوښتل یې د افغانستان له لارې مرکزي اسیا هم ونیسي او له همدې لارې پر مشهد هم کنټرول ولري. یو وخت داسې و، چې افغانستان پښتونستان غوښته؛ خو یو وخت راغی، چې پاکستانیانو کابل غوښته؛ نو همدا توپیرونه دي. یو وخت پاکستان فکر کوي، چې افغانستان د دوی د دښمنانانو په لاس کې دی او یو وخت فکر کوي، چې په افغانستان کې د دوی دوستان دي؛ نو بیا هڅه کوي، چې د دغه هېواد له لارې په نورو هېوادونو هم تاثیر ولري. اوس زما په عقیده، پاکستان چې له طالبانو سره مرستې کوي دوی ګوري، چې افغانستان له هند ((پلوو)) سره دی، افغانستان له تهران ((پلوو)) خلکو سره دی او د مسکو خلکو په قدرت کې دی...

**پوښتنه: ډاکټر صیب ښښنه غواړم، خبره مو نیسم، که لږ یې روښانه کړئ، چې افغانستان څه ډول د هند په لاس کې دی؟**

رمضان بشردوست: افغانستان ځکه د هندوستان په لاس کې دی، چې دا ستراتيژيك تړون مو وليد، چې ورسره يې امضا کړ. دا هندي اييجينران چې دلته کار کوي. هندي شرکتونه، چې دلته کار کوي.

**پوښتنه: بشر دوست صيب، نو پاکستاني انيجينران او شرکتونه خو هم دلته کار کوي!؟**

رمضان بشر دوست: بالکل، ايراني هم دلته کار کوي. هغه ځای، چې پاکستاني پکې کار کوي، د ISI (د پاکتسان ځارگره اداره) تر کنټرول لاندې دی. دوی پوهېږي، چې دلته څه کېږي؛ خو پاکستان په دې عقيده دی، چې د هندوستان کونسلگري په ننگرهار کې د بزنس (سوداگري) کونسلگري نه ده، دا د هندوستان د استخباراتو يو مرکز ده.

**پوښتنه: دا خبره ډېره سمه راته نه ښکاري، کونسلگري خو وي د دې لپاره، چې د خپل هېواد استازيتوب وکړای شي، د خپل هېواد اړيکې ټنيگې او وځاري او د هندوستان تر څنگ پاکستان هم قونسلگرۍ لري؛ که ترې استخباراتي کار اخلي؛ نو دوی خو هم غلې نه کېني؛ نو دوی بيا ولې داسې گومان کوي، چې افغانستان له دوی نه هندوستان ته ډېر نږدې دی؟**

رمضان بشردوست: دوی وايي، چې د هندوستان او افغانستان تر منځ به ډېر نه ډېر پنځه سوه سوداگر وي او د دومره سوداگرو لپاره دا پکار نه ده، چې په هرات کې دې هم کونسلگري ولري، په قندهار کې دې هم ولري او په ننگرهار کې هم. دوی وايي، چې دا کونسلگري هسې نوم دی، په

اصل کې د هندوستان استخبارات دلته کار کوي. یا د ایرانیانو کونسلګري، چې دلته ده. زه نه وایم، چې دا حیقیقت لري که نه یې لري؛ خو دوی وایي، چې خلیلي، چې د ولسمشر دویم معاون دی، هغه مستقیم له ایران څخه دستور اخلي، د جهاد پر مهال او همدا اوس هم هلته دفترونه لري، هلته دوی تمویل شوي دي، د سپاه پاسداران په سلګونو سندونه لري او په عقیده کې هم دا خلیلي احمدي نژاد ته ډېر نږدې دی، که زرداري ته!؟ دوی په دې عقیده دي، یا داسې فکر کوي، چې کرزی صیب خپلې زده کړې په هندوستان کې کړي دي؛ نو د هغه ځای د استخباراتو سړی ده. د همدې لپاره د کرزي پلار په پاکستان کې وژل شوی او د پاکستان استخبارات په دې پوهېږي. په سیاست کې دا مهمه نه ده، چې کوم شی واقیعت لري، په سیاست کې دا مهمه ده، چې سیاسمتدار فکر کوي، چې دا یو واقیعت دی.

**پوښتنه: تاسو د یو افغان سیاستمدار په توګه د پاکستان دغه ډول انګېرنه څه ډول ګڼئ؟**

رمضان بشردوست: د افغانستان ګټه په دې کې نه ده، چې مشران یې له پاکستان سره وي، یا د هندوستان، فرانسه، ایران، مسکو یا کوم بل هېواد سره وي. د افغانستان  او ګاونډیانو ګټه یې په دې کې ده، چې د افغانستان مشر، د ولسمشر مرسیتالان، وزیران او وکیلان له کابل سره وي، له افغانستان سره وي. د همدې لپاره زه په دې عقیده یم، چې تر کومې چې کرزی، فهیم او خلیلي په قدرت کې وي، پاکستان په دې پیسې لګوي، چې دا حکومت باید له منځه یوسي. هغه وخت چې ملاعمر بیا ارګ

ته راځي، بیا هندوستانیان، مسکو او ایرانیان خپل پیسې لګوي او خپل خلك هم دلته استوي، سپاه پاسداران دلته استوي، ځکه چې هغوی نه غواړي، چې ملاعمر دلته په حکومت کې وي. هغوی په دې عقیده دي، چې دا د پاکستانیانو سړی دی. زما په فکر موږ باید یو داسې سړی په قدرت کې ولرو، چې ټول ګاونډیان په دې پوه شي، چې دا د افغانستان سړی دی، د بلې خاورې سړی نه دی. بل دا مسئله ده، چې په پاکستان، ایران او هندوستان کې داسې خلك دي، چې هغوی هم غواړي، چې په افغانستان کې تاوتریخوالی وي.. د مثال په توګه دا اوس د ایران مشران ایرانیانو ته وایي، چې تاسې صبر وکړئ، تاسې مظاهره ونه کړئ، ځکه چې موږ محاصره شوي یوو، امریکایان له تاسې نه ګټه اخلي.

بل دا دښمني جوړول د حاکمانو په ګټه هم ده. د مثال په توګه هندوستان د یو بیلیون ډالر په بیه له فرانسې جنګي الوتکې اخلي. که د هندوستان خلك پوښتنه وکړي، چې موږ د ډوډۍ وس نه لرو او تاسو طیارې اخلئ، نو مشران یې ورته وایي، چې ولې تاسو وطن دوست نه یې؟ که موږ دا طیارې وانخلوو، بیا له پاکستان سره څه وکړو!؟ هغوی زموږ دښمن دي.

نو زه په دې عقیده یم، چې د ایران مشران، د پاکستان مشران، د مسکو مشران او د هندوستان مشران غواړي، چې په افغانستان کې تاوتریخوالی وي، ځکه چې دا تاوتریخوالی د هغوی په ګټه هم دی.

**پوښتنه: ډیورنډ څه ډول پېژنئ؟**

رمضان بشردوست: ډیورنډ زموږ کور دی، زموږ خاوره ده.

**پوښتنه: ډیورنډ کربښه!؟**

رمضان بشردوست: ډیورنډ زما لپاره نشته، ځکه چې له دې اخوا یو وخت زما بیرغ په اهتزاز و. زموږ خاوره ده، زموږ کور دی. دوی له موږ څخه اخیستی دی؛ خو هر ډول چې یې نیولی دی، بېرته باید موږ ته راکړل شي. دا د افغانستان یوه برخه ده. اخوا امو ته وګورئ، چې لس کیلومتره زموږ خاوره کې راغلی دی. اخوا ازبکستان او تاجکستان زموږ خاوره لاندې کړې ده. زه چې کله د پلان وزیر وم، قرقین ولسوالۍ کې د امو سیند غاړې ته تللی وم. خلکو راته ویل، چې بشردوست صیب له سینده پورې چې ګورې هغه زموږ خاوره ده؛ خو اوس پکې د ازبکستان عسکر دي. هلته یوه زړه کشتۍ ولاړه وه. ما کړه، چې اخوا زموږ سیمه ده؛ نو راځی چې لاړ شوو. بیا ولسوال، امنیه قومندان او خلکو راته وویل، چې اخوا مه ځه، چې هغوی ډز کوي. ما ورته وویل، چې زما وینه؛ خو د امین لوګري او د میوند د ملالې له وینې باارزښه نه ده. بیا زه اخوا لاړم، پخپله خاوره مې چکر وهه؛ نو ازبکانو غوښتل، چې پر ما ډز وکړي؛ خو مخکې له ډز کولو یې له خپل مرکز څخه دستور غوښته، چې دلته یو کس راغلی او وایي، چې د افغانستان یو وزیر دی او زموږ پر خاوره قدم وهي. دوی بیا زموږ له خارجه وزرات سره تماس نیولی و او خارجه وزیر د کرزي دفتر ته ویلي و. لږ وخت وروسته د سوریا ټیلفون له لارې ماته زنګ راغی. کرزي صیب ویل: ولې موږ ته ستونزه خلقوې، د نورو په خاوره کې ګرځې.

ما ورته وویل، چې دا زموږ خاوره ده، د امو سیند اوبه دې خواته راغلې دي او دا زموږ خاوره ده.

نو زما په عقیده پر هغه خاوره، چې یو وخت د سلطان محمود غزنوي او احمد شاه بابا بیرغونه جگ و، هغه زموږ خاوره ده. یوه ورځ که خدای جل جلاله ماته قدرت راکړي، زه غواړم چې بېرته د افغانستان برخه شي.

**پوښتنه: بشردوست صیب، د پنجدې او مشهد خبرې په سیاسي لحاظ یو څه توپیر لري، هغه زموږ مستعمرې وې خو له ډیورنډ اخوا له موږ پرې شوې سیمې زموږ خاوره وه؛ نو کله چې د افغانستان د جوړېدو په اړه فکر کوی، خیال مو تر پېښور او اټکه ځي او که نه؟**

رمضان بشردوست: ولې نه، په پسرلی کې زه یو جوړ چپلۍ پښو کوم، چې دا چپلۍ په پېښور کې جوړ شوي دي. ځینو بې خبرو افغانانو ماته ویل، چې دا چپلۍ؛ خو په پاکستان که جوړ شوي دي؛ نو ما ورته ویل، چې دا پاکستانی چپلۍ نه ده، دا د افغانستان چپلۍ ده، ځکه چې دا په پېشور کې جوړ شوی ده او پېشور زموږ خاوره ده او زموږ خاوره دې پاته شي. هغه خلك چې هلته ژوند کوي افغان ده او افغان دې پاته شي. دا چې یو خاص حالت راغلی و او د افغانستان یو مشر دا خاوره خرڅ وکړ؛ نو موږ باید دا خاوره بېرته خپل وکړو.

**پوښتنه: بشردوست صیب، ستاسو او د لوستونکو د معلوماتو په موخه له نېکه مرغه د وروستنیو تاریخي شواهدو له مخې ویلی شو، چې د ډیورنډ کرښې په اړه هېڅ افغان مشر (دا تاسو چې چاته اشاره وکړه، امیر عبدالرحمان خان) ډیورنډ کرښه لاسلیك کړې نه ده، دا یوازې خیالي او تپل شوې کرښه ده.**

**بیا هم ډاکټر صیب، ستاسو فکر د یو رښتیني افغان فکر دی. تاسو سره د لوی افغانستان فکر دی او د ستایلو وړ خبره ده.**

**ډاکټر صیب! پنجابیان فکر کوي، چې که چېرې افغانان د سولې تر سیوري لاندې پرمختګ وکړي او سبا د ډاکټر رمضان بشردوست په څېر ولسمشر ولري؛ نو له ټولو لومړی به ورسره د ډیورنډ د کرښې حساب کوي؛ نو چې زموږ د هېواد د بربادۍ ټکی ډیورنډ دی؛ نو ولې یې یو طرفه کوو نه، ولې پارلمان په دې هکله فکر نه کوي، ولې سیاسي ګوندونه غلي دي، ولې ولسمشر ګام نه پورته کوي، یا دې خپل هېواد بشپړ کړي او یا دې ورسره دغه تپل شوې کرښه ومني!؟**

رمضان بشردوست: له بده مرغه ډیورنډ خو د افغانانو مشرانو منلی دی. کرزی صیب ډیورنډ د پاکستان یوه برخه بولي. که ډیورنډ یې د پاکستان یوه برخه نه ګڼلی؛ نو پاکستان ته یې سفر نه کوه. پاکستانیانو ته یې ورور نه ویل، د پاکستان سفارت یې دلته نه منه...

**پوښتنه: خو څه موده وړاندې ولسمشر کرزي له رسنیو سره په خبرو کې وویل، چې هېڅ افغان ولسمشر ډیورنډ نه دی منلی او دی یې هم نه شي منلی!؟**

رمضان بشردوست: نو چې داسې ده، بیا دې نو د پاکستان سفارت وتړي، ځکه چې دوی اشغالګر دي. دوی زموږ خاوره اشغال کړې ده. زه په دې عقیده یم، چې موږ د ډیورنډ د کرښې په اړه ډېر منافقت کوو، ډېر تظاهر کوو او هغه څه چې موږ وایوو، په عمل کې یوه افسانه ده. موږ وایوو، چې نجیب ځکه وژل شوی، چې هغه د ډیورنډ کرښه نه منلو؛ خو په عمل

کې هغه هم منلې وه، ځکه چې پاکستان دلته سفارت درلود، هغه سره یې اړیکې درلودې، په رسمیت یې پېژاند. هېڅ وخت یو سړی چې نه غواړي، یو اشغالګر په رسمیت وپېژني؛ نو هغه ته په خپل خاوره کې سفارت نه ورکوي. زه په دې عقیده یم، چې ټولو افغان مشرانو ډیورنډ د یو سرحد په توګه منلی دی، ځکه چې دوی پاکستان په رسمیت پېژندلی دی. پاکستان ته تګ راتګ کوي، حتی ولسمشر داود خان، چې لومړی یې دا مسله پورته کړه، بیا د ده په شخصي ګټو کې بدلون راغی او له پاکستان سره نژدې شو او پښتونخوا ټول مشران، چې د کابل په مېلمستون کې و، له کابل څخه یې ورك کړل او بیا هماغه وه، چې ذولفقار علي بوټو او ضیاالحق دلته سفرونه وکړل؛ نو زما په نظر هغه چې موږ د ډیورنډ کرښې په اړه وایوو دا عملي بڼه نه لري.

د پاکستانیانو سیاست په دوه دورو کې وېشلی شوو. یوه دوره ده، چې د دوی ملګري د افغانستان په قدرت کې دي نو په دې وخت کې دوی فکر کوي، چې افغانستان خو لري؛ نو باید ایران او مرکزي اسیا هم خپله کړي، لکه څنګه چې طالبانو دغسې پلان درلود، چې تاجکستان ته ولاړ شي، ازبکستان ته ولاړ شي. هغه وخت چې مسعود ترور شو، د طالبانو غټ غټ قومندانان په شمال کې یو ځای شول او دوی پلان درلود، چې باید مخکې ولاړ شي.

بل هغه وخت، چې د پاکستان دښمنان د افغانستان په قدرت کې وي؛ نو دوی هڅه کوي، چې د افغانستان خاوره د دوی پر ضد زیاته استعمال

ونشي؛ نو همدا ده، چې په افغانستان کې د قدرت د خاوندانو پر بنسټ د دوی سیاست بدلون کوي.

**پوښتنه: ډاکټر صیب، تاسو وویل، چې ولسمشر کرزي او نورو مشرانو ډیورنډ منلی دی، ځکه چې پاکستان یې په رسمیت پېژندلی دی؛ نو که تاسو ولسمشر شوي وای؛ نو تاسو به پاکستان په رسمیت نه پېژاند!؟ ځکه چې تاسو مخکې وویل، چې ډیورنډ تاسو ته د منلو وړ نه دی او له ډیورنډ اخوا سیمه تاسو د پاکستان لخوا د افغانستان اشغال شوې خاوره ګڼئ؟**

رمضان بشر دوست: له پاکستان او ایرانیانو سره به زموږ اړیکې دا وې، چې دوی باید زموږ خاوره بېرته راکړي، کنه موږ له هغوی سره نه سیاسي اړیکې لرو، نه دیپلوماتیکې اړیکې لرو او نه پرېږدو، چې په کابل کې یې په خپل سفارت کې د دوی بیرغ پورته شي، ځکه چې دوی اشغالګر دي. موږ نشو کولی، چې له اشغالګر سره اړیکې ولرو.

**پوښتنه: که په خبرو دا مسئله حل شوې نه وای؛ نو بیا!؟**

رمضان بشردوست: نو بیا هغه وخت لپاره باید موږ یو باقدرته هېواد جوړ کړو، هم له اقتصادي اړخه، هم له نظامي اړخه او هم له سیاسي اړخه. که پاکستان دی، که ایران او که نور هېوادونه دي، چې د دوی حکومت بله لاره ونه لري. دوی باید په عمل کې بله لاره ونه لري، چې زموږ خاوره لا هم په خپل لاس کې ونیسي.

**پوښتنه: ډاکټر صیب لږ بل لوري ته ځم، تاسو د ولسمشرۍ راتلونکو ټولټاکنو کې ځان کاندیدوئ!؟**

رمضان بشردوست: اوس کوم هوډ نه لرم، ځکه زه نه پوهېږم چې ټاکنې به وي که نه وي. په څه حالت کې به وي، شرایط به څه وي...

**پوښتنه: که داسې فکر وکړو، چې شرایط سم وي!؟**

رمضان بشر دوست: انشاالله که شرایط سم و  او خلکو ته د ټاکنو حق ورکړل شو؛ نو ولې نه.

**پوښتنه: نو که تاسو یې وګټۍ او ولسمشر شئ؛ نو د هیوروند پر وړاندې به مو لومړی عمل څه وي؟**

رمضان بشر دوست: لومړی عمل به مې د دېخوا خاورې لپاره وي، چې درې څلور لوی بندونه جوړ کړو...

**پوښتنه: خو پاکستان دې نه پرېږدي، ایران دې د هلمند د اوبو په موخه د بندونو د جوړېدو پروژې شنډوي!؟**

رمضان بشر دوست: که زه ولسمشر شم د احمدي نژاد پلار نه شي کولی چې زما مخه ونیسي. ځکه چې که هغه کولی شي زما اینجینر ووژني، که هغه کولی شي، زما وزیر ووژني؛ نو زه هم کولی شم د هغه وزیر ووژنم، زه هم کولی شم د هغه انیجینر ووژنم. دا احمدي نژاد یا زرداري خو په اسمان کې ژوند نه کوي. هغه وخت چې موږ یو وطن دوست ولسمشر ولرو، زه په دې عقیده یم، چې زر تنه کمانډو سره کولی شي، چې د هغوی

د مداخلې مخه ونیسي. نو هغه وخت بیا زرداري او احمدي نژاد له ځانه پوښتنه کوي، چې که چېرې زه دا سړی ووژنم؛ نو دی هم کولی شي، چې ما ووژني. زرداري او احمدي نژاد یا نور ځکه په افغانستان کې لاس وهي، چې هغوی باور لري، چې دا خاوره یتیمه ده؛ څوك نشته چې د هغوی پر مخ ودرېږي. پاکستان ځینې خلك روزي دلته راځي او د افغانستان بچی یتیم کوي؛ نو موږ نشو کولی، چې د زرداري بچی یتیم کړو!؟ هغه خو څه پر اسمان ژوند نه کوي؟

**پوښتنه: ډاکټر صیب! که حالات همداسې و، لکه تاسې چې پر کرزي تور ولګوه، چې په دوره کې یې پاکستان او ایران ته د لاسوهنې پراخ ډګر جوړ دی او دی یې مخه نه نیسي؛ نو بیا؟**

رمضان بشر دوست: که زه د کرزي پر ځای کېنم او د احمدي نژاد نه معاش واخلم او زما ځینې مشران د پاکستان له ISI نه معاش واخلي؛ نو زه هم نشم کولی، چې دا خاوره جوړه کړم. هغه وخت موږ کولی شو، چې دا خاوره جوړه کړو، چې یو واقعي افغان دلته په حکومت کې وي او هغه د نورو د لاسوهنو مخه ونیسي.

**پوښتنه: دا واقعي افغان به څوك وي، د یو کس نوم راته واخلئ؟**

رمضان بشردوست: په زرګونو شته؛ خو موږ یې نه پېژنو. د مثال په توګه، په پارلماني ټاکنو کې له کابل نه داسې ډېر خلك نوماند و، چې واقعا افغانان وو، وطن دوست هم و، تحیصلات یې هم کړي وو، له دې خاورې سره یې مرستې هم کړې دي؛ خو له بده مرغه دوی شهرت نه لري. په

رادیو چا نه دي اوریدلي، په تلویزون چا نه دي لیدلي، دوی کومه غټه غونډه نشي جوړولی، ځکه چې پیسې نه لري، چې پلو چلو ورکړي. دې دومره خلکو چې ماته رایه راکړه، د دوی معیار ملي معیار و. نه یې زه لیدلی وم، نه یې مانه پیسې اخیستې وې، نه یې مانه کومه توقع درلوده. نو ځکه وایم چې که ځینو خراب کړی؛ نوپاتې بیا سم خلك دي، وطن دوست دي. زه په دې عقیده یم، چې په پښتانه کې، په تاجك کې، په ازبك کې، په هزاره کې او په نورو قومونو کې ډېر داسې خلك شته، چې تحصیل یې کړی او له وطن سره مینه لري؛ خو هغوی ته څوك چانس نه ورکوي.

**پوښتنه: داسې فکر هم کېدی شي، چې بشردوست یوازې خپل ځان ته صادق افغان وایي او نور ټول ورته غداران برېښي؟**

رمضان بشردوست: زه نه وایم، چې یوازې زه یې کولی شم؛ خو کرزی صیب یې نه شي کولی، ځکه چې دا پخپلو کارونو بوخت شوی دی. هغه وخت چې دی باچا شو، په شمال کې دوه زره طالبان ووژل شول. دا یې نه شي کولی، ځکه چې دا د خپلې چوکۍ قرباني نه ورکوي، ډارېږي. هغه کس کولی شي، چې واقعا خپله څوکۍ قرباني کړي. ما عمل کې ثابته کړه، چې د څوکۍ سړی نه یم، نه ډارېږم او په خپل نفس حاکم یم. ځینې خلك فکر کوي، چې د بشردوست صیب نفس کباب نه غواړي، نه زما نفس هم کباب غواړي... ولې نه. زما نفس هم غواړي، چې په دې ژمي کې ښه بوټ ولرم، زما نفس هم غواړي، چې یو لاینکروزر موټر ولرم، نرمې څوکۍ یې وي، د پاریس عطر پکې وي...

**پوښتنه: په دې ورسیتو کې له بده مرغه د دې واړه افغانستان د تجزیې خبرې کېږي، تاسو څه فکر کوئ؟**

رمضان بشردوست: افغانستان خو په عمل کې همدا اوس هم تجزیه دی.

**پوښتنه: خدای مه کړه.**

رمضان بشردوست: نه په عمل کې. لس کاله مخکې هم تجزیه و، په دې کابل کې په هره کوڅه کې یو سرحد و. دې خوا د هزاره گانو مشرانو واك و. دوی حکومت درلود، دوی پیسې هم چاپ کړې وې. اخوا حزب تنظیم حاکم و، بل خوا جمیعت تنظیم حاکم و. که تاسو په هغه وخت کې د دېمزنگ نه د کابل نورو سیمو ته تلئ؛ نو دا داسې خبره وه، لکه له یو هېواد نه چې بل هېواد ته ځئ. په شمال کې یو ډول پیسې وې، په کابل کې بل ډول پیسې وې او په نورو ځایونو کې بل ډول. په عمل کې خو افغانستان هماغه وخت تجزیه شوی و. نن هم زما په نظر افغانستان په عمل کې تجزیه دی.

**پوښتنه: نن څه ډول!؟**

رمضان بشردوست: هغه هوډ چې عطا محمد په مزار کې نیسي، د کرزی صیب پلار نه شي کولی، چې هغه ته ووایي، دا مه کوه. یا هغه هوډ چې په پکتیا کې د پکتیا والي همدرد نیسي، یا یې په بامیان کې د بامیانو والي نیسي. دوی خو ملي گټې، ملي پالیسي او ملي ارزښتونه هېڅ وخت په نظر کې نه لري. تاسو په امریکې کې، چې یو فدرالي نظام دی، یو ایالت نشی پیدا کولی، چې گورنر یې له ولسمشر څخه زیات صلاحیت ولري او د

مرکز فرمانونه ونه مني. که کرزی صیب سل فرمانونه ورکړي، د عطا محمد نور لپاره یو نخود ارزش نه لري. همدارنګه که کزری سل فرمانونه ورکړي، د بامیانو د والي لپاره ارزش نه لري. ځکه چې هغه په خپله په دې خاوره کې باچا دی. مقرر شوی، خو په زور مقرر شوی، پیسې هم ورته له بل ځایه راځي؛ نو هغه څه چې دوی غواړي په خپل ولایت کې یې وکړي، کولی یې شي.

**پوښتنه: یو شمېر داسې ستونزې به ممکن وي؛ خو بیا هم افغانستان که کمزوری دی، که خراب دی، که هر ډول دی؛ یو مرکزي دولت لري، خو په رسمي چوکاټ کې په حقوقي لحاظ؛ خو دا وړوکی افغانستان لا هم یو دی او سره بېل نه دی!؟**

مضان بشردوست: هو په حقوقي او تبلیغاتي چوکاټ کې موږ یو خپلواك هېواد یوو؛ خو په عمل کې موږ خپلواك هېواد نه یوو.

**پوښتنه: خیر د همدې حقوقي ارزښت پر بنسټ خبرې کوو، چې ولې ځینې کړۍ د تجزیې خبرې کوي، هدف یې څه دی؟**

مضان بشردوست: ځکه چې د افغانستان مشران هر وخت خپلې شخصي ګټې په نظر کې نیسي. هغه وخت چې دوی د خپلو شخصي ګټو په موخه دا هدف ولري، چې دوی دې یوه سیمه ولري، چې پکې پاچا وي؛ نو بیا د نورو ولایتونو په کیسه که نه دي. که دافغانستان تاریخ هم وګورو؛ نو دلته جګړې هم د قدرت په خاطر شوې دي. د مثال په توګه، څلور صفتونه ملا عمر هم لري: افغان دی، مسلمان دی، سني دی، حنفي دی او کرزی

يې هم لري؛ نو بيا يې ولې تر منځ جګړه ده، د څه شي په خاطر. يا د رباني پر وخت د محقق او خليلي جګړه، نو جګړه خو د قدرت لپاره وي. نو ځينې مشران فکر کوي، چې که په افغانستان کې په رښتيا يو واقعي حکومت راشي، واقعا يو واحد حکومت راشي، د ملي ګټو د ساتنې په موخه يوه پاليسي عملي شي؛ نو د دوی لپاره ځای نشته، بيا به د دوی ځای په محکمه کې وي، په زندان کې به وي.

**پوښتنه: ډاکټر صيب! نو د دغو ستونزو په نظر کې نيولو سره بيا هم د دې امکان شته، چې افغانستان په رسمي توګه تجزيه شي؟**

رمضان بشردوست: له بده مرغه په نړۍ کې هر څه امکان لري. لس پنځلس کاله مخکې چا فکر کولی شو، چې دا د شوروي امپراتوري به له منځه ولاړه شي. دا تاجکستان به مستقل شي، دا ازبکستان به مستقل شي، نه يوازې خلکو دا فکر نه کوه، بلکې په دې ډارېدل، چې شوروي به دا نور هېوادونه  هم په لاس کې واخلي. همدارنګه که اتيا کاله مخکې فکر وکړو؛ نو هېچا دا فکر نه کوه، چې يو وخت به امريکا د ټولې نړۍ قدرت په لاس کې اخلي. د برتانيې په اړه، چې خلکو ويل، چې د ده پر ځمکه لمر، څنګه په پښتو کې ووايم، په پارسي کې وايي، ((افتاب در زمين انګلستان غروب نه مې کند))

-: د انګلستان پر ځمکه لمر نه ډوبېږي.

رمضان بشردوست: هو همداسې. ځکه چې نړۍ د انګلستان په لاس کې وه، چا یو وخت داسې فکر کوه، چې انګلستان به د امریکې په لاس کې راشي!

-: مننه ډاکټر صیب! تاسو ووېل، چې د فدرالي نظام له لارې د افغانستان د تجزیې ناوړه هڅې رواني دي؛ خو هغه څوك یې کوي، چې د هېواد ګټو ته نه دي ژمن او خپلو شخصي ګټو پسې دي!

رمضان بشر دوست: بالکل.

-: بل مو دا هم ووېل، چې په نړۍ کې هر څه امکان لري!

رمضان بشردوست: بالکل.

**پوښتنه: نو تاسو په کومه ډله کې یاست؟ د فدرالي نظام له لارې د هېواد د تجزیې غوښتونکي یاست، که نه د همدې ډلې په مقابل کې ولاړ یاست او د هڅو د شنډولو کوښښ یې کوئ او که نه، د سیاست په ناغرضه غونډې ناست یاست او ننداره یې کوئ؟**

رمضان بشردوست: موږ باید هلې ځلې وکړو، د خپل وس او توان پورې، چې نه یوازې دا افغانستان تجزیه نه شي، بلکې د افغانستان نورې برخې چې پخوا ترې پرې شوي دي، بېرته په افغانستان کې راشي، لکه پېښور. هغه خلك، چې د خپلو شخصي ګټو لپاره کار کوي، د ملي ګټو لپاره کار نه کوي، حتی د خپل قوم لپاره هم کار نه کوي؛ نو دغه ډول خلك نه یوازې دا چې باچا دې نشي بلکې د محکمې په ګرفت کې دې راشي. دوی نه باید

پوښتنه وشي، چې ته ځان د تاجك مشر بولې، څومره تاجکان دې وژلي دي، پښتانه او هزاره خو پرېږده!؟

ته چې ځان ته د هزاره قوم، وکیل او مدافع وایې، څومره هزاره ځوانان دې وژلي دي. هغه هزاره ځوان، چې پوه شو، ته خادم نه یې او ستا پر مخ ودرېد؛ نو هغه دې وژلی دی کنه!؟

یا هغه خلك، چې ځان ته د پښتون مشر وایي، پرته له نورو قومونو یې څومره پښتانه وژلي دي.

نو د دې خلکو ځای نه په پارلمان کې دی، نه په حکومت کې دی، نه وزارت کې دی، نه په ولایت کې دی او نه په ولسوالۍ کې دی. د دې خلکو ځای په محکمه کې دی او د دې خلکو ځای په زندان کې دی. موږ باید د دغو خلکو مخه ونیسو، پر دې لاره روان شو او پر دې لاره هلې ځلې وکړو.

**پوښتنه: په همدې لاره کې د خپلو هڅو ځینې بېلګې راته ووایي، چې تاسو خپله څه کوئ؟**

رمضان بشردوست: دا زما ټولې هلې ځلې، د مثال په توګه هغه وخت چې د ولسمشرۍ نوماند وم، شپږ ویشت ولایتونه ما له نژدې وکتل. له خلکو سره مې له نژدې خبرې وکړې. هغه وخت، چې زه په ننګرهار کې وم، په کونړ کې وم، په بدخشان کې وم، په دایکندي کې وم، زه په دې عقیده وم، چې زه یو ځنځیر غوندې دا خلك او دا ولایتونه سره وصل کړم. په دایکندي کې زما په غونډه کې یو پښتون په پښتو ژبه سرود ولوست؛ نو هلته مې زړه ته تېره شوه، چې دا افغانان غواړي، ببرته سره نږدې شي او

یوځای شي، ځکه چې کورنۍ جګړې دا خلك د قوم په نوم، د مذهب په نوم او د تنظیم په نوم سره بېل کړي وو. دا لس کاله چې زه پر دې خاوره یم، زما خبرې او زما عمل د افغانستان د ملي ګټو پر بنسټ دي. هېڅ وخت مې داسې خبره نه ده کړې، داسې عمل مې نه دی کړی، چې د افغانستان له ملي ګټو سره په ټکر کې وي او په همدې لاره کې مې شخصي ګټې قرباني کړې دي، چې ملي ګټې خوندي شي.

**پوښتنه: ډاکټر صیب! په دې وروستیو کې د سولې هڅې ګړندۍ برېښي، تر څنګ یې ځنیې اوازې دي، چې خدای مه کړه، د شمال د بېلېدو هڅې هم روانې دي، ځینې بیا وایي، چې جنوب طالبانو ته ورکول کېږي، تاسو څه فکر، چې لوبه کومې خوا روانه ده!؟**

رمضان بشردوست: زما تحلیل خو دا دی، چې له بده مرغه افغانستان د یو دسترخوان غوندې دی. په دې دسترخوان کې بشقابونه دي. د مثال په توګه دا درې بشاقبونه دلته دي. یو کرزی، بل فهیم دی او بل خلیلي دی. دلته کباب دي، چلو دی او پیسې دي، یانې هر شی شته. امریکا غواړي، چې یو درې بشقابونه نور هم دلته اضافه کړي. یو حکمتیار ته ورکړي، یو ملا عمر ته ورکړي او یو حقاني ته ورکړي؛ نو په دې حال کې به د ولس سرنوشت چېرې ځي. هغه خلك، چې د افغانستان ولس یې وژلی دی، د افغانانو ځمکه یې په زوره اخیستې ده، حتی د افغانستان په ناموس یې تجاوز کړی دی. موږ غواړو، چې د دې خلکو له شر نه خلاص شو، نه دا چې دوی راشي قدرت ونیسي. که کرزی دی، که فهیم دی، که خلیلي دی، که ملا عمر دی، که حکمتیار دی، که حقاني دی، که عبدالله دی، دوی باید

افغانانو ته ځواب ورکړي. دوی خو قدرت درلود. په دې قدرت کې یې څومره ظلم په دې خاوره کړی دی!؟ په خپل قوم یې دومره ظلم کړی، چې هېڅ د باور وړ نه دی؛ نو څنګه دې دا خلك راشي وکیل دې شي، وزیر دې شي او مرستیال دې شي. هغه وخته په افغانستان کې سوله راځي، چې عدالت راشي.

**پوښتنه: نو دې خلکو سره باید څه وشي، له طالبانو سره باید سوله ونشي؟**

رمضان بشردوست: دا خو سوله نه ده.

**پوښتنه: نو سوله څنګه وي؟**

رمضان بشردوست: دا سوله ده! چې هغه سړی، چې لاسونه یې د افغانانو په وینو سره وي، هغه ته دې قدرت وسپارل شي!؟

-: نه، نه بالکل نه.

رمضان بشردوست: نه یوازې، چې ملاعمر، حکمتیار او حقاني په قدرت کې رانشي، بلکې کرزی، فهیم او خلیلي دې له قدرت څخه لرې شي. ځکه چې هغه کار، چې ملاعمر کړی دی، هماغه کار خو فهیم او خلیلي هم کړی دی. زما په نظر هغه وخت په افغانستان کې سوله راځي، چې هغه افغانان، چې دې خاورې ته یې کار کړی، خدمت یې کړی او د دې هېواد په چوپړ کې دي، بې ګناه خلك یې نه دي وژلي، د خلکو ځمکه یې په زوره نه ده اخیستې، د افغانستان په قدرت کې دې وي. که چېرې یو ظالم یو

قاتل، که هزاره دی، که ازبك دی، که تاجك دی، که پښتون دی، که مجاهد دی، که طالب دی، که کمونیست دی؛ نو که چېرې دوی په قدرت کې وي؛ نو سوله نه راځي. که چېرې ملا عمر ته هم په دې دسترخوان کې یو بشقاب ورکړو؛ نو سبا یو بل ملاعمر راپورته کېږي او ټوپك اخلي، چې ماته ولې یو بشقاب نه راکوئ.

**پوښتنه: تاسو د کابل د اوسېدونکو په رایه پارلمان ته راغلي یاست، خلك که هر څه وایي، خو ستاسو له نظره، دغو خلکو ته مو څومره کار کړی دی، څومره مو ورته ستونزې هوارې کړي دي؟**

رمضان بشردوست: د خلکو عمومي ستونزه مو نه دا چې حل کړې نه ده، بلکې نورې ستونزې مو ورته اضافه کړی دی.

**پوښتنه: هغه څنګه؟**

رمضان بشردوست: د مثال په توګه موږ دلته راغلي یوو، چې له بې وزلۍ سره مبارزه وکړو. خاینو وزیرانو ته د قوم، ژبې او مذهب پر بنسټ رایه ورنکړو؛ خو له بده مرغه د افغانستان ولسي جرګې په دې ژمنه وعده ونکړه. زه هم خپل ځان مسوول بولم؛ خو هېڅ وخت مې دې وزیر صاحبانو ته رایه نه ده ورکړې، چې نن افغانان وایي، دوی ټول غله دي. واقعا له خپلې خاورې سره مینه نلري او د خپلو شخصي ګټو لپاره یې کار کړی دی. یو ویاړ زه لرم، چې د کابل د ولس کوم امانت چې ما سره دی، له دې سره مې خیانت نه دی کړی. ځمکه مې نه ده اخیستې، کومه ماڼۍ نه لرم، کوم بانکي حساب نه لرم او خپل اتیا فیصده معاش هم له خپلو بې

وزلو خلکو سره مرستې کوم؛ خو په دې روان ژمي کې چې هغه مهال په کابل کې په خیمو کې شل څلویشت افغان ماشومان د یخنۍ له امله مړه شول، زه خپل ځان مسوول بولم. د یو افغان په توګه د یو وکیل په توګه، کابل څه چې د ټول افغانستان اوسېدونکي هر وخت کولی شي، چې ما وویني.

په پارلمان کې دوه لارې دي. یوه د وکیلانو لاره ده او بله د ولس لاره ده، چې په دې لاره کې د بېلا بېلو ولایتونو خلك هیله من ناست وي، چې خپل وکیل وګوري؛ خو ټوله ورځ دلته ناست وي، خپل وکیل نه شي کتلی، ځکه چې هغه له بېلې لارې پارلمان ته ننوځي؛ خو زه هره ورځ د همدې ولس له لارې ځم، هلته له خلکو سره ګورم، سلامعلیکي کوم، کومه ستونزه ولري، زه هلې ځلې کوم، چې پخپله یې حل کړم. زه دا نه وایم، چې دا پښتون دی، دا تاجك دی، دا ازبك دی، دا د بدخشان دی، دا د کونړ دی، دا د بامیان دی، ځکه چې د قانون له مخې زه د ټولو افغانانو استازی یم. که چېرې یې زه ستونزه نه شم حلولی؛ نو بیا یې له لاسه نیسم، پارلمان ته یې له ځانه سره وړم او د انتظار په سالون کې یې کېنوم. د مثال په توګه یو پرزه د کونړ وکیل ته لیکم، چې راځه دلته یو کس دی، ستونزه لري او یوازې ته کولی شې، چې دا ستونزه یې حل کړې. د ټیلفون درې نمبرې لرم، چې تل له ما سره وي. کوم منشي نه لرم. همدا اوس زما ټیلیفون ګول دی، ځکه چې ځانګړې مرکه لرم. که ځانګړې مرکه نه وي یا کومه غونډه نه وي؛ نو خپله ځواب ورکوم. زما موټر چې په سړك ځي خلك یې پېژني؛

نو ځینې خلك چې ستونزې لري، ماته د دربېدو اشاره کوي؛ نو ورته دربېږم.

**پوښتنه: خلك څنګه ستا موټر پېژني، کوم ځانګړی موټر دی!؟**

رمضان بشردوست: زما موټر؛ خو د افغانستان د بیرغ رنګ لري، خلك یې ښه پېژني؛ کله چې څوك لاس راکړي ورته دربېږم. که وخت ولرم ورسره خبرې کوم که نه خپل کارت ورکوم او دفتر ته یې غواړم. یانې خلك پرته له کومې خاصې ستونزې ما سره کتلی شي.

**پوښتنه: ستاسو د موټر پر سر لاوډسپیکر لګېدلی، دا د څه شي لپاره دی؟**

رمضان بشردوست: په دې کې خو دې پارلمان کې چې ما خبرې کړې دي، په پارك زرنګار کې له کرزي صیب سره منظارې چې ما کړې دي، هغه پکې غږوو. همداسې موږ د مرستو بنیاد جوړ کړی، چې هغه افغانان چې په بهر کې دي، موږ ته سل ډالره، پنځوس ډالره رالېږي او موږ په همغو پیسو د خپل بنیاد (د بشر دوستانو بنیاد) له لارې خلکو سره مرسته کوو.

**پوښتنه: ستاسو خبرې تر ډېره پر خلکو ښې لګېږي او ډېر خلك په دې نظر دي، چې بشردوست صیب سم وایي؛ خو دا اندېښنه هم ورسره ده، چې ولې په تېرو لسو کلونو کې بشردوست د ځان په څېر یو بل بشردوست پیدا نه کړ، ولې په یو ګروپ بدل نه شو، هم په ولسي جرګه کې او هم له جرګې دباندې؟**

رمضان بشردوست: لومړی ټکی دا دی، چې ټول افغانان بشردوسته خلك دي او زما د خبرې ملاتړ ځکه کوي، چې د دوی خبره ده؛ خو دې افغانانو ته څوك چانس نه ورکوي.

**پوښتنه: ولې چانس نه ورکوي، په دې پارلمان کې خو به ټول خراب خلك نه وي راغونډ شوي کنه!؟**

رمضان بشردوست: په پارلمان کې چې تر کومه ځایه زه گورم، دوی خپلې شخصي گټې نه قرباني کوي. همدا اوس دوی بوخت دي، چې خپل معاش جگ کړي، همدا اوس یو لك او پنځلس زره افغانۍ معاش لري؛ خو دوی کوشش کوي، چې یو لك او شپېته زره شي. زه چې بیا کله غږ کوم، چې اې ورونو دا معیوبین، د شهداو وارثین، دا یتمان چې جهاد کې یې دا هر څه له لاسه ورکړل، دوی پنځلس سوه افغانۍ معاش لري او تاسو...

**پوښتنه: که ستاسو خبره و منو، چې په پارلمان کې هم ټول بد خلك دي؛ نو دباندې ولې د یو منظم گروپ په توگه کار نه کوئ، یو بشردوست به څه وکړي، پښتانه متل کوي، چې له یو لاسه ټك نه خېژي؛ نو یو بشردوست؛ خو افغانستان نشي جوړولی؟**

رمضان بشردوست: زه وایم، د افغانستان لاره تنظیمي لاره نه ده، گروپي لاره نه ده. د افغانستان لاره د محمد صلی الله علیه وسلم لاره ده. هغه کوم تنظیم جوړ ونه کړ. د گاندي لاره ده، چې هغه هم کوم تنظیم جوړ ونه کړ. که زه یو گروپ جوړ کړم؛ نو په دا گروپ کې به ستونزه وي. په دې گروپ کې به یو دري ژبان له پښتون سره په جگړه بوخت شي، چې ته

ولې پوهنتون وایې او دا به ورته وایي، چې ته ولې دانشگاه وایې. دویم دا چې په دې گروپ کې به یو خاین پیدا شي، ټول گروپ به بدنام کړي.

**پوښتنه: ډاکټر صیب! تاسو ډېر شك نه کوئ!؟**

رمضان بشردوست: نه، نه په ولس شك نه لرم.

**پوښتنه: دا نو نور څه دي، چې تاسې فکر کوي، چې د بشردوست په ډله کې به یو خاین پیدا شي او د بشردوست ټوله ډله به بدنامه کړي!؟**

رمضان بشردوست: دا یو اړخ ده. بل موږ گروپي تحلیل پیدا کوو، اوس افغانان ځکه له ما سره مینه لري، چې زه تنظیم نه لرم. زه افغانستان د یو تنظیم په ایینه کې نه گورم، د یو قوم په ایینه کې یې نه گورم، د یو گروپ په ایینه کې یې نه گورم. که زه یو تنظیم جوړ کړم، که یو گروپ جوړ کړم، بیا دا خلقی چې دی، دا پرچمی چې دی، دا جمیعتی چې دی، دا وحدتی چې دی، هغه بیا وایي، چې څه وکړو د بشردوست په دفتر کې، هغه خو د پلاني گوند سړی دی. افغانستان ته د خپل گوند د ایینې له لارې گوري. زه په دې عقیده یم، چې هغه وخت موږ افغانستان جوړولی شو، چې د قوم او گوند له دایرې لرې ورته فکر وکړو.

**پوښتنه: یو څه به ستاسو ژوند ته تم شو!؟**

رمضان بشردوست: ولې نه.

**پوښتنه: په شپه ورځ کې څو ساعته کار کوئ؟**

رمضان بشردوست: ډېر کار نه کوم زه.

**پوښتتنه: نو خوب ډېر کوئ؟**

رمضان بشردوست: خوب نه، کتابونه لولم. اجتماعي فلمونه ډېر گورم.

**پوښتنه: ستاسو جامې ډېری وخت سپینې وي، ستاسو د جامو چپه گردن د هېواد د جنډې له رنگونو جوړ وي، دا مو شوق دی، که سیاسي اړتیا یې بولئ؟**

رمضان بشردوست: دا اوباما چې قدرت ته ورسېد، د افتتاح غونډه یې وه. ځینو رسنیو وویل، چې اوباما یو شمېر افغان سیاسمتدارانو ته په دغو مراسمو کې د گډون بلنه ورکړې وه. لکه جلالي صیب، عبدالله صیب، احمدزی صیب. مگر واقیعت دا نه و. په اصل کې یې دوی ته بلنه نه وه ورکړې او په دغه ورځ دوی په واشنگټن کې هم نه و؛ خو دوی داسې اکتونه کول، لکه دوی ته چې بلنه ورکړل شوې وي. دوی په میډیا کې هېڅکله داسې ونه ویل، چې بلنه نه وه ورکړل شوې او دا دورغ دي؛ خو غیر مستقیم یې داسې ښودله، چې دوی ته اوباما بلنه ورکړې وه او په دې مراسمو کې یې گډون درلود؛ نو دا حالت، چې ما ولید، نو له ځان سره مې فکر وکړ، چې یو وخت و، چې د خارجیانو جاسوسي به شرم و؛ خو اوس له بده مرغه خلك پرې ویاړ کوي. موږ پرې ویاړ کوو، چې له امریکا سره یوو، له فرانسې سره یوو، یا د ایران سره یوو. د ملي امنیت پخوانی مشر امرالله صالح چې ولسي جرگې ته راغی او خپله سوانح یې چې لوستله؛ نو ویې ویل، چې په امریکا کې یې د استخباراتو درس ویلی دی؛ خو یو وخت داسې هم و، چې زموږ پر خاوره ، په کلتور کې داسې خبرې کول، شرم و،

چې موږ د بهرنیو خلکو سره یوو. بیا ما وویل، چې دوی په دې ویاړ کوي، چې د امریکې سړی دی، په دې ویاړ نه کوي، چې د خپل هېواد سړی دی. دوی د نورو ملکونو بیرغونه پر خپله غاړه لري، راځه چې دا د افغانستان د بېوزلې خاورې بیرغ هم پورته کړو، دا پر خپله غاړه واچوو، چې زه یوازې د دې خاورې غلام یم، نه د امریکا یم او نه د نورو هېوادونو. دا زما یو تصمیم و، چې هغه وخت مې ونیو.

**پوښتنه: یو څو شخصي پوښتنې کولی شم؟**

رمضان بشردوست: ولې نه، هر ډول پوښتنه کولی شې.

**پوښتنه: واده مو ولې دومره وروسته وکړ؟**

رمضان بشردوست: زه په دې عقیده وم، چې واده کول د افغانستان له شرایطو سره سمون نه لري. له بده مرغه زما مور و پلار ډېر ټینګار کوه، دې مولوي صاحبانو ماته ډېر تیلفون کول، چې موږ هېڅ انتقاد نه لرو؛ خو یو محمدي سنت دی، چې عملي کړی دې نه دی. زه ځکه وایم چې د افغانستان له شرایطو سره سمون نه لري، چې تر هغه وخت چې زه مجرد وم اتیا فیصده معاش مې بې وزلو خلکو ته ویشه؛ خو نن زه دا کار نشم کولی، زما ښځه ماته وایي، چې ته زما مسوولیت لرې. زما زوی چې راځي زه یې مسوولیت لرم؛ نو اوس وخت کې زه یوازې پنځوس فیصده معاش بې وزلو خلکو ته ورکولی شم. بل هغه وخت زما د هرې خبرې او هر عمل پر وړاندې زما شخصي مسوولیت و، که خلکو وژلی؛ نو یوازې زه یې وژلم؛ خو نن کولی شي، چې زما ښځه اختطاف وکړي، که زامن ولرم، نو

راته ویلی شي، چې بشردوست صیب خوله دې وتړه، کنه ستا زوی یا ستا شځه وژنم؛ نو زه اوس د دی مسوولیت هم لرم؛ نو زما نظر دا و، چې په افغانستان کې مبارزه یوه غټه قرباني غواړي؛ خو له بده مرغه زما دا فکر داسې تفسیر شو، چې زه محمدي سنت ته پاملرنه نه کوم؛ نو مجبور شوم، چې واده وکړم. کنه نه مې غوښتل.

**پوښتنه: واده مو پخپله خوښه کړی، که د مور پلار انتخاب دی؟**

رمضان بشردوست: ماته یې وویل، چې یو نجلۍ یې پیدا کړې، چې داسې خاصیتونه لري، چې زما خوښ و، ما هم هو وکړه.

**پوښتنه: مېرمن مو سواد لري؟**

رمضان بشردوست: عادي سواد لري. ما چې واده ته هو وکړه؛ نو مور او پلار ته مې یو شرط و، چې شځه مې باید د اسلام سیرت ولري، صورت یې مهم نه دي، همدارانګه دوکتورا لري که نه لري، پیسې لري که نه لري، شکلې ده که نه ده. دا هېڅ مانا نلري. که هغه یوه سترګه هم نلري، که هغه یوه پښه هم نلري، دا مهمه نه ده. مهمه دا ده، چې واقعا تقوا ولري، اخلاق ولري او ما سره په عادي ژوند کې ګذاره وکړي.

**پوښتنه: ډاکټر صیب! د ښځو غوښتنې ډېرې وې، کله تاسو ته نه وایي، چې نور وکیلان ښه موټر لري، ښه کور لري او تاسو ورته عادي ژوند ورکړی؟**

رمضان بشردوست: نه یوازې زما شځه، زما پلار او زما مور هره ورځ دا خبرې راته کوي. هغوی، چې ویني، چې د یو وکیل پلار موټر لري،

موټروان لري، یو شه شکلی کور لري، بیا پلو چلو خوري؛ نو هغوی هم ماته وایي؛ خو بیا زه ورته وایم، چې پلاره ګوره ډېر افغانان له دې بدتر ژوند کوي، تر خیمې لاندې په دې ژمي کې شپې تېروي، د وچې ډوډۍ پیسې نه لري، په میاشت کې غوښه په سترګو نهویني. له دې وروسته یې بیا راسره مني. بالکل زما شځه هم همدا خبرې کوي، ځکه چې هغه هم انسان ده؛ خو بیا زه چې د اسلام مثال ورکوم، د حضرت محمد صلی علیه وسلم کیسې ورته کوم، چې د خندق په غزا کې نورو یو ډبره پر ګېډه تړلې وه او دې مبارك دوه ډبرې تړلې وې، بیا هغه مني چې دا زما ژوند اوس هم لا ډېر ښه دی.

**پوښتنه: ډاکټر صیب! همدا وروستۍ پوښتنه وه، ډېره زیاته مننه، تاسو ډېره حوصله وکړه.**

رمضان بشردوست: تاسو شه راغلاست. تاسو میلمه یاست، له تاسو ډېره ډېره مننه.



# ۳ د پاکستان د لاسوهنو، ډیورنډ او باچاخان په اړه له ښاغلي سلیمان لایق سره مرکه

خپره شوې: پسرلی مجله/ درېیم کال، پرله پسې یوولسمه او دولسمه گڼه ۱۳۸۷لمریز

سلیمان لایق د ډاکټر نجیبب الله حکومت له منځه تلو وروسته په ښکاره له سیاست څخه ډډې ته شوی دی. نوموړی که څه هم د پښتو ادب د شاعر او لیکوال په توگه هم ډېر کار کړی؛ خو په دغه مرکه کې یوازې په سیاسي مسایلو غږول شوی، چې د لوی افغانستان د هراړخیزو مسایلو په تړاو پوښتنو ته یې ځوابونه ویلي.

ذبیح الله احساس

**پېژندنه:**

سليمان لايق د ۱۳۰۹ لمريز، د تلې په ۲۱مه، د پکتيکا ښرنې ولسوالۍ په ايمني خيلو کې زېږېدلی دی؛ خو له کورنۍ سره يې په بغلان ولايت کې هم ډېر ژوند کړی دی. د ده ار نوم غلام مجدد دی.

سليمان لايق له کورنيو لومړنيو زده کړو وروسته د حبيبې لېسې په دويم ټولګي کې شامل کړای شو؛ خو د کورنيو ستونزو له کبله يې د حبيبې لېسه په پنځم ټولګي کې پرېښوه، دوه کاله وروسته يې د دو قضا کړيو ټولګيو ازموينه تيره کړه. په ۱۳۲٦ لمريز د پغمان د شرعيه علومو په مدرسه کې شامل شو. په ۱۳۳۱لمريز يې د مدرسې وروستی ټولګی پای ته ورسوه. په ۱۳۳۳لمريز په ادبياتو پوهنځي کې شامل شو او په ۱۳۳٦لمريز يې د ادبياتو پوهنځي د ادب او فلسفې په څانګه کې زده‌کړې پای ته ورسولې.

سليمان لايق په ۱۳۴۳لمريز د مرغومي په ۱۱مه، د افغانستان د خلق ديموکراتيک ګوند له موسسې کنګرې سره چې د نورمحمد ترکي په کور کې په پټه جوړه شوې وه، يو ځای شو او خپلې ټولې شونتياوې او شهرت يې د همدغه ګوند خپرولو ته ځانګړی کړ.

سلیمان لایق په ۱۳۴۴ لمریز د غبرګولي په ۱۹مه، ولسي جرګې ته د نوماندۍ په موخه له خپل دولتي ماموریت یانې د افغانستان له راډیو نه استعفا وکړه؛ خو په ټاکنو کې بریالی نشو او بېرته د افغانستان راډیو ماموریت ته راوګرځېد.

د ثور کوتاه په پیل کې سلیمان لایق د راډیو تلویزیون او سینما توګرافي وزیر او د وزیراونو شورا د منشي په توګه وټاکل شو. د همدې کال په نیمایي کې د ګوند له سیاسي بیرو نه طرد شو. د همدې کال د مني په پای کې له خلقي کابینې څخه ویستل شو، چې د کب په اتلسمه د استخباراتو له لوري ونیول شو او هېواد، ګوند او انقلاب ته دخیانت په تور څرخي زندان ته واستول شو. د ۱۳۵۸لمریز د مرغومي تر شپږمې، په زندان کې و.

لایق هغه مهال د افغانستان د خلق د دیموکراتیک ګوند د عمومي منشي او د افغنستان د دیموکراتیک جمهوریت جمهور ریس ببرک کارمل سره د مخالفت په سبب د سیاسي بیرو او د ا. خ.د ګوند د مرکزي کمیټې له غړیتوب نه لرې کړای شو. ډیره موده په کور کېنول شو، وروسته د زونونو ادارې ته واستول شو؛ خو دولتي کارکوونکي یې د ده له درناوي نه منع کول.

په ۱۳٦۰لمریز، د سرحدونو د وزیر فیض محمد له وژل کېدو وروسته د سلیمان لایق له انکار سره سره د سرحدونو وزیر وټاکل شو. لایق غوښتل علومو اکاډمۍ ته چې دی یې ترې زونونو ادارې ته د خدمتي په توګه

استولی و، بېرته ولاړ شي او له پوهې سره ځان بوخت کړي؛ خو ده ته ووېل شول چې دواړه لوري اداره کړي،. دا د ده د ناتوانه کولو مقدمه وه.

نوموړی د ډاکټر نجیب د حکومت له پرزېدو وروسته په ښکاره له سیاسي کړنو لاس په سر شوو، چې له دې وروسته یې ډېره بوختیا د پښتو ادب او شعر سره د ژور تړاو له امله لا ټینګه شوه.

له ۱۳۳۷لمریز څخه تر ۱۳۴۰لمریز، پورې یې خپل زیات شعرونه د افغانستان په رسنیو کې خپاره کړل. په همدې کلونو کې یې د پښتو او دري په شعر، هنري نثر او لنډو کېسو کې پرلپسې د ادبیاتو لوړې جایزې واخېستې او د سندریزو تصنیفونو له سببه لوړ شهرت ته ورسېد. ((غرونه او کساتونه)) دسلیمان لایق ناول دی، چې په ۱۳۷۷لمریز د پښتونخوا په پېښور کې خپور شو. ((چونغر)) یې د شعرونو مشهور کتاب دی. پر دې سربیره لایق د سلګونو مقالو، تبصرو او یادښتونو لیکوال دی.

سرچینه:
http://lomritob.com/archives/6805

## مرکه:

**پوښتنه: د ډیورنډ د تپل شوې کرښې په رابنکلو چې د لوی افغانستان کومه سیمه پرې شوې، له همدې څخه پیل کوو، ستاسو په اند دغه کرښه ولې او څنګه رامنځ ته شوه؟**

سلیمان لایق: په افغانستان او د هغه وخت په امیر باندې د ډیورنډ کرښه او د هغه په باره کې د یوې معاهدې تحمیلېدل، د استعماري پرمختګونو یانې د هند په نیمه وچه کې د هغه وخت د برطانیوي استعمار یوه کړۍ ده. کله چې برطانویان هند ته راغلل نو دوی د هندوستان د ساتلو لپاره او یا دا چې یوازې په هندوستان یې اکتفا نه کوله، نو د خپل استعماري حرص له امله یې افغانستان ته مخه کړه. هغه تاریخ لیکونکي چې برطانیوي پرمختګ یا په اصطلاح د دوی forward policy تشریح کوي،

بېلا بېل نظرونه لري، ځینې وایي چې انګریزانو غوښتل چې د سلیمان غرونه چې له کویټې نه شروع او په پېښور او دغسې تر دیر، باجوړ او سوات پورې رسېږي او چترال پورې نښلي، ځان ورسوي. په دې خاطر چې د هندوستان دفاع ورته اسانه شي. په هغه وخت کې البته روسانو چې مرکزي اسیا یې نږدې نیولې وه، هم غوښتل چې د هندوستان دا طلایي جرګ لاس ته راوړي، هغوی هم بې علاقې نه وو او په دې خوا را روان وو؛ نو انګریزانو د روسیې د پرمختګ خطر احساسوه، غوښتل یې چې افغانستان د روسیې پر وړاندې د یو مورچل په توګه وکاروي.

بله نظریه دا ده، چې انګریزانو دغه مورچل د سلیمان تر غرونو پورې اټکل کوه، خو ځینې بیا وایي چې یه، دوی هندوکش خپل اساسي ټکی ګڼه چې د هندوکش غرونو ته د هندوستان سرحد راورسوي او له دې ځایه د روس او یا د هر بل یرغلګر مخه ونیسي.

درېیمه نظریه دا وه چې دوی امو سیند ته ځان رسوه. یانې دا اوسنی افغانستان چې ډېر له دېخوا اخوا پرې شوی دی، لاندې کړي او له دې ځایه د روسیې مخ ونیسي. دا په هغو اثارو کې چې د هغه وخت انګرېزي جنریلانو او دیپلوماټانو لیکلي، راغلي دي.

خو داسې کسان هم په انګریزانو کې وو چې هغوی ویل چې د اباسین کرښه زموږ لپاره کفایت کوي او دې خاورې ته ننواته به موږ له یو جنګي ملت سره چې تل یې د خپلې خاورې دفاع کړې ده او له بلې خوا دوی ډېر ناب مسلمانان دي، په عقیدوي لحاظ هم نه غواړي چې دا سیمې د غیر

مسلمانانو قواو په لاس کې پرېوځي، نو که ورسره مخ شو تلفات به مو ډېر وي او دا وطن به ونشو ساتلی. دې سلسله کې سربېره پر دې چې د انګریزي سیاست پوهانو تر منځ اختلاف موجود و؛ خو بیا هم د پرمختګ کومې تر لاسه کېدونکې زمینې سره چې به مخ شول، دریغ یې ترې نه کوه. په دې بنیاد دوی لومړی له اباسین څخه تېر شول او د افغانستان ختیځ ولایتونه، تاسو که د کهزاد صیب د اثارو لوستنه وکړئ هغه تل دې سیمې ته د افغانستان ختیځ ولایتونه وایي، چې پکې صوابۍ، مردان، اشنغر سیمه چې چارسده هم پکې ده، دغه سیمې ټولې پرله پسې اشغال کېدې او د بېلا بېلو تړونونو په واسطه پخول کېدې، یانې کله چې به دوی د افغانستان له سلاطینو سره مرکې کولې یا به داسې حالات راغلل چې دوی به په هغوی تحمیلولی شول نو بیا به د تړونونو په نوم دا معاهدې منځ ته راغلې. د ګندمك معاهده، د ډیورنډ معاهده او دا وړ معاهدې ډېرې زیاتې وشوې.

د ډیورنډ معاهده چې ستاسو پوښتنه هم په همدې اړه ده، زما په نظر دا معاهده هېڅ ډول حقوقي ماهیت نلري او په ځانګړې توګه چې کله موږ د سرحدونو او تړونونو نړیوالو قوانینو ته کتنه وکړو، نو د همدې قوانینو له مخې چې کله د دوو هېوادونو تر منځ دا ډول تړونونه شوي وي او په اوږدو کې یې ترمنځ جګړه راپېښه شي؛ نو هغه معاهدې پخپله له منځه ځي، نو موږ له ډیورنډ څخه وروسته د غازي امان الله خان پر وخت د ازادۍ جګړه په یاد لرو چې زه فکر کوم د همدې جګړې په اثر دا معاهده په هماغه وخت کې له منځه تللې ده.

دغې معاهدې ته که سړی له بنسټ څخه وګوري، یانې له هغه وخته چې امیر عبدالرحمن لاسلیك کړې، څرګنده به شي چې یوه نامشروع معاهده ده. امیر عبدالرحمن خان داسې یو مشروع امیر نه و، چې د دا ډول معاهدې د لاسلیك کولو حق دې ولري، نه هلته پارلمان و، نه د ولس جرګه پوښتل شوې او نه کوم بل داسې کار شوی. بل امیر عبدالرحمن خان پخپله هم بشپړ سواد نه درلود او په دې باندې راضي نه و، یانې نه پوهېد چې دا معاهده څه شی له ده اخلي او څه شی ده ته ورکوي. په هغه وخت کې په سرحدونو کې ځینو افغانانو امیر ته وویل چې دا خو زموږ کلی زموږ خاوره زموږ هدیره ده موږ له دې معاهدې سره توافق نلرو. دې مومندو په هغه وخت کې دا معاهده رد کړه. د کټواز په سیمه کې ((وازه خوا)) ورته وایي چې پکې د خدایدادخېلو په نوم د سلیمانخېلو یوه پښه ده چې د سلیمانخېلو خانان دي. په هغو کې سردار فتح خان او ځینې نور کسان چې په سیمه کې یې مشرتوب کاوه، عملا یې هغه پلاوی چې د سرحد کرښې یې ټاکلې، د هغو ټکوهل شوې میوږې یې وویستل او څو کیلومتره ښکته لاړل او ویې ویل چې امیره ته افغانستان خرڅوې؛ خو دا زما د پلار هدیره ده دا زه نه خرڅوم. تاسو که د اوسنې پرې شوې افغانستان په نقشه کې وګورئ د پکتیکا لوري ته د جزیرې غوندې یوه برخه ده چې دا هما غه سړي را ګرځولې ده.

دا معاهده د افغانستان د خلکو له غبرګون سره مخامخ شوې ده. ګوره د خاورې په پلورلو کې هېڅ وخت پښتون نه تشویقېږي او دا یوازې د پښتون مسئله نه ده. په دې کوه دامن، دې کوهستان کې ډېر جدي او د

استعمار ضد خلك اوسېدل، کله چې انګریزان دلته راغلل دا میر مسجدي خان، اسماعیل خان تګاوی، نایب امین الله خان او داسې ډېر خلك چې کرښې ته نږدې نه بلکې په ښارونو کې اوسېدل، دې ټولو یې مخالفت کړی او داسې عادي مخالفت هم نه بلکې وینې یې پرې توې کړي دي. نو د افغانستان خلکو د ډیورنډ او دې ته ورته تړونونو سره ښه پوره مخالفت ښودلی دی او هېڅ وخت ورته د منلو نه دي.

**پوښتنه: د پاکستان د جوړېدو پر مهال له افغانستان څخه د پرې شوې ختیځې سیمې د بېرته تر لاسه کولو څومره هڅې وشوې!؟**

سلیمان لایق: موږ او تاسو باید د بحث یو اساسي برخې ته اشاره وکړو که څه هم موږ د ډیورنډ په اړه عامې خبرې وکړې خو دا باید هم هېره نشي چې کله له انګریزانو سره د ډیورنډ معاهده وشوه؛ نو وروسته له هغې ځینې نور متممه تعهدات هم شوي دي. په دې متممه تعهداتو کې ویل کېږي چې انګریزان به په دې ایجنسیو کې یانې د سرحد دا اوه نښتو برخو چې دې ته یې پولیټیکل ایجنسي ویلې، ځکه چې دلته به د انګریزانو یو مامور له قبایلو سره په تفاهم کې اوسېد، خو په تعهداتو کې دا ویل شوي چې د افغانستان له ارادې نه پرته به انګریزان په دې ایجنسیو کې هېڅ مداخله نه کوي او انګریزان به په دې سیمه کې په قبایلو د وسلې ګرځولو بندیز نه لګوي او د دې ځای د اوسېدونکو تر منځ ستونزې به د بهرنیو قوانینو، اصولو او سیاسي تګلارو له مخې نه بلکې د پښتنو د روایتي دودونو او رواجونو له مخې حل کېږي. دوی به خپلې لانجې د پښتنو د تیږو او نرخونو له مخې حلوي. خو له دغو تعهداتو څخه د انګریزانو په

وخت کې هم سرغړونه وشوه، نو وروسته چې کله د برطانیې د میراث خور په توګه پاکستان منځ ته راغی نو په هغه وخت کې د افغانستان سلطنتي حکومت په دې هکله د جدي اقداماتو لپاره کوم پلان نه درلود او حتی تشویش ورسره و، که دا سیمې بېرته واخلي نو څه ډول به یې اداره کوي؛ خو په هر حال... سره د دې چې په هغه وخت کې د افغانستان حکومت کمزوری و، خو بیا یې هم د هندوستان د وېشلو او د پاکستان د جوړېدو پر وخت د خپلې پرې شوې ختیځې سیمې د بېرته اخیستو غوښتنه کړې ده.

له بل پلوه له کربښې اخوا د خان عبدالغفار خان مبارزه دیادولو ده. خان د پښتنو د حقوقو مسئله طرحه کړه. په دې هکله ډېر مواد شته، د بېلګې په توګه د بنو ریزولوشن. خو له خان سره ډېر بد چلند وشو، د دسیسې په ډول چلند ورسره وشو. لومړی دا چې کله پښتنو ته د رایو صندوقونه کېښودل شول نو د هندوانو پر صندوق یې د هندوانو کتاب ((ګرنګ)) کېښود او د پاکستان د جوړېدو پر صندوق یې قرانکریم کېښود نو طبیعي ده چې مسلمان نشي کولی د ګرنګ په صندوق کې رایه واچوي او بیا پښتنو کې خو له پښتونولی اسلام ډېر قوي دی او بل په دې ټولپوښتنه کې ډېرې محدودې رایې چې په یو روایت شپیتو زرو ته رسېدې، چې په هغه وخت کې یوازې په ایجنسیو کې د پښتنو نفوس درې نیم میلیونه ته رسېد او ښکته خو یې لا پرېږده. دا خو لوی ملت دی چې اوس نړدې دېرش یو دېرش میلیونه نفوس لري؛ نو هغه وخت یې د پښتنو راتلونکی په شپیتو زرو رایو فیصله کړ او پاتې نورو پکې برخه وانخیسته. باچا

خان او د ده پارټۍ چې په هغه وخت یې هم قومي اسمبلۍ او هم مرکزي اسمبلۍ کې لوړ اکثریت درلود، یوه رایه یې هم صندوق ته نه ده اچولې. نو پاکستان په دې توګه د انګریزانو په خوښه د افغانستان ختیځې سیمې خپلې کړې. په دې وخت کې له افغانستان سره د هندوستان په دې اشېدلي حالت کې دا توان نه و چې د برطانیوي استعمار سره ډغره ووهي، خو که یو څه شوي وای او که هر څه شوي وای؛ نو ښه به و، خو ښښنه غواړم ستونزه دا وه چې د هغه وخت حکومتونه ملي حکومتونه نه وو.

**پوښتنه: د باچاخان مبارزه د افغانستان د ختیځو سیمو د بېرته اخیستو لپاره یوه ښه زمینه وه، که دغه ستونزې لږ ښکاره کړئ، چې په هغه وخت کې د افغانستان حکومت ولې له خان سره مرسته ونکړه؟**

سلیمان لایق: د افغانستان دولت نه یوازې دا چې له باچاخان سره یې مرسته ونکړه بلکې د کرښې اخوا یې د پښتنو د یو مستقل ګوند د جوړېدو سره مخالفت وکړ. په هغه وخت کې چې کابل کې کوم حکومت و، هغه فکر کوه چې د ډیورنډ اخوا پښتنو د ازادۍ لپاره که کار وکړي؛ نو د انګرېزانو له غضب سره به مخ شي، ستونزې به ورته راپیدا کړي او امکان لري چې په دننه افغانستان کې ورته فتنې جوړې کړي. په لنډه یې به درته ووایم چې د هغه وخت افغان حکومت د همدې قیچچي شوي افغانستان سره د خپل سلطنت راتلونکی کتلو او په دې فکر و چې د هغې پرې شوې ختیځې سیمې لپاره باید دا پاتې افغانستان په خطر کې وانه چول شي؛ خو په دې سلطنتي کورنۍ کې دواد خان یواځینی کس و چې دغه ملي تمایلات یې درلودل یانې غوښتل یې چې د پاکستان څخه د افغانستان

نیول شوې سیمې ازادې شي یا لږ تر لږه افغانستان خپل هغه امتیازات، چې په دې وچه ځمکه کې پروت دی او د خپلو ساحلونو له لارې یې بهرنۍ نړۍ ته ټولې لارې له لاسه ورکړي، دغه خو تر لاسه کړي. نو داود خان په هغه وخت کې د امریکا متحده ایالتونو، غرب، اروپا او ...هېوادونو ته وویل چې پاکستان یې تهدیدوي او رښتیا هم پاکستان موږ تهدیدولو. پاکستان چې کله د یو هېواد په توګه چوکاټ شو نو له دې یې ویره درلوده چې د هند په وړاندې به مقاومت ونکړای شي نو ستراتیژیك ژوروالي ته یې اړتیا درلوده او دغه ستراتیژیك ژوروالی یې په افغانستان کې لیده او د ضیاالحق تر وخته د پاکستان دغه تګلاره پر ځای وه، چې باید په افغانستان کې داسې یو دولت وي چې یا د پاکستان تر نفوذ لاندې وي او کنه د پاکستان له دغه اسلامي هېواد سره ګډ شي. دا چې پاکستان تازه له هندوستان څخه بېل شوی و او د مسلمانانو وینه هم ګرمه وه؛ نو دا وخت یې غنیمت ګڼه چې موږ هم مسلمانان یوو او تاسو هم مسلمانان یاست او په اسلام کې خو سرحدونه او بېل هېوادونه مطرح نه دي. د مذهب له اړخه یې پر موږ تسلط مطرح کوه. تا به د اقبال هغه شعر اورېدلی وي چې د طارق په باره کې یې ویلی دی:

هر ملك ملك ماست

که ملك خدای ماست

نو هغوی له دې عقیدې کار اخیسته چې هر چېرته د خدای وطن دی، زموږ وطن دی. نو که ورتللی شو باید ورشو او کلمهٔ الله پکې جاري کړو. دا په داسې حال کې چې الحمدالله په افغانستان کې اسلام موجود و او

دلته چا دا پلمه نشوه کولی چې موږ درغلو او اسلام دروږو، نو ځکه یې له دې لارې کار اخیستل پیل کړل چې تاسو هم مسلمانان یاست او موږ هم؛ نو د بېلوالي ځای نه پاتې کېږي. دوی غوښتل چې له دې لارې په افغانستان کې دا ذهنیت پیدا کړې چې یا د پاکستان نفوذ پخپل وطن کې ومنو او یا هم پاکستانیان راشي او دا وطن ونیسي او اشغال یې کړي.

**پوښتنه: لایق صیب یو څه به باچا خان ته تم شو، ځینې خلکو دی کمونیست باله ځینو بیا ویل چې خان له هندوستان سره اړیکې درلودې، ستاسو په اند باچاخان څوك و او د حرکت موخه یې څه وه؟**

سلیمان لایق: که د پښتنو وروستی معاصر تاریخ ولولئ، دغه سرو جامو اغوستونکو پارټۍ چې وروسته بیا باچا خان په خدایي خدمتگارانو بدله کړه، دوی یوازې په دې چې دغه سره خامتا به یې اغوسته په کمونیستي فکر درولودونکو باندې تورن شول...(په خندا)

دا په داسې حال کې چې خان د ژوند تر پایه پورې د داسې عقیدې لرونکی نه و. هغه یو ساده مسلمان او سوله خوښونکی انسان و خو انگریزانو په لوی لاس دغه کس چې پوه شوي وو، په پښتنو کې یې وده کړې او د هغوی واگې یې لاس ته ورغلي، په داسې افواهاتو بدناموه. پارټۍ یې ورته د کمونیزم د پارټي په نوم تورنه کړه او له دې لارې یې غوښتل چې خان له خپلو خلکو لرې کړي. نو دا چې خان باندې لاره ورکه شوه نو له مجبوریته یې د هند ستر گوند کانگرس ته چې مسلمانان او هندوان دواړه پکې وو، لار وکړه. له خان سره بله لار هم نه وه ځکه چې له

لوی ګوند سره یو ځای شوی نه وای نو د کمونیزم په تور یې په اسانه له منځه وړلای شو.

بل دا چې خان فکر کوه چې په افغانستان کې مرستندویان نلري، ملاتړی یې نشته او حقیقت هم همداسې و.  په نړیوال ډګر کې هم داسې څوك نه و چې د خان ملاتړ وکړي او د پښتنو حرکت سره مرسته وکړي نو دا نظریه یې ومنله چې ټول هندوستان دې د انګریز پر وړاندې یو ځای مبارزه وکړي او له ازادۍ وروسته دې پخپل منځ کې یو فدرالي دولت جوړ کړي. لکه اوس چې هم په هند کې ایالاتونه دي. په فدرالي نظام کې د خان موخه دا وه چې د پښتنو دودونه او رواجونه به خوندي پاتې شي او په دې توګه به یې د پښتنو د ازادۍ په لور یو ګام اخیستې وي، نو د دغسې مجبوریت په اساس د هند کانګرس ته ننوت او دا یې سم کار هم وکړ ځکه چې د استعمار د ماتولو په خاطر باید ټول هندوستان یو شوی وای خو کله چې په هندوستان کې د برطانویانو لخوا داسې طرحې رامنځ ته شوې چې له مخې یې د پښتنو او داسې نورو قومونو لکه بلوڅانو د نفوذ لارې بندې کړې. نو که موږ د دغو شالیدونو سمه لوستنه ونکړو نو د باچا خان په اړه به سم قضاوت ونکړای شو. که تاسې وای که زه او که بل څوك وای، همدا سیاست به یې غوره کوه لکه هغه وخت چې خان غوره کړې و. خو دې کار هم ورته ستونزې پیدا کړې، په دې تورن شو چې خور یې هندوانو ته ورکړې، لور یې هندوانو ته ورکړې او له همدا ډول مذهبي تبلیغاتو نه جدي ګټه پورته شوه. کنه د باچا خان او د ده د هېڅ خپلوان خپلوي له هندو یا له نورو غیر مسلمانانو سره نه ده شوې. څه وروایم دا یو

داسې تور دی، داسې دروغ دي، په يوه اصطلاح چې سړی ورته ښکر باسي. حيرانونکې خبره ده چې هغسې لوی سړی او داسې بې ځایه تورونه. په دې قبايلو کې زه پخپله گرځېدلی یم، په پټو سترگو به يې ويل چې خان خو ډېره بې غيرتي وکړه، خور يې هندوانو ته ورکړې ده. نو ته اوس کور په کور گرځه او د انگرېز د دې استخباراتي شبکې تورونه ردوه.

**پوښتنه: د باچا خان حرکت د لوی افغانستان لپاره و او که یوازې د کربښې اخوا پښتنو لپاره؟**

سليمان لايق: د دې پوښتنې د ځواب لپاره به د انگرېزانو څخه پيل وکړو. انگريزانو په سيمه کې خپلې گټې درلودې. دا اوس وگورئ ډېر وخت کېږي چې انگريزان له هند څخه تللي خو بيا هم د هند له نيمې وچې سره د برطانوي نظام اړيکې پر ځای دي. د بېلگې په توگه اوس انگرېزي ژبې په هغه وچه کې دومره نفوذ کړی چې د هند ټول فرهنگ، دفترونه، زده کړه او ... کنټرولوي او يو دليل يې دا هم دی چې په دې ژبه کې کتابونه ډېر دي، پوهه پکې ده. په هر حال کله چې يو ملت د بل ملت د لاس لاندې د ډېرې مودې لپاره پاتې شي، پايلې يې همدا ډول وي او ځينې نورې ستونزې هم وې. کله چې انگرېزان مجبور شول چې د خلکو د مقاومت او د هندوستان د نيمې وچې د فشار لاندې ورو، ورو دغې سيمې ته ازادي ورکړي؛ نو په دې وخت کې ځينې نور تشويشونه ورسره پاتې و هغه دا چې دوی ويل موږ به ووځو او له شماله به کمونيزم راشي او سيمه به اشغال کړي. روس خو يې اساسي حريف و نو طرحه يې داسې جوړه کړه چې دلته بايد يو اسلامي هېواد جوړ شي ځکه چې مسلمانان داسې خلك

دي چې د غیر دین پر وړاندې له هر څه تېرېږي؛ نو د پاکستان په نوم د مسلمانانو یو داسې هېواد جوړ شي چې نوی منځ ته راغلی وي.

نو اوس خبرې ته راځم یانې که دلته ټول پښتانه سره یو شي؛ نو د اسلامي حکومت څخه به دوی ګټه واخلي، نو طرحه داسې وه چې افغانستان باید په همدې حال پاتې شي، غیر متحرك، تجزیه شوی او یو کمزوری دولت چې د غربي پالیسي مننونکی وي او همداسې وه. زموږ دولتونه (په خندا) که یې غوښتل او که یې نه غوښتل د هغوی د پالیسي لاندې وو. نو همدا وه چې د باچا خان د نظریې مخلافت د انګرېز لپاره یوه مهمه کړنه وه او هغه ټولې لارې یې په خان بندولې چې د لوی افغانستان د بیا جوړېدو نښې پکې ښکارېدې.

له پلوه باید د روس د مخنیوي لپاره یو متحد اسلامي دولت جوړ شوی وای چې په همدې اساس یې پاکستان منځ ته راوست چې د کمونیزم د پرمختګ مخه ونیسي، البته د دې مانا دا نه ده چې په هند که داسې څوك نه و چې د اسلامي هېواد د جوړېدو هیلې ورسره نه وې. هلته هم داسې مسلمانان وو، چې د یو اسلامي هېواد د جوړېدو هڅو کې یې برخه اخیسته او دې ته لېواله و چې له دې هندوانو باید ځانونه خلاص کړي، نو باید وویشل شي او په سیمه کې دې د مسلمانانو یو نوی اسلامي حکومت رامنځ ته شي. د هند د مسلمانانو د همدې لېوالتیا نه برطانیې خپلو موخو ته د رسېدو لپاره ګټه پورته کړه، مانا دا یوه ترکیبي مفکوره وه، چې پاکستان یې وزېږووه.

بل د هغه وخت د افغانستان د سلطنتي چارواکو خبره ده. باچا خان په دې پوهېد چې د افغانستان کمزوری دولت د دې ملاتړ نشي کولی او حتی په دې عقیده و چې نه یې کوي. افغانستان حکومت تصور کوه، که هغه پښتانه بېرته یو ځای شي او یو ځل بیا د هغې پرې شوې ټوټې په یو ځای کېدو لوی افغانستان منځ ته راشي نو هلته ته خو خلکو پرمختګ کړی، زده کړې شوي او روڼ اندي پیدا شوي نو دا موږ چې دغلته دا کوچنی افغانستان خورو او د سلطنت دا سره تاجونه مو پر سر کړي، دا به موږ ته پاتې نشي. یانې حاکمیت به له سلطنتي نظام څخه یو جمهوري دولت ده ولېږدول شي نو د هغه وخت افغاني سلطنتي چارواکو ویل چې زموږ ګټه پکې نه وي موږ لوی افغانستان څه کوو؛ نو د خپلو شخصي ګټو په خاطر یې د باچا خان د خوځښت ملاتړ نه کوه، هو په ټولنه کې د ځینو روڼ اندو د تسکین په خاطر به یې یوه سندره ورسره ویله چې والله ظلم ورسره کېږي، دا کېږي او هغه کېږي.

**پوښتنه: د پاکستان لاسوهنې ته راځوو. دغه لاسوهنه څه وخت او څه ډول پیل شوه؟**

سلیمان لایق: په افغانستان کې د پاکستان لاسوهنه د دغه هېواد د زېږېدو له ورځې پیل شوې ده او د ضیاالحق په وخت کې ورته د عملي لاسوهنې لپاره امکانات پراخ شول. بل په افغانستان باندې د روس یرغل پاکستان ته په دې هېواد کې د لاسوهنې ښه زمینه برابره کړه. هغه خلك چې د هغه وخت د چپ حکومت څخه ناراضه وو او یا یې هغه نه مانه، په ځانګړې توګه د روس له یرغل څخه وروسته همدې خلکو ګډه واخیسته او دسلیمان

له غرونو جنوب ته واوښتل چې دغې سیمې باندې انګریزانو ((صوبه سرحد)) نوم ایښی و چې د باچاخان یوه مسئله د دغه نوم نه منل هم و چې دا ارمان یې ځان سره ګور ته یوړ.

نو همدا وه چې پاکستان ته په افغانستان کې د عملي لاسوهنې ډېره ښه زمینه برابره شوه. ما څو ځله ویلي دي چې دا دغه وروستی جنګ زموږ نه و، بلکې دا د سوپر پاورانو تر منځ و چې د خپلو اقتصادي ګټو او ستراتیژیو پر سر یې پیل کړ. داسې اسناد اوس هم شته چې کله روسیه دلته راغله ځینې مرکزونه په امریکې کې وو چې هغه په دې ډېر خوشحاله شول او هیله مندي ورته پیدا شوه چې اوس به له روسانو د ویتنام غچ بېرته اخلي او پاکستان پکې خپل رول ولوبوه. د هغې ستراتیژي په اساس چې پاکستان جوړ شوی و، تر سلو زیات جنګي کمپونه په دغه سرحد کې جوړ شول یانې د افغانستان د جنوب نه یې راواخله تر ختیځ پورې. دلته د مهاجرینو لپاره کمپونه جوړ شول او دا اوس پټې خبرې نه دي. دوی اوس پخپله دا خبرې کوي، ډېری جنرالانو یې له دې رازونو پرده پورته کړې ده. هغه جنرال یوسف وایي چې دوی به په څلېریشت ساعتونو کې لږ تر لږه سل ټنه وسله افغانستان ته دننه کوله.

خیر دا خبرې اوس ټولو ته څرګندې دي اوس به په دې اړه ډېرو خبرو ته اړتیا نه وي. د دوی همدا نیت و چې دا هېواد اشغال کړي او چې له دوی سره یې مرسته کوله هغو هم د افغانستان د اشغالولو خوبونه لیدل. د افغانستان دننه چې کوم پلانونه طرحه کېدل د غرب څخه به حمایه کېدل چې په سر کې امریکا او ورسره برطانیه وه، ځکه چې شوروي سره په

مخامخ سيالۍ کې امريکا ولاړه وه او په دې بنياد پاکستان يو امتياز واخيست چې تدابير به د دوی وي. د همدې جګړې له برکته د پاکستان ISI اداره هم پياوړې شوه، مشورې يې د غربي چيلينجرانو سره يوځای شوې او له دې طلايي چانس څخه يې د ځان په ګټه او د افغانستان په بربادۍ کې ښه ګټه واخيسته. کنه په يوازې ځان خو دوی د افغانستان غوندې هېواد په مخ کې د يو ماشوم حيثيت درلود. پاکستان دا توان نه درلود چې دې هېواد ته کږې وګورې، لاسوهنه او ا شغال خو لرې پرېږده.

په دې بحث کې دا يوه خبره هم اړينه ګڼم چې هغه افغانان چې د جهاد په ليکو کې د مرکزي دولت پر ضد جنګېدل هغوی هم د پاکستان لاسوهنې ته خوښ نه وو او نه يې غوښتل چې پاکستان دلته واکمن شي، دا د هېرولو خبره نه ده او دا موضوع د يو ګوند يا قوم يا يو کس خبره نه ده بلکې د پاکستان د لاسوهنې پر وړاندې د افغانستان او پکې د ټولو خلکو ګټې تر پوښتنې لاندې راځي او ټول د دې لاسوهنې پر وړاندې له يو سنګر څخه جنګېږي؛ نو پاکستان د همدې خلکو د مېړانې په اساس ناکام شو، هغه خلك چې د جګړو پر وخت له کرښې اوښتي وو په هغو کې هم ډېر کم خلك داسې دي چې د پاکستان په لومه کې به راغلي وي، هغه لښکرې او ولسونه چې په هغو کمپونو کې يې وخت تېر کړی هغوی له ټولو زيات په دې زورېږي چې افغانستان دې د پاکستان تر سيوري لاندې يو هېواد وي. تر دې چې له پاکستان څخه کرکه کوي او ځينې خاطرې چې په هغو کمپونو کې له اوسېدو څخه لري چې هلته ورته څارګرو ادارو ځينې رازونه افشا کړي اوس يې دلته وايي؛ نو افغانستان د افغانستان خلکو

وساته کنه ضیاالحق چې د غرب پیسې ورپسې روانې وې او غرب ورسره ولاړ و او په افغانستان کې له لاسوهنې یې په ښکاره نه منع کوه، نو یو ډېر ښه چانس په لاس ورغلی و.

اوس زه په دې عقیده یم چې باید په کړنو او نظرونو کې بدلون راشي، افغانستان باید له پاکستان سره پخپلو چلندونو باندې غور وکړي.

**پوښتنه: افغانستان ته د بهرنیو راتګ او د اوسني حکومت د جوړېدو را په دې خوا، په دغه هېواد کې د پاکستان لاسوهنې په کومه کچه ارزیابي کوئ؟**

سلیمان لایق: له دوه زرم کال را په دېخوا چې د بهرنیانو او په ځانګړې توګه د امریکایانو راتګ ته زمینې برابرې شوې او غربي هېوادونو د نړیوالو قوانینو په اساس له هغوی سره خپلې مرستې شریکې کړې، په دې موده کې د پاکستان رول یو تابع رول دی. سره د دې چې هڅې کوي چې د بهرنیانو له لارې یو ځل بیا په افغانستان کې نفوذ وکړي خو بیا یې هم څه لاس ته نه ورځي او یو تابع رول لري. پاکستان یو داسې دولت چې په دې اوږدو کې تر ډېره نظامي حکومتي تګلاره لري، پوځ یې ساتي او پرې حکومت کوي چې بېلګې یې په پر له پسې توګه کودتاوې دي چې دغه پوځ هم د غرب په مرسته ساتل شوی دی. بل دا چې افغانستان اوس هغه پخوانی افغانستان نه دی اوس د پاکستان تر لړمون پورې ورننوتی او ښه یې پېژني. نو که اوس پاکستان له افغانستان او هند سره سولیزو مفکورو ته لاړ شي ښه به وي کنه له ډېرو ستونزو سره به مخ شي. هغه پیسې چې

دوی پر پوځ لګوي هغه باید پر هغو بیارغونو ولګوي چې ټولنیز پرمختګ وکړي.

خیر... لرې لاړ نشو؛ خو زه په دې فکر یم چې اوسمهال په افغانستان کې د پاکستان د نېغو لاسوهنو امکانات ډېر کم شوي دي.

-: مننه لایق صیب.

سلیمان لایق: ژوندی اوسې.



افغان تاریخ پوه غلام محمد زرملوال:

# ۴ پاکستان مصنوعي هېواد دی

خپره شوې: پسرلی مجله/ څلورم کال، پرله پسې ۲۵ او ۲٦ گڼه ۱۳۹۰لمریز

**غلام محمد زرملوال د افغانستان له مشهورو لیکوالو څخه دی، چې د افغانستان د وروستیو بدلونو په اړه لیکل شوی اثر- افغانستان تر وروستي افغانه یې مشهور کتاب دی. نوموړي سره مو د لوی افغانستان په تړاو مرکه کړې ده.**

## پېژندنه:

په ۱۳۵٦ لمریز کې په افغانستان کې د بریتانیا په سفارت کې د افغانستان له حکومت سره د ارتباط مسوول وو. د ۱۳۵۷ لمریز په غوایی کې په افغانستان کې سیاسي بدلون راغی او ګڼ شمېر مظلوم او بې ګناه افغانان زندانونو ته واچول شوو او زیاتره یی بې محکمې ووژل شول. په دې لړ کې غلام محمد زرملوال د شپږو میاشتو لپاره هم زنداني شو او له نېکه‌مرغه نوموړی له زندان څخه خلاص او څه موده وروسته پېښور ته کډه شو. هلته د پېښور سپیشل برانچ له اړخه د درېیو میاشتو لپاره بندي او بیا خوشي شو. له هماغه وخته انګلستان ته مهاجر شو.

انجینیر غلام محمد زرملوال د غلام حیدرخان زوی، د یارمحمد خان لمسی د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ د ساکو په شملزیو کې د ۱۳۱۸ لمریز، په وري کې زېږېدلی دی. غلام محمد زرملوال درې زامن او یوه لور لري.

لومړنۍ زده کړې یې د ساکو په لومړني ښوونځي کې په ۱۳۲۶لمریز، پیل او په ۱۳۳۳لمریز، پای ته ورسولې. په ۱۳۳۴لمریز، په کابل کې حربي ښوونځي او بیا وروسته د انجنیرۍ پوهنځي کې شامل شو او په ۱۳۴۳لمریز، یې له دې ځانګې خپل برۍلیک ترلاسه کړ. د هغه وخت د ملي دفاع وزیر په لارښوونه نوموړی او د ده څو تنه ملګري د کانونو او صنایعو وزارت ته معرفي او د افغانستان په کارتوګرافۍ اداره کې په کار پیل کړ.

زرملوال په کال ۱۳۴٦لمریز کې دولتي بورس تر لاسه او د لوړو زده‌کړو لپاره انګلستان ته لاړ. په ۱۳۵۰لمریز کې یې د لندن د اکسفورډ پوهنتون څخه د ماسټري سند ترلاسه او هېواد ته راستون شو. بیا یې هم په هماغه کارتوګرافي اداره کې کار ته دوام ورکړ. څه موده وروسته د کانونو او صنایعو د وزارت په لارښوونه د بګرامیو د ټوکر جوړولو (نساجي) په فابریکه کې د ساختماني چارو امر مقرر شو.

نوموړي د بي بي سي د نړیوالي راډیو د مانیټورنګ په څانګه کې له ۱۳٦۰لمریز، څخه تر تقاعده پورې په کار بوخت وو او په همدغه موده کې یې د بي بي سي د پښتو نړیوال سرویس سره د ویاند، شنوونکي او ژباړونکي په توګه هم دنده ترسره کوله. د زده‌کړو ترڅنګ یې د افغانستان د تاریخ او سیاست پراخه او ژوره مطالعه وکړه.

غلام محمد زرملوال په پښتو او انګلیسي ژبو ګن کتابونه لیکلي او ژباړې یې کړې دي. په پښتو ژبه کې د نوموړي مهم چاپ شوي او ژباړل شوي اثار په لاندي ډول دي:

((دنړۍ تاریخ ته یوه کتنه))، ((زما ولس به ژوندی پاته شي؟))، ((د تېلو جنګ))،((ارګ یا مرګ))، ((له مهاجره تر مجاهده))، ((دپېریانو جګړه))، ((تر وروستۍ افغانه -۵ ټوکه))، ((احمد شاه ابدالي جرګه))، ((د بنګله دېش بې ستري))، ((پاکستان یو مصنوعي هېواد دی)) او ټول یې ۴۴ کتابونه لیکلي او یا ژباړلي دی.

په انګلیسي ژبه کې یې مهم چاپ شوي اثار په لاندې ډول دي:

- په ۱۹۲۲ کال کې (Fire in Kabul) یا اور په کابل کې
- په ۲۰۰۹ کال کې (A case of Peace against War) یا سوله د جګړې په مقابل کې
- په ۲۰۱۰ کال کې (The Swansong of a sinking stooge)

سرچینه:

http://larawbar.net/35350.html

# مرکه:

**پوښتنه: ډیورنډ کرښه یانې څه؟**

غلام محمد زرملوال: زه خوشاله یم چې له تاسو سره خبرې کوم. ما چې ستاسو مجله (پسرلی) وکتله، ستاسو هلې ځلې چې ما کتلي زما لپاره د افتخار وړ دي. ځکه تاسو هغه کارونه پیل کړي دي، چې نن سبا د افغانستان لپاره ضروري دي.

امیر عبدالرحمن خان، چې واقعاً زړور او له حالاتو باخبره باچا و، د ۱۸۹۰ زیږدیز، کلونو په بهیر کې د ګڼ- شمېر بغاوتونو په ځپلو لګیا و. د کلونیالیزم پرخلاف یې مقاومت هڅاوه او ملاتړ یې کاوه. له همدې کبله و، چې مورټایمر ډیورند، "ډیورند لاین" چې نه پر ځمکه او نه پر کاغذ (یانې نه په ډیفکټو اونه ډیجور بڼه وجود) لري، یواځې یوه خیالي او

سایکولوژیکي کرښه ده، په یوه اړخیزه توګه پر امیر تحمیل کړه، ترڅو یې په هغو سیموکې د "نفوذ ساحه"، چې پرنګي ته – د "نظم او قانون" د ساتلو په موخه، په کرایه [لیز] ورکړل شوې وې، محدوده کاندي. نه پرې کوم لاسلیک شوی او نه هم په نړیوالو قوانینو کې کوم اعتبار لري.

د "نفوذ ساحې" د محدودولو په هکله دا پوهاوی لیک د "۹۹ کلونو" لپاره د اعتبار وړ و، چې د هغې نیټې له بشپړیدو وروسته باید بشپړه افغان-خاوره افغانانو ته سپارل شوې وای.

**پوښتنه: په تاریخ کې د ډیورنډ کرښې په اړه مهم مالومات نشته؛ خو په اړه یې بېلا بېل نظرونه راغلي، تاسو تېر تاریخ لوستی او په نوي کار کوئ، دغې کرښې ته په کوم نظر ګورئ؟**

غلام محمد زرملوال: لکه څنګه چې مې مخکې وویل "ډیورند لاین" یوه خیالي کرښه ده – هیڅ فزیکي، قانوني او مشروعې وجود نه لري. هغه یواځنی سند چې پدې برخه کې شته، هغه د ګندمک د پوهاوي-لیک نهمه ماده ده.

د ګندمک پوهاوي لیک په نهمه ماده کې کښل شوي:

۹ ماده: د دواړو دولتونو ترمنځ د دوستۍ د اتحاد د نوي کېدلو په پام کې نیولو سره، چې [د دې پوهاوي لیک] د مخکنیو مادو په ترڅ کې تائید او خوندي شوی دی، د برتانیا حکومت د افغانستان او ملحقاتو جلالتمآب امیر ته د کندهار او جلال اباد ښارګوټي ـ له کُرمې، پشین او سیبۍ پرته ـ د ګردو هغو سیمو په ګډون چې دا اوس د برتانیا د پوځ په لاس کې دي،

ببرته ورسپاري. د افغانستان او ملحقاتو جلالتمآب امیر، له خپله لوري، موافقه کوي چې د کرمې، پشین او سیپي سیمې به، [له دې لاسوند] د مله [ضمیمه] پلان له حدودو سره سم، د برتانیا د حکومت تر حمایې او اداري لاندې پاتې شي.

د دې مانا دا ده چې نوموړې سیمې به د گومارل [کرایه - لیز – [Aassigned] شوېو سیمو په توگه پېژندل کېږي او په داسې توگه به ورته نه کتل کېږي،

چې گوندې هغه د افغانستان د سلطنت له پولو څخه د تل لپاره جلا شوې وي. د دغو سیمو عایدات به، د اداري لگښتونو له اخیستلو وروسته، جلالتمآب امیر ته ورکول کېږي. د برتانیا حکومت به د خیبر او مېچنۍ کنډوونو کنټرول، چې د پېښور او جلال اباد د ضلعو] سیمو] ترمنځ پراته دي ــ او له هغو ازادو قبایلو سره د اړیکو پر گډون چې له دې کنډوونو سره نېغې اړیکې لري ــ هم تر خپل کنټرول لاندې وساتي.

دا پوهاوی لیک د ۱۸۷۹ زیږدیز، (د ۱۲۹٦ د جمادی الثاني پر څلورمه) نېټه د امیر یعقوب خان او میجر ناپولیون کیونای له خوا لاسلیک شوی دی.

**پوښتنه: هر افغان هیله لري، چې له پاکستان سره د ډیورنډ کرښې لانجه دې د لوی افغانستان د جوړېدو په گټه پای ته ورسېږي؛ خو ایا په تاریخي اسنادو کې د دغې هیلې پورې کېدو لپاره لارې چارې لرو؟**

غلام محمد زرملوال: بې له شکه د افغانانو دا هیله به پوره کېږي. ان شاالله تعالی. کله چې په نړیواله کچه تر نړیوالو قوانینو لاندې دا خبره ثابته شي او څرګنده شي څو د پاکستان د پنجاب پر عدالت وګورو چې خبره ډېر ته ولوېږي چې غاصب د ټول-افغان پر خاوره له کوم سند پرته ناست دی، نو هغه به نامشروغ او الغا اعلانېږي اوافغانستان به پر خپل ملکیت کښېني.

**پوښتنه: که څه هم ولس د دغې کرښې د له منځه تلو هیلې لري؛ خو تېرو افغان حکومتونو که څه هم د پردې تر شا دغه کرښه نه دې منلې؛ خو په ښکاره یې د له منځه وړلو لپاره هڅې هم نه دي کړي، مجبوریتونه یې کوم دي؟**

غلام محمد زرملوال: د تېرو افغان حکومتونو مجبوریتونه، له یوې خوا پر خپل ملت د نه باور لرلو له کبله، او له بلې خوا اساساً ستر مجبوریت له کبله چې په نړیواله کچه لکه د ملګرو ملتو په امنیت شورا کې ټول غړي د پاکستان پر پلوي او افغانانو د داعیې پرخلاف ولاړ وو، نه شول کولی دا داعیه مخ ته یوسي. پاکستان د سیتو، سینتو او بغداد تړون غړی او د پرنګي پوځي اډه وه؛ خو اوس د الله په فضل د دې وخت دی، چې افغان ملت خپل تاریخي هېواد جوړ کړي. انشاالله تعالی

**پوښتنه: ځینې نظرونه داسې هم شته، چې له کرښې اخوا افغانان اوس هغه پخواني افغانان نه دي، نه د دې وطن په اړه فکر لري او نه یې د لوی افغانستان د بیا جوړېدو لپاره کومه هڅه کړې، دغه څرګندونې تر کومه سمې دي او که سمې وي؛ د بیورند د له منځه تلو په لاره کې تر کومه خنډ کېدی شي؟**

غلام محمد زرملوال: لومړی خو دا واقعیت په ډاګه کول په کار دي، چې د اتیا ملیوني افغان ملت کومې وړوکې سلنې او یا زرنې هم "ډیورند لاین" نه منلی، نه یې مني او نه به یې ومني. که په کندهار دی، که په پېښور دی او که په بلخ. خو دا خبره هم د هېرولو نه ده، چې ټول افغان ملت باید پدې خبره پوه شي چې د "ډیورند لاین" د نه منلو مسئله د چا پر خوښه اویا ناخوښه اړه نه لري. دا د خپلواکو هېوادونو تر منځ هغه سیاسي لانجه ده، چې د هغې له منځه وړلو پرته نه په سیمه او نه په نړۍ کې سوله او ثبات راتلای شي.

**پوښتنه: اوس مهال چې کوم سیاسي ګوندونه رامنځ ته کېږي؛ نو د ټپل شوې ډیورنډ کرښې په اړه مبهم دریځ خپلوي، دلیل یې څه دی؟ له څه شي ډارېږي؟**

غلام محمد زرملوال: دا د سیاسي ګوندونو او دولتونو له واک او صلاحیت څخه وتلې خبره ده. سیاسي ګوندونه خپل ټول فکر او انرژي قدرت ته د رسیدو لپاره لګوي. دا پر ملت پورې اړه لري. یواځې ملتونه کولای شي چې د خپلې خاورې او ملي نوامیسو په اړه تصمیم ونیسي. هغه چې د دې مسلې په اړه ښکاره دریځ نه لري، نو د خپلې خاورې سره له پیله جفا کوي او په غلطه روان دي.

**پوښتنه: ځینې نوي سیاسي ګوندونه په دې اند دي، چې لومړی باید له کرښې دېخوا د دې راپاتې نیمګړي افغانستان ستونزه حل شي او بیا د کرښې اخوا په اړه فکر وشي؛ دغه دلیل تر کومه ربښتینی او حقیقي بریښي؟**

غلام محمد زرملوال: دا ډول "نوي سياسي گوندونه" ځان غولوي. په "نيمګړي افغانستان" کې اساساً کومه ستونزه نشته. د افغان خاورې غاصبان شپه او ورځ پدې لګيا دي، چې زموږ ملت ته وښيي، چې تاسو ګوندې له هزاره، ازبک، تاجک سره لانجه لرئ. د لوی افغانستان د بيا جوړېدو يا د ډيورنډ د خيالي کرښې د له منځه وړلو مسله د پښتون مسله نه بلکې د افغان مسله ده، د افغانستان مسله ده؛ نو هزاره،ازبک، تاجک او نور ټول هم د همدې لوی افغانستان بچيان دي او د خپل ګرد هېواد له ګټو څخه په کلکه او ايمان دفاع کوي. هېڅ غليم نو نور دا راويښ شوی افغان ملت، په ځانګړې توګه ځوان نسل نشي غولولی او له خپل سپېڅلي هوډ څخه يې نشي اړولی.

**پوښتنه: په دې ټول هم نظره دي، چې د افغانستان د نه جوړېدو يو ستر لامل د پاکستان او د دغه هېواد د څارګرې ادارې ISI لاسوهنه ده؛ خو يو شمېر په دې اند دي، چې پاکستان دغه لاسوهنه د ډيورنډ کرښې د رسمي کېدو په موخه نه کوي، بلکې په دې هېواد کې نورې ګټې هم لري، که چېرې د ډيورنډ کرښې لانجه حل هم شي؛ نو بيا به هم پاکستان په کرار نه وي ناست؟**

غلام محمد زرملوال: پاکستان يو "مصنوعي هيواد" دی، چې پرنګي په ۱۹٤۷ زېږديز، د پرديو خاورو له ټوټه کولو زيږولی دی. د هغه د زېږولو موخه په منځني ختيځ کې د برتانيا د "پوځي اډې" په توګه پر تيلو د پرنګي د ولکې ساتل دي. نو د مونټباټن او اولف کيرو "برتانوي پاکستان" تل خپل پايښت د افغانستان او ټول-افغان ملت په تباهي کې ګوري. خو

افغانان هم نه ماتیدونکی تصمیم لري، اوس ورته زمېنه هم برابره ده او مجبور هم دي، چې له خپل وجود څخه د سرطان دا مرگونې ناروغي د تل لپاره لرې کاندي.

**پوښتنه: د امریکا او افغانستان تر منځ کېدونکی ستراتیژیك تړون به د ډیورنډ پر تپل شوې کرښې څه تاثیر ولري؟**

غلام محمد زرملوال: له امریکا سره ستراتیژیک تړون، چې پر تړ او ناتړ به یې یقیناً افغانان پریکړه د خپلو ملي گټو ته په پام سره کوي، د "ډیورند لاین" له لانجې سره کومې ځانگړې اړیکي نه لري. د "ډیورند لاین" په هکله پرېکړه یواځې او یواځې د افغان ملت په صلاحیت کې ده او بس.

**پوښتنه: د پاکستان د وروستیو بریدونو لامل څه کېدی شي؟ د ډیورنډ کرښې د مسلې سره کوم تړاو لري؟**

غلامحمد زرملوال: د پاکستان له خوا د افغان ملت پر ضد په هر وخت او هره زمانه کې پارونې د "ډیورند لاین" لانجې سره تړاو لري. لاسوندونه د دې واقعیت ښکارندوی دي، چې "په [۱۸۹۳] کې پر دې موافقه شوې وه ،چې د هانگانگ پر مودل – له ۹۹ کاله لیز وروسته به هغه سیمه چې د برتانوي هند شمالي صوبه سرحد په نوم یاده شوه –[په ۱۹۹۳ زیږدیز] بېرته افغانستان ته وروسپارل شي. په کابل کې هېڅ حکومت هم ډیورند لاین او په دې سیمه د برتانیا او یا وروسته بیا د پاکستان ولکه منلې نه وه ". خو پاکستان او پرنگي د خپلو لاسپوڅو افغان اجنټانو له لارې د افغانستان لپاره د ملگرو ملتونو د پنځه فقرییز پلان د سبوتاژ په پایله کې

پر افغانانو د ستم-پرچم تنظیمي لیوان مسلط کړل، چې دا کشاله د تل لپاره خاورو ته وسپاري؛ خو د الله اراده داسې نه وه.

-:مننه

غلام محمد زرملوال: اباد اوسئ



## ۵

## لوی څارنوال عبدالجبار ثابت:
## که جمهور ریس
## د ملي ګټو خلاف تصمیم ونیسي، مخالفت به یې وکړم

پسرلی مجله/ لومړی کال، پرله پسې شپږمه ګڼه/ژمی ۱۳۸۵لمریز

عبدالجبار ثابت له ۱۳۸۵لمریز څخه تر ۱۳۸۷لمریز پورې د افغانستان لوی څارنوال و، چې په هېواد کې د اداري فساد پر وړاندې یې د کلکې مبارزې هوډ وکړ او د جهاد اعلان یې وکړ. د همدې دندې په تړاو مو ورسره مرکه کړې.

## پېژندنه:

عبدالجبار ثابت په ۱۳۲٤لمریز، د لوګر ولایت په محمداغې ولسوالۍ کې زېږدلی دی. ثانوي زده کړې یې د کابل په حبیبیې لېسې کې بشپړې کړې او په ۱۳۵۰لمریز، د کابل پوهنتون له حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي څخه فارغ شوی. ثابت په امریکا کې په ۱۳۵٦لمریز، په حقوقو او اقتصاد کې ماسټري تر لاسه کړې ده.

ثابت، په ۱۳۵٦لمریز، له امریکا څخه افغانستان ته راستون شو او تر ۱۳۵۹لمریز کاله یې په عدلیه وزارت کې د سلاکار په توګه کار وکړ. نوموړی، له دې وروسته د پېښور پوهنتون د منځنی اسیا د مطالعاتو په

مرکز کې د استاد، په پېښور کې د افغان اسلامي پوهنتون د مرستیال او له امریکا غږ راډیو سره د خبریال په توګه دندې تر سره کړې دي.

عبدالجبار ثابت له ۱۳۸۲ تر ۱۳۸٤لمریز پورې د کورنیو چارو وزارت حقوقي سلاکار او له دې وروسته د هېواد د لوی څارنوال په توګه وټاکل شو.

نوموړي په ۱۳۸۷لمریز کې وروسته تر هغې چې په ولسمشریزو ټاکنو کې د خپلې نوماندۍ اعلان وکړ د هماغه وخت د ولسمشر، حامد کرزي، لخوا له لوی څارنوالۍ څخه برطرف کړای شو.

د نوموړي ۱۲ اقتصادي، سیاسي او حقوقي کتابونه لیکلي او ژباړلي، چې ټول چاپ شوي دي.

**سرچینه:**

- ویکیپېډیا
- بي بي سي- فارسي

# مرکه:

**پوښتنه: مخکې له دې چې تاسو کوم ولایت ته د لوی څارنوال په توګه د اداري فساد د څېړنې په موخه سفر وکړئ، ملت درته ډېره تمه لري؛ خو په بېرته راستنیدو کې مو بیا لاس ته راوړنې دومره نه وي؟**

لوی څارنوال: یعنې زه پاتې راځم؟

**پوښتنه: هو، خلک همداسې فکر کوي!**

لوی څارنوال: خو زه تاته وایم مخکې له دې چې پوښتنه وکړې؛ باید ثبوت درسره وي. پرته له مزارشریفه، زموږ کوم داسې کار دی چې پاتې پکې راغلي یوو، ثبوت درنه غواړم؟

**پوښتنه: خو که ووایو، چې ولي پرته له مزاره، یعنې هغه تاسو په خپلو سفرونو کې نه حسابوئ!؟**

لوی څارنوال: ګوره ځینې ستونزې داسې وي، چې د هغو د حل لپاره وخت ته ضرورت وي او بل هلته په مزار کې یو زورګوی سړی واکمن دی. هغه اوس هم لښکرې لري او ما سره یواځې یو قلم دی. هلته باید ما ملامت نه کړئ او بل داسې هم نه ده، کوم خلک چې هغه حمایه کړل، هغه به زه ضرور نیسم او دا خلک به ټول شاهد وي چې زه به یې یوه ورځ د قانون منګولو ته سپارم. دا مې له خپلو خلکو سره وعده ده.

**پوښتنه: آیا تصمیم لرئ، چې په مزارشریف کې مو کوم کارونه نیمګړي پاتي دي، پوره یې کړئ؟**

لوی څارنوال: ولې نه ولې نه. زما کارونه چې د افغانستان د څلور دېرش ولایتونو په هر ځای کې نیمګړي پاتې وي، ټول به پوره کړم. عرض ته مې متوجه شوې؛ نو چې دا نور ختموم، د مزارشریف نوبت به بیا راشي. زه تاسې ته اطمینان درکوم، په مزار کې به دغه زور ګویي تر ډېره پاتې نه شي، ځکه مملکت د قانونیت خوا ته روان دی.

که تاسو له نن نه څلور کاله شاته لاړ شی، تاسو به وګوری چې په هغه وخت کې داشی نه و. هغه وخت دا یو مطلق دیکتاتور و. د یو دیکتاتور په شکل چلند یې کاوه، اما ګوری دا حالت به تغیر کوي. هېچېرته به په دې مملکت کې زورګویي پاتې نه شي.

**پوښتنه: د ملي راډیو تلویزون پخوانی رییس ښاغلی روشن هم تاسو څه موده مخکې د څلور میلیونه افغانیو په اختلاص تورن کړی و؛ خو پرته له دې چې حساب ترې واخیستل شي، استعفایې ورکړه او بهر ته لاړ!؟**

لوی څارنوال: دا سهي ده؛ خو د روښن په هکله موږ خپله دنده ترسره کړې. هغه ښاغلي جمهور رییس معاف کړ او جمهور رییس دا حق لري.

**پوښتنه: که جمهور ریس ستاسو په کارونو کې همداسې مداخله وکړي؛ نو کارونه به مو نیمګړي پاتې نه شي؟**

لوی څارنوال: زما نظر په دې باره کې دا دی، چې جمهور ریس قانوني صلاحیت لري؛ نو ما تاسو ته مخکې عرض وکړ، چې هغه د دې صلاحیت لري چې یو څوک په مرګ باندې محکوم شوی وي؛ ووایي دا معاف کړئ. هغه د دې صلاحیت لري، چې یو څوک په حبس دوام باندې محکوم شوی وي؛ ووایي هغه یو کال ته راولئ او یا یې معاف کړئ. هغه د دوی خپل حق دی او زه په دې باندې هم یقین لرم، چې د جمهور ریس اقدامات زمونږ د ملي ګټو په خلاف نه دي. هغه چې د جمهور ریس په توګه کوم مشکلات لري، موږ یې نلرو. هغه د خپلو مشکلاتو په پام کې نیولو سره ځینې تصمیمونه نیسي او خلک چې د پردې تر شا کوم شی نه شي لیدی، هغوی به جمهور ریس ته ممکن ګوته ونیسي چې دا تصمیم یې ولې ونیو؛ مګر ما ورسره کار کړی، زه د دوی پر کار افتخار کوم. د دې ملک د یو عادي شخص په صفت د یو ډېر عادي فرد په حساب که زه چېرې وګورم چې د جمهور ریس کوم تصمیم د ملي ګټو په خلاف دی، زه به ورته عرض وکړم چې جناب رییس صیب دغه تصمیم زمونږ د ملت د ګټو سره مخالفت لري. زه ور سره موافق نه یم. ما کې دا جرات شته دی.

**پوښتنه: یعنې د روشن په هکله د جمهور رییس تصمیم د ملي ګټو په خلاف نه و!؟**

لوی څارنوال: نه زه خو یې د ملي ګټو په خلاف نه بولم. جمهور رییس صیب ویل، چې ده په خپله دوی ته د تلویزون د استېډیوګانو د جوړولو اجازه ورکړې وه. ما تاسو ته وویل چې د جمهور رییس تصمیمونه یو هم د ملي ګټو په خلاف نه دي. هغه ویلې چې ما روشن ته اجازه ورکړه چې تاسو د تلویزون عواید د تلویزون د سټېډیوګانو په جوړولو باندې ولګوئ. دغه مصرف له تخنیکي لحاظه په قانوني لحاظ اختلاص دی. په تخنیکي لحاظ اختلاص څکه دی چې قانون وایي د دولت عواید باید یو وار حساب دهي ته تحویل شي، د هغې نه وروسته بیا د وزارت مالیې نه تخصیص کیږي، مخارج ته ځي؛ خو دلته له ابتدا نه یو تخنیکي مشکل را منځ ته شوی و. د دولت مقام لخوا دوی ته ویل شوی و، چې تاسې دا پیسې د سټېډیو په جوړولو باندې مصرف کړئ. هماغه و چې کله قضیه میدان ته را ووته، مطبوعاتو ته راووته؛ نو جمهور رییس مداخله وکړه.

جمهور رییس وویل، چې د دغو عوایدو د مصرف اجازه یې ورکړې وه. بنا، دې قضیې قانوني شکل ونیو او فرمان یې د لوی څارنوال په عنوان صادر کړ، چې روشن ته یې اجازه ورکړې وه چې دغه عواید د اعلاناتو له لارې مصرف کړي. اما په عین حال کې یې دا هم موږ ته حکم وکړ، چې تاسې وګورئ، چې دا ربښتیا هم مصرف شوي او که په جیب کې یې اچولي. موږ د هغې پلټنه وکړه. هغه مو ولید پیسې یې مصرف کړې وې. که څه هم د پیسو مصرف په تخنیکي لحاظ اختلاص و؛ اما جمهور رییس اجازه ورکړې

وه. په بل عبارت دغه سړی دلته په راس کې ناست و. دا روښن، دی اصلا د دې مملکت په قانون نه پوهیده. متاسفانه، کنه دغه وړاندیز یې باید هرگز جمهور ریس ته نه وای کړی. ځکه د دولت عواید باید د دولت حساب ته تحویل شي، وروسته له هغې دې وزارت مالیې نه تخصیص واخیستل شي. دی په دې نه پوهیده. ده فکر کړی و، چې دا نو یوه NGO ده، غیر دولتي موسسه ده. بس دی چې پرې څه عواید گټي هغه به مصرفوي. په دې حساب یې جمهور ریس نه اجازه اخیسې وه.

**پوښتنه: د شېرپور د ځمکو مسله لا هم گونگه پاتې؟**

لوی څارنوال: په هغه کې هم ځان ناکام نه بولم. ځکه چې دوه سوه او پنځه څلویښت کسانو چې اکثریت ډېر غټ غټ خلک وو، وزیر صیبان په کې وو، جنرالان پکې وو او په دغو کسانو کې ما تر اوسه په نوي (۹۰) کسانو باندې پیسې تحویل کړي دي. په یوه هفته کې مې یو سل او دوه پنځوس میلونه افغانۍ تحویل کړي دي. نور هم لگیا یم تحویلوم یې؛ اما یو سلسله داسې ستونزې دي چې په عام شکل زما مشکلات نه دي. هغه د مملکت مشکل دی او زه یې له ځینو خنډونو سره مخ کړی یم. امید ده چې په دې خنډونو باندې هم بریالی شم.

زه رښتیا درته وایم چې دا ستا په پوښتنه زه خوشحاله نه شوم ځکه یو مزار په گوته کوئ، تاسو په نورو ولایتونو کې زما کامیابي گانې هېڅ په نظر کې نه نیسئ. د مثال په ډول ما شرقي زون ته سفر وکړ، په درې ولایتونو کې ما داسې خلک نیولي، چې ستاسو مملکت کې هغوی ته چا

لاس نه شو وروړلی. هغوی د دې دولت دومره دارایي حیف او میل کړې وه چې که ما او تاته یې راکړي؛ نو چې بل هېڅ کار هم ونه کړو او نهه (۹) نسله نور راپسې هم راشي، د هغوی لپاره هم بس دي چې ډوډی پرې وخوري او ښه ژوند پرې وکړي. هغه داسې خلک وو چې دا اوس هم مثلا په هغوئ پسې پنځه موټر منظم باډیګارډان ګرځېدلو او هغوئ د دولت قدرت ته چلینج ورکاوه؛ هغه مې نیولي دي. تاسو دا زما په کامیابۍ کې نه راولئ؛ فقط یوه مسئله ده چې مزار کې مو نیولې ده.

**پوښتنه: ایا ولسمشر په پوره توګه ستاسو ملاتړ کوي! نو که کوي یې، ولې ستاسو ځینې کارونه نیمګړي پاتې کېږي؟**

لوی څارنوال: زه به تا ته د یو ژورنالیست په صفت ووایم کله چې ته پوښتنه کوې، باید مشخص دلایل ولرې. تاسو ماته وایئ، چې زما کارونه ولې نیمګړي پاتې کېږي؛ خو زه باید ووایم چې د جناب جمهور رئیس صیب ملاتړ له ماسره دی. تاسې به بیا بیا له مطبوعاتو اورېدلي وي چې رئیس جمهور صیب له ماسره خپل ملاتړ اعلان کړی او ویلي یې دي چې زه به د ده ملاتړ کوم. حتی زما دفاع یې کړې او د کابینې غونډې ته یې ویلي چې زه د ده د مېز د تفتیش کولو صلاحیت هم لرم. له دې خبرې وروسته یې بیا بیا زما ملاتړ کړی دی.

ګوره وروره! زموږ او ستاسې په ټولنه کې د بلې هرې ټولنې په شان غله هم شته او لاروهونکي هم شته. ډېر غله زما له اجراتو متضرر کېږي او متضرر شوي هم دي. اکثره دغه غله جمهور رئیس ته مراجعه کوي او زما

لخوا ورته شکایت کوي؛ مگر جمهور رئیس په دې پوهیږي، چې زه د هغه هدف لپاره کار کوم، د کوم لپاره چې د ده لخوا ټاکل شوی یم. هغه د فساد له منځه وړل دي.

دوی دغه خلک بیا بیا په خوله وهلي. ورته ویلي یې دي، چې د څارنوال د اجراتو ملاتړ کوي. د قانون ملاتړ کوي. د لوی څارنوال اجرات قانوني دي. دا تاسو چې وایئ نیمګړي، زما اجرات نیمګړي نه دي. په استثنا د یو ځای چې هغه ما مخکې تاسو ته عرض وکړ، چې ځینې وخت سړی انعطاف کوي، په شا ځي؛ خو دا زما انعطاف نه دی، دا د دې ټولنې انعطاف دی. عرض ته مې متوجه یې! یعنې منظور مې مزارشریف دی. له هغه ځایه پرته زه بله نیمګړتیا نه منم. زما په کار کې به نیمګړتیا نه وي.

**پوښتنه: تاسو د دلیل او د خپلو نیمګړو کارونو خبره وکړه، نو د شبرپور مسئله یې یو مثال نه شی کیدی؟**

لوی څارنوال: هغه ما مخکې تاسو ته عرض وکړ. ګورئ دوه سوه او پنځه څلوېښت کسان وو. په دې کسانو کې مې په نوي (۹۰) کسانو باندې یسې تحویل کړي دي او نورو ته هم روان یم. داسې نه ده چې زه دغلته ودریدم، متوجه شوې. دا یوه چاره ده. تقریبا نیمې ته رسیدلې ده او لا هم لګیا یوو؛ مګر یو شی زما په کار کې خنډ شو او هغه دا چې یو تعداد خلکو جناب جمهور رئیس ته یوه ډېره اوږده عریضه ترتیب کړې وه او ورته یې ویلي و، چې موږ سره څه نشته موږ ته تاسې موقع راکړئ چې دغه پیسې په یو اوږد قسط باندې تحویل کړو تر اوسه په دې باره کې

جمهور رئیس صیب تصمیم ندی نیولی او ما له دوئ سره خبرې کړي دي. امید ده چې موږ له خیره بیا کېنو او بیا په دې مسئله خبرې وکړو. په هر حال ناکامي به هغلته وي، چې زه مطلق ودرېږم او زما د خلکو، زما د ملت له مانه تمه وشکېږي. ووایي چې یاره د دې سړي نور دغه کار له لاسه نه کیږي. که څه شی مې له لاسه ونشي؛ نو دا خپلو خلکو ته اعلان کوم چې زه ناکام شوم، لکه په مزار شریف کې.

وینئ! ما درته وویل، چې هلته یو زورګوی سړی دی. هغه هلته لښکر لري او ما سره یو قلم ده. متوجه نه شوې. هغلته باید په ما باندې ملامتي وانه چوئ. دا تاسې ژورنالیستان، ماسره ظلم کوئ. تاسې ماسره جفا کوئ. زه ښښنه غواړم زه شرمېږم، کله چې ماته یو څوک وایي ستا کامیابي څه دي! ستا بریاوې څه دي! زه د خپلو بریالیتوبونو په شمېرلو شرمیږم. وا دې وربېدل. ځکه زه لاپې نه وهم چې دا مې کړي او دا مې کړي. اما له دې سره بیا حساسیت ښه یم، چې ما خلک بې ځایه پړ بولي. وایي چې ناکام شوی یې. ناکام شوی نه یم؛ زه د دې شهامت لرم، که ناکام شم؛ نو خپلو خلکو ته وایم چې زه ناکام شوی یم. بیا هم د مزار مسئله تر اوسه پورې داسې نه ده، چې یا هغه وتښتېد او یا زه وتښتېدم. یا هغه خلک یې چې حمایه کړې دي د تل لپاره به پاتې وي. نن سبا یې ګوره چې هغه خلک به د قانون منګولو ته وسپارل شي.

پوښتنه: یو وخت ستاسې او د صبغت الله مجددي تر منځ ناندرۍ روانې وې؛ خو پایله یې خلکو ته څرګنده نه شوه؟

لوی څارنوال: نو زما او د هغوئ تر منځ ناندرۍ نه دي ختمې شوي. هماغسې پاتې دي. لکه د هرات شاروال ته مې چې اشاره وکړه، مجددي هغه سړی حمایه کاوه. حتی هغه دې ته حاضر شو چې رئیس جمهور ته یې اخطار ورکړی و چې که لوی څارنوال په دوه میاشتو کې لرې نه شي نو دی به استعفا ورکوي؛ خو زه تر اوسه پورې یمه او دی استعفا نه ورکوي. نور کوم خاص مشکل زما او د هغه تر منځ نشته.

**پوښتنه: موږ یې هم وینو او تاسو هم دا خبره په تلویزوني مرکو کې کړې چې چېرته ځئ؛ نو خلک مو تود هرکلی کوي. سړکونو ته درته راوځي یعنې د خلکو په زړونو کې مو یو څه ځای موندلی؛ نو په همدې حالاتو کې مو زړه کې نه دي تېر شوي چې د جمهوري ریاست په راتلونکو ټولټاکنو کې ځان کاندید کړئ؟**

لوی څارنوال: نه قطعا نه. زه دومره جاه طلب سړی نه یمه چې د لوی څارنوالي نه جمهوري ریاست ته ځان ورسوم. زه دا فکر کوم چې کرزی د افغانستان لپاره ښه ولسمشر دی.

پوښتنه: خو داسې ویل کېږي چې کرزی په خپلو ژمنو کې پاتې راغلی. هغه تاسو ځکه په مهم پوست وګمارلی، چې که چېرې تاسو پاتې شئ؛ نو هغه به خپله ناکامي ستاسو په ناکامۍ کې توجیه نه کړي!؟

لوی څارنوال: نه نه داسې نه ده. لومړی خو کرزی پاتې نه دی راغلی. راځئ چې له نن څخه څلور کاله وروسته لاړ شو، هغه حالت را په زړه کړو، هغه وختونه رایاد کړو چې کرزي ته پکې د جمهوري ریاست دنده

وسپارل شوه او اوس څومره بدلون راغلی دی. ما مخکې هم درته وویل چې زما په فکر کرزی د افغانستان لپاره وړ رئیس جمهور دی. بل دا چې هر کار او هر څوک نیمګړتیاوې لري. بل خبره زما د پاتې راتلو ده. زه د اوسني حکومت یو غړی یم. دلته کابینه ده، دلته اردو ده، دلته ستره محکمه ده؛ نو د یو کس په ناکامي ټول حکومت نه ناکامېږي. که زه ناکام یم د کورنیو چارو وزیر به کامیاب وي. که زه ناکام یم قاضي القضات به کامیاب وي. که زه ناکام شم یو والي به بریالی وي. زما عرض دا دی چې د یو دولت د یو مامور ناکامي د هماغه دولت د جمهور رئیس له ناکامي سره برابره خبره نه ده.

که یو جمهور رئیس یو ناکام مامور لري؛ نو شل به کامیاب لري. زه دا نه منمه که څارنوال دندو کې ناکامیږي؛ نو دا د رئیس جمهور ناکامي ده.

پوښتنه: له هغې ورځې چې تاسو په دې دنده ګمارل شوي یاست، تر دې دمه که ستاسو چارې ستاسو په ذهن کې د یوې شېبې لپاره تېرې شي؛ نو بیا هم غواړئ، چې د افغانستان لوی څارنوال اوسئ؟

لوی څارنوال: هو، آماده یم له دې ستونزو سره سره غواړم کار ته دوام ورکړم. ستونزې خو ډېرې دي څومره چې کار کوې هومره ستونزې ډېرېږي. ما مخکې تاته وویل چې زموږ په ټولنه کې د بلې هرې ټولنې په شان بد عناصر شته او دغه بد عناصر د خپلو شخصي ګټو لپاره هر څه کوي. دغه قوي خلک دي، عادي خلک نه دي. دوئ زما پرخلاف ډول ډول سازشونو څخه کار اخلي.

**پوښتنه: خو یو وخت تاسو ویلي و، چې که څوک مو کار ته پرې نږدي؛ له دندې به لاس په سر شئ؟**

لوی څارنوال: هو یو وخت ما ویلي و که ما څوک کارته پرې نږدي؛ نو زه به له دندې څخه لاس په سر شم. خو رئیس جمهور راته وویل چې نه که ته داسې وایې دا به ستا کمزوري وي. نو اوس زه وایم چې تر هغې به خپلو خلکو ته کار کوم تر څو چې مې خپل مټ کې وس وینم او که داسې شوه چې زه نور ناکامیدم، داسې یو شی رانه جوړ و، چې ټول کار مې تر خپله میزه را لنډه شوی و؛ نو بیا به ووایم چې بس.

**پوښتنه: پخپلو ولایتي سفرونو کې له کوم یوه څخه راضي یاست، کوم والي درسره مرسته وکړه؟**

لوی څارنوال: یاره دا خو به درته ووایم چې د مزار له سفر پرته نور له ټولو سفرونو راضي یم. د والیانو خو د ننګرهار والي هغه هم کله چې زه ترې راغلم؛ نو یو څه مخالفت یې زما له کارونو سره ښودلی و. د خوست والي هم یو څه ورانی کوه. خوست کې ما دوه ورځې تېرې کړې او هلته ما د قومي جرګو له لارې ځینې ستونزې حل کولې؛ نو تر دې چې والي خپلو امنیتي کسانو ته ویلي و، چې ستونزې را ته پیدا کړي.

**پوښتنه: کله ډار شوي نه یاست؟**

لوی څارنوال: نه، ډاربږم نه. ځکه نه ډاربږم چې موږ مسلمانان یوو او مسلمان په دې عقیده لري چې کله یې د مرګ نېټه پوره شي؛ نو هغه بیا بله کېږي نه. زه پرته له باډیګارډ او ساتونکي څخه خپل موټر کې کښنم او

یو لوري ته حرکت کوم لکه خوست ته چې تللی وم. ما خوست کې د غرمې ډوډۍ د قومي جرګې سره وخوړه او د دې ټولو خلکو په وړاندې په خپل موټر کې لکه څنګه چې مې درته مخکې وویل سپور شوم او د ګردېز په لور و خوځیدم. اوس خو ټېلفونونه را پیدا شوي په هر کیلومتر سړی چا ته احوال ورکولی شي. کله کله امنیتي چارواکي پر ما ډاربږي، هغوئ مې بیا امنیت نیسي؛ خو زه ورته وایم چې دا کار مه کوئ.

**پوښتنه: لوستنه کوئ؟**

لوی څارنوال: زه یو زده کوونکی پاتې شوی یم. لوستنه مې ډېره خوښېږي. ښه کتابونه لرم خو متاسفانه چې اوس مې مصروفیتونه دومره ډېر شوي، چې مطالعې ته دومره وخت نه پیدا کوم. ما اوس یو دوه کتابونه شروع کړي. یو هغه د پروېز مشرف لیکنه ده، چې په انګرېزي لیکل شوې، پښتو کوم یې او بل د باغبان په نوم د ټېګور یو ناول دی، هغه پښتو ته را ژباړم. د دې ناول په هکله به درته ووایم چې جناب جمهور رئیس ته مې ډالۍ کړی دی.

**پوښتنه: چاپي رسنۍ خو به لولئ؟**

لوی څارنوال: دومره نه. یواځې غټ عنوانونه یې لولم او که کله پکې کومه ډېره ضرور موضوع راغلې وي؛ نو هغه بیا ټوله لولم. ضرور خبره دا ده چې زه دلته سهار راځم. زما د خلکو سره سروکار وي. زیاتره داسې خلک راځي چې کار یې له ما سره نه وي. کار یې ستره محکمه کې وي، کار یې د کورنیو چارو وزارت کې وي او راځي ماته؛ نو دا چې بیا دغسې خلکو ته

قناعت ورکوي؛ نو شل پنځه ویشت دقیقې وخت دې کې ضایع شوی وي. کله چې زه د مراجعیونو له لیدلو څخه خلاصیږم؛ نو یوه بجه وي بیا مې سر گرځي نو د لمونځ اودس څخه وروسته ځان دې ته برابروم چې جلسو او کتنو ته لاړ شم. کله چې کور ته ورسیږم بیا ستړی یم او د لوستلو توان نه لرم.

**پوښتنه: تاسو مخکې د دوه کتابونو خبره وکړه چې را ژباړئ یې، نو مالومیږي چې له ادبیاتو سره هم پاتې شوي یاست. تر اوسه مو څومره لیکنې یا کتابونه چاپ شوي دي؟**

لوی څارنوال: د لیکنو به درته څه ووایم؛ خو دولس کتابونه مې چاپ شوي دي، چې د ټولو نومونه اوس نه شم اخیستی.

**پوښتنه: په اوسنیو لیکوالو کې مو د چا لیکل خوښیږي؟**

لوی څارنوال: والله په لیکوالو کې مې شپون خوښیږي. دی ښه لیکنه کوي. نه پوهیږم چې دا استعداد یې له کومه کړی.

**پوښتنه: له شعر او شاعري سره څنگه یاست؟**

لوی څارنوال: یو وخت مې شاعري کوله؛ خو اوس را څخه پاتې ده. شعر مې خوښیږي، شعرونه لولم.

**پوښتنه: د چا شعرونه ډېر خوند درکوي؟**

لوی څارنوال: په پخوانیو کې مې د حمید مومند او کاظم خان شیدا شاعري خوښېږي او په اوسنیو کې نو دا نور دې را څخه نه خپه کېږي، د درویش دوراني شاعري مې ډېره خوښه ده.

پوښتنه: موسیقی اورئ؟

لوی څارنوال: بیخي یې نه اورم. خوښېږي مې خو نه یې اورم.

**پوښتنه: یعنې څنګه مخکې مو اورېده؟**

لوی څارنوال: مخکې مې ډېره اورېده؛ مګر اوس یې نه اورم. موسیقي مې خوښېده اوس مې هم خوښېږي؛ خو نه یې اورم.

علما وایي چې اورېدل یې ډېره ګناه لري؛ نو همدا ده چې زړه مې نه غواړي. کیسه به یې درته وکړم. یو وخت مې له جلال آباد څخه پېښور ته په موټر کې سفر کوه. تر یو ځایه چې لاړو؛ نو موټروان د سندرو کېسټ ورواچوله. زما په څنګ کې یو کس ناست و هغه د سندرو د اورېدو سره سم خپل غوږونه بند کړل. زما چې ورته پام شو نو موټروان ته مې وویل چې کېسټ بند کړه. له دې سره پاتې خلکو شور وکړ، چې وروره که ته یې نه اورې نو ښکته شه، ټیپ ولې بندوې. ما ورته کړه چې زموږ دغه ورور د سندرې د اورېدو سره سم خپل غوږونه بند کړل؛ نو که چېرې دی وایي چې سندرې اورېدل بد کار دی؛ نو موږ به قانع کړي او که چېرې موږ وایو چې ښه کار دی، دی به قانع کړو. شکر دی موږ هم مسلمانان یوو، راځئ چې ځان پوه کړو. همدا وه چې هغه سړي د حدیثونو په رڼا کې دا ثابته کړه، چې موسیقي اورېدل ګناه لري. بله خبره دا ده، چې ماته تر

اوسه کوم ملا دا فتوا نه ده راکړې، چې موسیقي اوره؛ نو که کوم ملا پیدا شي چې راته ووايي په دې دلیل موسیقي اوره، ګناه نه لري. زه به يې په ډېره خوشحالی اورم.

**پوښتنه: نو کله مو هڅه نه ده کړې، چې دغه فکر پاتې ټولنه کې هم خلکو ته ورسوئ؟**

لوی څارنوال: نه. دا خو زما کار نه دی او نه کېږي. زه د همغې ورځې وروسته چې کله به پېښور کې موټر ته وختم، هلته دې ښاري بسونو کې په لوړ غږ کېسټې چلول کیدې؛ نو زه چې به موټر ته وختم، دا چې غاړه مې خلاصه کړې وي؛ نو غږ به مې وکړ چې دا کېسټ بند کړئ. موټروان به راته ښیښه کې وکتل او غږ به يې کړ کابلیه کوز شه. پاتې خلکو به هم شور جوړ کړ چې دا ته څه وایې؛ نو هغه هم مسلمانان وو نو وینې دا ګران کار دی؛ نو که خدای دومره توفیق راکړي چې دا خپل ځان سم کړو نو دا به هم ښه وي.

**پوښتنه: کله چې ډېر ستړی شئ؛ نو په څه شي ځان ارامویئ؟**

لوی څارنوال: ویده کېږم. خوب د مغزو لپاره ډېر ښه ارام وي. ځيني خلک وايي چې ستړی شم نو تلویزون ګورم یا رادیو اورم؛ خو زما په نظر دغه شیان د ماغ لاستړی کوي. د ارام لپاره له ټولو ښه شی خوب دی، که زه د نیم ساعت لپاره ویده شم؛ نو کولی شم نیمه ورځ ښه کار وکړم.

**پوښتنه: یوځل بیا به ستاسو دندې ته راشوو؟**

-: پوښتنې دې نه دي خلاصې؟

-: بس یو څو پاتې؟

-: ښه وایه

**پوښتنه: که د نړیوالو مرستې نه وي؛ نو بیا به هم خپله دنده همداسې پرمخ یوسئ؟**

لوی څارنوال: یاره! د نورو په هکله خو څه نه وایم؛ خو له ما سره بهرنیانو مرسته نه ده کړې. هیڅ ډول مرسته له ما سره نه ده شوې. حرام دې وي پرته له دوه موټرو چې ماته یې راکړي دي؛ نور ماته چا یوه شانزده پولۍ هم نه ده راکړې. نه ماته او نه زما څارنوالانو ته. هو زه په دې هڅه کې یم چې یو څه پیسې لاس ته راوړم چې د څارنوالانو هغه معاش چې حکومت یې ورکوي، یو څه ورزیات کړم. کېدی شي په دې کار ځینې څارنوالان که په فساد ککړ وي، لاس په سر شي. تر اوسه پورې ما سره چا یوه افغانۍ هم کومک نه دی کړی. ماته ویل کیدل، چې د نزدې وخت خبره ده چې موږ به تاته د سېټاژ کورس پیل کوو. ما د حقوقو او شرعیاتو ۱۵۰ نوي فارغین ونیول. دوئ ترینینګ ته ضرورت لري. نو هېچا دغه مرسته له موږ سره ونکړه. اوس مو خپله تصمیم ونیوه، چې دغه کار په تش لاس باندې شروع کړو. دغه اوس چې زه او ته خبرې کوو هلته کار روان دی. دوئ ته تقسیم اوقات جوړېږي. یوه ستونزه وه چې هغه د کمپیوتر خبره وه اوس خو باید د نوي عصر سره زموږ ځوانان د کمپیوټر زده کړې هم ولري؛ نو له نېکمرغه کومه موسسه ده، چې هغوئ پروسږکال لس سیټه کمپیوټرونه ورکړي وو او شپږ نوي راغله. شپاړلس سیټه مو پیدا

کړل؛ نو له مسلکي زده کړو سره کمپیوټري زده کړې به هم ورکوو. زما کار په بهرنۍ مرستې پورې اړه نه لري.

**پوښتنه: که د راتلونکي پلان په اړه مو څه ووایاست؟**

لوی ښارنوال: زه یو پلان لرم او هغه به نور هم پراخېږي. زه باید داسې خلک وروزم، چې هغوئ له دې ځایه د مثال په ډول ننګرهار ته، پکتیا، بغلان او داسې نورو ولایتونو ته لاړ شي هلته جرمونه ثبوت کړي، هلته فساد ثبوت کړي، په داسې جامو کې چې څوک یې ونه پېژني باید زموږ ښارونکي کال دولس میاشتې د افغانستان د ټولو ښارنوالیو دفترونه وپلټي. یو خو په عام شکل موږ د قانون د پلی کیدو څارنه کوو او بل دا چې موږ د خپلو ښارنوالیو څارنه وکړو؛ نو د دې لپاره موږ ګروپونه برابر کړي دي. پرون ځینې ولایتونو ته زموږ پنځه ګروپونو لاړل له کابله نیولې، هرات، مزار، ننګرهار او غزني ته.

بل پروګرام مو دا دی چې ښارنوالۍ مسلکي کړم. مسلکي کارکوونکي ورته راولم. د حقوقو، شرعیاتو او پولیسو خلک. ځکه چې ښارنوالي یو مسلک دی، حقوق دی؛ نو باید همدا خلک پکې اوسي.

زما بل پروګرام دا دی، چې که وکړای شم ښارنوالي ځوانه کړم؛ خو قانون اجازه نه راکوي. قانون ځکه اجازه نه راکوي هغه څوک چې ۲۰ – ۴۰ کاله یې خدمت کړی او عمر یې هم تقاعد ته ندی برابر او زه یې تقاعد کړم؛ نو مشکل جوړېدی شي. خو زه کوشش کوم چې ښارنوالي ځوانه کړم هغه با

کفایته تکړه او پاک ځوانان چې ډېر ښه کار وکړای شي. اوس مې هم دا کار کړی دی. یو څه ځوانان مې را وستي دي.

**پوښتنه: شمال ختیځو ولایتونو ته مو د سفر پلان څه وخت دی؟**

لوی څارنوال: انشالله ډېر زر. زه اوس د جنوب ختیځو ولایتونو څخه راغلی یم. زړه مې دی چې لوګر ته لاړ شم. له لوګر څخه وروسته بهر ته سفر لرم. یو څه مریض یم د درملنې لپاره ځم. له خیره چې له بهر څخه راغلم؛ نو بیا نیت لرم چې شمال ختیځو ولایتونو ته سفر وکړم.

نورې به دې پوښتنې خلاصې شوې وي!

-: یوه پوښتنه مې پاتې؟

-: وې کړه.


**پوښتنه: تاسو خو د فساد پر ضد جهاد پیل کړی، آیا پخپله هم کله مجاهد پاتې شوي یاست؟**

لوی څارنوال: هو الحمدالله په تېر جهاد کې مې برخه اخیستې او تر هغې مې جهاد کړی تر کومې چې و.

-: مننه چې موږ ته مو وخت راکړ.

لوی څارنوال: کامیاب اوسې.

**له ولسمشر حامد کرزي سره د پاکستان د جیو تلویزون د مرکې پښتو ژباړه:**



## ۶

## ولسمشر حامد کرزی:
## زه د هغه افراطیت په اړه خبرې کوم، چې له پاکستانه سرچینه اخلي

**جیو تلویزون: د اکتوبر ۲۱مه، ۲۰۱۱زېږدیز**

**ژباړه: پسرلی مجله شپږم کال - ۲۶-۲۵ گڼه زمری او لړم۱۳۹۰لمریز**

حامد کرزی د لنډې مهالې ادارې او انتقالي دولت له ریاست کولو وروسته د ۱۳۸۳لمریز د جمهوري ریاست په لومړیو انتخاباتو کې د رایو په اکثریت د افغانستان جمهور رئیس وټاکل شو او د هماغه کال د قوس په ۱۷مه، یې د وفادارۍ لوړه وکړه. حامد کرزي د دویم ځل لپاره د ۱۳۸۸لمریز د جمهوري ریاست په انتخاباتو کې ځان کاندید کړ او د دویم ځل لپاره جمهور رئیس شو . دغه ژباړل شوې مرکه یې له جیو تلویزون سره په کابل کې کړې وه.

**پېژندنه:**

حامد کرزی د عبدالاحد کرزي زوی د ۱۳۳٦لمریز د لیندۍ په ۹مه، د کندهار په کرز کلي کې زېږېدلی دی.

حامد کرزی د حبیبیې لیسې څخه تر فارغیدو وروسته په ۱۳۵۵لمریز، د نورو زده‌کړو لپاره هندوستان ته لاړ. د دغه هېواد په شیمله پوهنتون کې یې د نړیوالو اړیکو او سیاسي علومو په څانګه کې زده‌کړې پیل او ماستري تر لاسه کړه.

حامد کرزي په ۱۳٦۴لمریز، د ژورنالیزم په څانګه کې د درې میاشتنۍ روزنیزې دورې لپاره فرانسې ته لاړ او له را ستنېدو وروسته د پروفیسور صبغت الله مجددي په مشرۍ د ملي نجات جبهې د اطلاعاتو اداري د امر او بیا وروسته د دغه تنظیم د سیاسي دفتر مرستیال شو.

حامد کرزي د مجاهدینو د لنډمهاله حکومت په رامنځته کېدو سره په ۱۳٦۸ لمریز، د حکومت د رئیس د بهرنیو اړیکو دفتر د ریاست دنده پرغاړه واخیسته.

حامد کرزی په افغانستان کې د مجاهدینو د حکومت له تاسیس څخه وروسته په ۱۳۷۱ لمریز، د بهرنیو چارو وزارت د سیاسي معین په توګه وګومارل شو او دوه کاله وروسته، چې کورنۍ جګړې پیل شوې، کرزي دولتي دنده پرېښوده.

حامد کرزي د ۱۳۸۰ لمریز د لیندۍ په ۱۴مه، د بن کنفرانس د ګډون‌والو لخوا د لنډمهالې ادارې رئیس وټاکل شو. همداراز د ۱۳۸۱ لمریز د غبرګولي په ۲۳مه، د بېړنۍ لویې جرګې د ګډون‌والو له خوا د افغانستان د اسلامي انتقالي دولت رئیس شو.

حامد کرزی د ۱۳۸۳ لمریز د جمهوري ریاست په لومړیو انتخاباتو کې د رایو په اکثریت د افغانستان جمهور رئیس وټاکل شو او د هماغه کال د قوس په ۱۷مه، یې د وفادارۍ لوړه وکړه. حامد کرزي د دویم ځل لپاره د ۱۳۸۸ لمریز د جمهوري ریاست په انتخاباتو کې ځان کاندید کړ او د دویم ځل لپاره جمهور رئیس شو .

کرزي په ۲۰۰۲ زېږدیز له شیمله پوهنتون څخه افتخاري دوکتورا ترلاسه، په ۲۰۰۳ز، کې یې د ازادۍ جایزه، د ۲۰۰۴ز، په اپریل کې یې د نړۍ د بریالیو ولسمشرانو جایزه، د ۲۰۰۴کال په جولای کې د فلادلفیا د ازادۍ

جایزه او د ۱۳۸۵ لمریز په عقرب کې یې د اندرا ګاندي د سولې، پرمختیا او بې وسلې کولو جایزه ترلاسه کړې ده.

سرچینه: د ارګ ویبپاڼه

## مرکه:

پوښتنه: ښاغلی ولسمشر صیب! ډېره مننه، چې یو ځل بیا مو جیو تلویزون ته وخت ورکړ، چې ستاسو نظرونه د پاکستان خلکو او ټولې نړۍ ته ورسوي.

ولسمشر صیب په پښتو، دري او انګلیسي روانې خبرې کوي او په اردو پوهېږي او ویلی یې هم شي؛ خو موږ به په اردو پوښتنې وکړو او هیله مو دا ده، چې په انګلیسي ځواب راکړل شي.

**ښاغلی ولسمشر صیب! په پاکستان کې د دوه ګوندونو (پیپل ګوند او ایم کیو ایم) اړیکو د دغه هېواد ولس پرېشانه کړی دی. دوی یوه ورځ دوستان وي او بله ورځ دښمنان. له هېواده بهر تاسو یوه ورځ پاکستان ته دوست هېواد وایئ او بله ورځ یې دښمن بولئ. یوه ورځ تر منځه ښې**

**کلمې کاروئ، ګډ کمېسونونه جوړوئ او بله ورځ پر یو بل تورونه لګوئ؛ نو موږ عام خلك نه پوهېږو، چې دې ته د دوستي نوم ورکړو، که د دښمنۍ؟**

ځواب: ګرانه وروره! افغانستان ته په خیر راغلئ، په پاکستان کې خپلو ورونو او خویندو ته هم سلامونه کوم.

د پاکستان له جوړېدو وروسته یانې ٦۴کلونه وړاندې څخه، د پاکستان او افغانستان اړیکې ډېرې وخت د شك او بې باورۍ تر سیوري لاندې پاتې شوې دي. د دغه ډول اړیکو سیورى د دې دواړو هېوادونو د خلکو پر ژوند او د سیمې په کچه یې د دواړو هېوادونو پر چلند منفي اغېز کړى دى. په افغانستان کې زما په مشرۍ د نوې ادارې له جوړېدو وروسته، په ځانګړې توګه د ٢٠٠٦ او ٢٠٠٧ ز، کلونو وروسته هېڅ‌چا، نه کوم ولسمشر او نه هم کوم حکومت د پاکستان پر وړاندې تر دې حده له اخلاص او رښتینولۍ څخه کار نه دى اخیستى او نه یې هڅه کړې ده. د افغانستان او پاکستان د امن جرګې جوړول مې شخصا خپل نوښت و. همداراز د کمېسونونو جوړول، د سولې لپاره هڅې، پاکستان ته پرله پسې سفرونه او کتنې او ټول هغه پروګرامونه چې په افغنستان او پاکستان کې مو درلودل، دا هر څه د دوستانه اړیکو لپاره و. موخه مو دا وه، چې هغه خنډونه، بې باوري او خړ پړ حالت له منځه یوسو او پر ځاى یې داسې اړیکې پیدا کړو او ویې ساتو، چې دواړه هېوادونه سره نږدې کړاى شي. خلك له موږ پوښتنه کوي، راتلونکي نسلونه له موږ پوښتنه کوي، چې ولې د افغانانو په زړه نتیجې ته نه یوو رسېدلي؟ ولې مو د افغانانو هېلې پوره

کړې نه دي؟ پوښتنه همدلته ده، چې ولې موږ دغو نتیجو ته نه یوو رسېدلي او خنډونه مو څه وو؟ هیله کوم چې په دې مرکه کې دغه ټولې خواوې ځواب کړای شم.

**پوښتنه: تاسو د امن جرګه جوړه کړه. پاکستانیو پکې ګډون وکړ. تاسو بلنه ورکړه او پاکستانیان د خپل ولسمشر، لومړي وزیر او لوی درستیز سره راغلل؛ خو بیا مو هم تورونه ولګول او هغوی ته وایئ، چې تاسو اړیکې خرابې کړې؛ نوره مو نو څومره تمه درلوده؟**

ځواب: موږ هېڅ تور نه دی لګولی. موږ هغه پروسه ټکنۍ کړې نه ده. روان کال (۲۰۱۱ز) د افغانستان او پاکستان لپاره له بده مرغه ښه کال نه و. څو کاله کېږي، چې دواړه هېوادونه له تروریزم او افراطیت څخه زوربېږي او هغه زورزیاتی چې زموږ د خلکو پر وړاندې روان دی، له ځانمرګو بریدونو او چاودونو نیولې د مقدساتو تر بې احترامي پورې، په جوماتونو کې چاودنې، په ودونو او د خوښیو په پروګرامونو کې چاودنې، د لمونځ کوونکو پر وړاندې چاودنې، د لونګۍ له لارې چاودونې او همداسې په نورو لارو زور زیاتی کول. دغه ځانمرګي او د بمي چادونو تر سره کوونکي له کومه ځایه راځي؟ څوك دغو خلکو ته تعلیم ورکوي، څوك پیسې ورکوي، ایا دغه ورانکاري له امریکا راځي، له فرانسې، بهرین او یا هم د نړۍ له کوم بل ګوټ څخه راځي او یا هم دا چې دغه تباه کوونکی قوت زموږ له خپلو ټولنو پیدا شوی دی؟ که موږ ومنوو، چې باید ویې ومنوو، چې د اسلام او بشریت د بنسټونو خلاف د دغو کړنو ترسره کوونکي د پاکستان او افغانستان په سیمو کې روزل کېږي او په شا ټپول

کېږي؛ نو موږ څوك ملامت کړو. ایا کوم بېروني پټ لاس شته دی؟ او که وي هم؛ نو بیا هم ملامت موږ خپله یوو. ایا اړتیا شته، چې یو څه لرې فکر وکړو او د دغې ستونزې دلیل پیدا کړو؟ افغانستان په پاکستان او افغانستان کې د زورزیاتي سربېره هڅه کړې، چې دلیل یې پیدا کړي او په ځانګړې توګه له ۲۰۰۷ز، څخه وروسته، چې پخپله پاکستان د دغې پدیدې قرباني شو، له بده مرغه په جدي توګه یې قرباني شو. ما پخپله دا خبره درك کړې او ویلي مې دي، چې د دې وخت رسېدلی، چې له پاکستان سره کېنو او د جوړجاړي او خبرو له لارې د دې موضوع دلیل پیدا کړو. د دغې ستونزې د حل په موخه، موږ د خپلو پاکستانیو ورونو سره خبرې وکړې او ومو ویل، چې د دې وخت رسېدلی، چې که چېرې د ورانکارو پټنځای یې په خاوره کې وي، چې پوهېږو شته. د روزلو مرکزونه یې چې پوهېږو شته، که د طالبانو جوړښت په پاکستان کې وي، چې پوهېږو شته؛ نو راځئ، چې دغه ستونزه حل کړو، ځکه چې د دوی شتون تاسو ته هم د یو مسلمان او ورور په توګه زیان رسوي. پروفیسور رباني په داسې حال کې شهید کړای شو، چې له پاکستان سره یې په پوره توګه د وروری د اړیکو د ټینګولو په موخه هڅې وکړې. پروفیسور رباني په هغه جلسه کې، چې د پاکستان لومړی وزیر ښاغلی ګیلاني، لوی درستیز ښاغلی کیاني او د بهرنیو چارو وزیره مېرمن حنا رباني وو. زموږ پاکستانیو ورونو او خویندو ته وویل، چې موږ پاکستان ته راغلي یوو، چې د سولې پلټنه وکړو او افراطیت او سرچینې یې له منځه یوسوو. یوازې د افغانستان د امن په خاطر نه بلکې د دې په خاطر چې پاکستان هم نن ګواښونو سره مخ دی؛

نو تر هغې چې د مسلې حقيقتونو ته پام ونه کړو او تر هغې چې اجازه ورکړو، چې له افراطيت څخه د وسيلې په توګه کار واخيستلی شي، هغه ستونزه چې نن ورسره مخ يوو، حل به نه شي.

**پوښتنه: ښاغلی ولسمشر صيب! پروفيسور رباني چا شهيد کړ؟**

ځواب: پروفيسور رباني د هغه چا لخوا شهيد کړای شو، چې د کوټې شورا لخوا له پاکستانه د سولې په نامه راغلی و. د هغه چا لخوا په شهادت ورسېدو، چې د سولې د پيغام راوړونکي په نامه راغلی و؛ خو ځانمرګی و. ما پخپله هغه پيغام چې په ښکاره د کوټې شورا لخوا رالېږل شوې و او د مولوي عنيات الله په نامه د يو کس په غږ ثبت شوی و، واورېد. دغه پيغام د سولې عالي شورا لپاره و. استاد رباني ته پکې په احترامانه الفاظو خطاب شوی و. موږ چې سولې ته کومې هيلې لرو او څومره هڅې چې ورته کوو، له همدې امله مو دغه پيغام سترګې را وتړلې او دغه کس مو ځان ته پرېښود، چې د پروفيسور رباني د شهادت لامل وګرځېد.

**پوښتنه: د پروفيسور رباني شهادت د پاکستان په ګټه دی، که په زيان؟**

ځواب: په کلکه، د پاکستان په زيان دی. دا د پاکستان لپاره هم يوه ستره ضايع وه او همدا دليل دی، چې موږ له پاکستانه د استاد د شهادت د څرنګوالي په اړه پلټونو کې مرسته غواړو.

**پوښتنه: پاکستان د استاد رباني د ترور د څېړنو په برخه کې خپل چمتوالی په ډاګه کړی، ايا هغوی د مرستې وعده کړې ده!؟**

ځواب: موږ له همدې امله په دې اړه د پاکستان ځواب ته سترګې پر لار یوو. موږ په دې انتظار یوو، چې پاکستان زموږ پلاوي ته بلنه ورکړي او په دې اړه مرسته وکړي.

**پوښتنه: عام نظر هم همدا دی، چې د استاد رباني ترور د پاکستان لپاره هم یوه ضایعه وه، ځکه چې نوموړي له پاکستان سره ښې اړیکې درلودې او له بلې خوا تاسو هم دې ټکي ته اشاره وکړه. ستاسو په نظر ولې پاکستان دا کار وکړ؟ او تاسو یې هم ملامتوئ.**

ځواب: ځینو مسوولینو دغه ډول ادعاوې کړې دي؛ خو د افغانستان حکومت د یوې رسمي سرچینې په توګه له پاکستان حکومت څخه غوښتنه کړې، چې د پروفیسور رباني د شهادت د څېړنو په ځرنګوالي کې د افغانستان له پلاوي سره مرسته وکړي. موږ د نومونو، پتو او د ځینو کسانو د مشخصاتو فهرست پاکستان ته سپارلی، چې په دې برخه کې له موږ سره مرسته وکړي. د سولې په اړه باید ووایم، چې د طالبانو شورا په پاکستان کې ده. موږ ټول پوهېږو، چې د حقاني شبکه په پاکستان کې ده. موږ له دغې ډلې سره د پاکستان او غرب د پخوانیو اړیکو په اړه خبر یوو او اوسنی حالت هم درك کولی شو. نور نو امکان نه لري، چې له هغو کسانو او ډلو سره خبرې وکړو، چې پته نه لري او یا یې ادرس ځانمرګی وي. په دې هم پوهېږو، چې قرارګاه او استوګنځایونه یې پاکستان کې دي او هلته یې مالي ملاتړ کېږي. همدا لامل دی، چې موږ تر دې دمه په ښکاره ټینګار کوو، چې د یو بې نومه او بې ادرسه طالب پر ځای به په نېغه خپلو ورونو سره په پاکستان کې خبرې وکړو.

**پوښتنه: تاسو پر پاکستان تور نه دی لګولی؛ خو ستاسو د کورنیو چاور وزارت او ستاسو د ملي امنیت ویاند په ښکاره پاکستان مسوول ښودلی. ایا هغوی ستاسو یوه برخه نه ده؟ ایا هغوی ستاسو پالیسي نه ده په ډاګه کړې؟ که هغوی خپل نظر څرګند کړی وي؛ نو ولې مجازات نشول؟**

ځواب: هغه څه چې موږ یې ادعا کوو، پالیسي پورې اړه نه لري، پر حقایقو ولاړ معلومات دي او دغه حقایق په ګوته کوي، چې دغه خلك له کوټې څخه راغلي وو. کوټه چېرې ده!؟

د بلوچستان پلازمېنه ده، د پاکستان اردو هلته شته ده، ای ایس ای هلته قرارګاه لري، والي لري، وزیر اعلی لري؛ نو همدا ده، چې له پاکستانه غواړو په دې اړه دې پلټنې وکړي.

**پوښتنه: سمه ده، چې له کوټې راغلي، له کوټې کابل ته راغلي او د سولې د عالي شورا له غړو سره یې اړیکې نیولي؛ خو ستاسو استخباراتي کړۍ خبرې وې، بیا یې هم له استاد رباني سره وکتل؛ ایا ستاسو په نظر د افغانستان حکومت هم مسوول نه دی؟**

ځواب: موږ په دې برخه کې ځینې نیمګړتیاوې لرلې. موږ باید دغه کس سم تلاشي کړی وای، خولۍ مو ورته سمه کتلې وای. موږ نیمګړتیاوې لرلې؛ خو دا حیقیقت دی، چې دغه کس له کوټې څخه راغی. په کویټه کې یې روزنه ولیده، په کویټه کې ورته وسایل ورکړل شول او په کویټه کې ورته د استاد رباني د وژنې دستور ورکړل شو. نه غواړم له دې زیات جزیاتو ته لاړ شم؛ خو په یو څه ټینګار کوم، چې تر هغې به افغانستان او

پاکستان سولې ته لاس رسۍ پیدا نه کړي، تر کومې چې پاکستان له افراطیت سره خپلې اړیکې پرې نه کړي، خپلې اړیکې له طالبانو سره پرې نه کړي او له افغانستان سره مدني اړیکې ټینګې نه کړي. دا هغه څه دي، چې د دواړو هېوادونو په ګټه دي.

**پوښتنه: که تروریستان له پاکستانه راځي او پر تاسو حملې کوي، سمه ده؛ خو پر پاکستان هم حملې کېږي، هغوی له کومه ځایه راځي؟**

ځواب: دا یو حقیقت دی، چې دغه ډلې او کسان لومړی په پاکستان کې وروزل شول. د پاکستان لخوا د وسیلې په توګه وکارول شول. موږ ټول پوهېږو، چې پاکستان ترې د سیاسي وسیلو په توګه کار واخیست او غربي هېوادونو یې هم د جهاد د کلونو پر مهال ملاتړ وکړ. دا چې نن پاکستان پخپله له دغې ډلې څخه زیان ویني؛ نو دا هم یو دلیل دی، چې موږ د دغې ستونزې پر وړاندې د ګډې حل لارې پیدا کېدو په لټه کې یوو. ما مخکې هم وویل، له کله نه چې پوه شوم، چې پاکستان پخپله هم د دغې ډلې قرباني شو، ما له پاکستان سره د خپلې ژبې او لیدنې کتنې شېوه بدله کړه. هڅې مې وکړې، چې له پاکستان سره دوستانه چلند وکړو او هڅه مو وکړه، چې د تروریزم د دایرې د له منځه وړلو په موخه یو بل سره خپلې مرستې شریکې کړو؛ خو دغو هڅو نتیجه ورنکړه؛ نو اوس باید یو دلیل وي، چې په نېغه د یو بل سترګو ته وګورو او د افراطیت او تروریزم له فضا څخه لرې د خپلو خلکو لپاره د یوې ښې راتلونکې په موخه حرکت وکړو.

**پوښتنه: ستاسو مهاجر په پاکستان کې دي. د ډېرو وزيرانو د کورنيو غړي مو په پاکستان کې دي. ستاسو ډېر دوستان په پاکستان کې دي او د مهاجرو په مينځ کې ژوند کوي. کله چې پاکستان پر هغوی فشار راوړي تاسو خپه کېږئ؛ خو که د مهاجرو پر وړاندې گام پورته نکړو، هغوی د طالبانو ملاتړ کوي؟**

ځواب: دا د افراطيت د ملاتړ کولو پر وړاندې عذر نشي کېدی. افراطيت ته د اجازې ورکولو پر وړاندې دا هېڅ دليل نه دی. هغوی چې په جي اس کيو حمله وکړه، څوك دي!؟ هغوی چې په لاهور کې د سرلينکا د کرکټ په لوبډلې حمله وکړه، څوك دي!؟ هغوی چې په لاهور کې يې په بېگناه دوکاندارانو حمله وکړه، څوك دي!؟ هغوی چې په کراچۍ کې يې د پاکستان پر هوايي قرارگاه حمله وکړه او د پاکستان الوتکه يې ويجاړه کړه، څوك دي!؟ هغوی چې په کويټه کې يې پر بېگناه زيارت کوونکو حمله وکړه، څوك دي!؟ هغوی چې په پښتونخوا کې يې په لمونځ کوونکو حمله وکړه، څوك دي!؟ هغوی چې په کراچۍ کې يې مرگ ژوبلې پيل کړي دي، څوك دي!؟ د ازبکستان اسلامي تحريك چې اونۍ وړاندې په پنجشير کې د امريکا پر بيارغونې ډلې (PRT) بريد وکړ، له کوم ځايه راغلي وو!؟ ايا دوی له ازبکستانه راغلي وو!؟ يا که له ميرامشا او وانې راغلي وو!؟ دا هغه پوښتنې دي، چې بايد ځواب شي او يوازې هغه مهال ځوابېدی شي، چې ژوند ښه شي. هغه وخت، چې موږ په رښتينولی خبرې وکړو او خپلو موخو ته له افراطيت څخه له گټې اخيستنې پرته ورسېږو. که پاکستان په افغانستان کې د ستراتيژيك حالت د ساتنې لپاره له افراطيت څخه کار

اخلي؛ نو باید پوه شي، چې هېڅ وخت به دې هدف ته ونه رسېږي، بلکې بدمرغي او لا زیاته ورانې به د دغو دواړو هېوادونو لمن لا پسې ونیسي. د هغه پاکستاني لپاره، چې د ستراتیژیک عمق غوښتونکی وي، یو دوست او له اقتصادي پلوه په پښو ولاړ افغانستان پکار دی. یو ورور افغانستان، چې پکې سوداګریز خوځښت او د دواړو هېوادونو او د نړۍ تر منځ اقتصادي فعالیتونه، د پاکستان لپاره د ستراتیژیک عمق ښه ساحه کېدی شي.

**پوښتنه: طالبان په کندوز کې، چې یو شمالي ولایت دی، هم شته دي. په داسې حال کې چې تاسو اردو لرئ او د ناټو ځواکونه هم ستاسو په هېواد کې شته دي. سمه ده، که چېرې له وزیرستانه له دې سرحدونو راځي؛ نو د هېواد نورو څنډو ته مو له کومو ځایونو راځي او ولې یې مخه نه نیسئ؟**

ځواب: موږ خپله ناکامي لرو. پوهېږو، چې ناټو د افغانانو لپاره د امنیت راوستو په لړ کې پاتې راغلې، په دې کې هېڅ شك نشته؛ خو موږ دلته د افغانانو لپاره د ناټو د ناکامۍ په اړه خبرې نه کوو، موږ د خلکو د ساتنې په موخه د افغانستان د حکومت د ناکامۍ په اړه خبرې نه کوو. په حقیقت کې د هغې ستونزې په اړه خبرې کوو، چې افغانستان او پاکستان ګواښي او دا د افراطیت او جګړې ګواښ دی. افراطیت په پاکستان کې مخ پر ودې دی. په پاکستان کې پټنځایونه لري، د افراطیت او تروریزم له همدې قوت څخه د پاکستاني ورونو لخوا د سیاسي وسیلې، تګلارې او وسایلو په توګه کار واخیستل شو. موږ هڅه کوو، چې دغه کړنې پای ومومي او

دواړه په دې وتوانېږو، چې د دغو کړنو د راتلونکي لپاره گام پورته کړو. زه د هغه افراطیت په اړه خبرې کوم، چې له پاکستانه سرچینه اخلي، ملاتړ یې کېږي او خپرېږي او دواړه هېوادونه متاثره کوي. دغه کړنې باید پای ومومي.

**پوښتنه: سمه ده، چا چې استاد رباني شهید کړ، له کوټې څخه راغلی و او کېدی شي د حقاني شبکه به هم په پاکستان کې وي...**

ځواب: کېدی شي نه، بلکې دقیقا په پاکستان کې ده.

**پوښتنه: ایا له تاسو سره یې ثبوت شته او یا هغه سیمې معلومې دي، چې سراج الدین هلته وي او حقاني هلته وي؟ په داسې حال کې چې پاکستانیان پوهېږي، چې مولانا فضل الله چېرې دی او د بلوچانو د اردو ځایونه د افغانستان په کوم ځای کې دي؟**

ځواب: په افغانستان کې د پاکستان پر وړاندې د هر ډول متخاصمو کسانو په اړه خپلو پاکستاني ورونو ته په ښکاره توگه وایم، چې دا هر څه د تروریزم او د تروریزم پر وړاندې د جگړې د وربځو او دود پایله ده، چې په دې دواړو هېوادونو کې رامنځ ته شوې ده. تر هغې چې پاکستان او یا هم افغانستان له افراطیت څخه د وسیلې په توگه گټه اخلي؛ نو پرته له شکه چې بل هېواد به د ورته شرایطو د پیدا کېدو لپاره عذر او دلیل ولري. په داسې حالاتو کې ځینو ته فرصت پیدا کېږي، چې له دغه فرصته له موږ او یا له پاکستان څخه گټه واخلي. ځکه موږ له سرحدونو پښه اړولې، فضا مو له گردونو ډکه کړې او دوړنه سیمه مو منځ ته راوستې ده،

چې د پاکستان ضد هر عنصر کولی شي، چې د پاکستان او افغانستان پر ضد یې وکاروي؛ نو دا بیا بل دلیل دی، چې موږ باید په ګډه کار وکړو، چې افراطیت چې په هره وسیله وي له منځه یوسوو. په بله وینا، پاکستان باید اوس په پوره توګه دا درک کړي او تکراروم یې، چې په پاکستان کې شته مرکزونه باید دا درک کړي، چې افراطیت او د جګړې منځ ته راوړل د هغه مار په څېر دي، چې یوه ورځ به تا پخپله هم چیچي.

**پوښتنه: ناټو له طالبانو او القاعدې سره په جګړه کې ده. د امریکا نږدې اتیا سلنه اکمالات د پاکستان له لارې کېږي. د طالبانو لسګونه مشران د پاکستان لخوا نیول شوي دي. همداراز د القاعدې مشران نیول شوي او امریکا ته سپارل شوي دي. عبدالسلام ضعیف مو ونیو؛ خو تاسو پرېښود. ډاکټر غیرت بهیر مو ونیو؛ خو ستاسو په سفارش خوشې شو. موږ سربېره پر دې له دېرشو تر څلوېښت زره تنو قرباني ورکړه؛ نو تاسو له دې ډېره توقع درلوده؟**

ځواب: غیرت بهیر بې ګناه و او د پاکستان لخوا په ناحقه نیول شوی و. ملاضعیف په پاکستان کې د طالبانو سفیر و او دی هم ناحقه د پاکستان لخوا نیول شوی و. د کسانو نیول، که ګنهکار هم وي، ستونزه نشي حل کولی؛ خو هغه څه چې موږ پرې ټینګار کوو، له افراطیت څخه د سیاسي وسیلې په توګه د کار اخیستو پای ته رسېدل دي. موږ غواړو، چې له افراطیت څخه نور د سیاسي وسیلو په توګه کار وانخیستل شي. موږ غواړو، چې له زورزیاتي څخه د سیاسي وسیلې په توګه کار اخیستل پای ته ورسېږي. ځکه چې د دغه سیاست اوږدول نور د پاکستان په ګټه نه دي

او د پاکستان ثبات او د دغه هېواد شتون کمزوری کوي. دا د یو ورور بل ورور ته غږ دی، چې همدا وسیله چې تاسو پخپله ترې ګټه اخیستې، نن مو پرې د خپل هېواد ژوند او موجودیت له ګواښ سره مخ کړی دی.

**پوښتنه: اوس به د راتلونکي په اړه خبرې کوو، له پاکستان څخه مو غوښتنې او توقع څه شی ده؟ ګډ کمېسون چې مو جوړ کړی، ایا لا یې پسې غزولی شئ؟**

ځواب: د سولې ګډ کمېسون جوړول په رښتیا هم چې د دواړو هېوادونو تر منځ د ګډ کار کولو یوه ښه مفکوره ده او له همدې لارې د سولې هڅې ګړندې کېدی شي. پر بنسټیزو مسایلو باید بحث وشي. یانې په افغانستان کې ځانمرګي بریدونه پای ومومي. که پاکستان د دغه ډول بریدونو پر وړاندې له موږ سره مرسته وکړي، که کومه پېښه رامنځ ته شي او موږ پوه شو، چې چا تر سره کړې ده، هغه وخت به یې پر وړاندې په ګډه ګام پورته کوو، که پاکستان کې وي او که په افغانستان کې وي. په بله وینا، که پاکستان له موږ سره د افراطیت د پای ته رسېدو لپاره په اخلاص او رښتینولی کار وکړي، د نړۍ په کچه هېڅ قدرت نشي کولی، چې زموږ تر منځ بېلتون راولي، بې باوري رامنځ ته کړي او یا هم موږ له یو بله جدا کړي. په دغه توګه به موږ دوه ګاونډیان ورونه او قوي اوسو او دا د افغانانو هیله ده. ما پخپله ټولې هڅې وکړې او د ټولو پر وړاندې ودرېدم. د غرب او امریکا پر وړاندې، چې له پاکستان سره غوره اړیکې ولرم او وکړای شم، چې هغه بدمرغیو ته، چې موږ ته زیان رسوي، د حل لاره پیدا کړم.

**پوښتنه: تاسو احسان کړی او د تېرو دوه کلونو په اوږدو کې مو د پاکستان پر وړاندې هېڅ خبره نه ده کړې.**

ځواب: دوه درې کاله نه، بلکې له درې څلور او پنځه کلونو راهیسې. ‌

**پوښتنه: ښه، درې څلور کاله. تاسو په دې له غرب سره خپلې اړیکې ټینګې کړې او له پاکستان...**

ځواب: موږ په دې هکله ځینې مسایل درلودل، ځینې وخت مو د همدې مسایلو پر سر له غرب سره د نظر اختلاف درلود؛ خو دغه مسایل مو دومره مهم ونه ګڼل او له پاکستان سره هڅو ته مو دوام ورکړ او له دې وروسته به یې هم ورکوو. افغانستان سربېره پر هغو اړتیاوو چې لري یې، سربېره پر هغه فقر چې لري یې، سربېره پر دې چې شاوخوا ۱۵۰زره بهرني ځواکونو شتون لري او هغه ټولې بدمرغۍ چې د تېرو دېرشو کلونو په اوږدو کې دې هېواد لېدلي دي، افغانستان یو خپلواک هېواد دی. سربېره پر دې ټولو اړتیاوو، نن امریکا زموږ معاشات ورکوي؛ خو چې کله د افغانستان د ګټو بحث رامنځ ته کېږي، د مسلمانانو او د سیمې ګټې مطرح کېږي، د افغانستان، پاکستان، ایران او زموږ د ګاونډیو ګټې مطرح کېږي، په دې حال کې افغانستان خپلواک تصمیم نیسي او تل به یې نیسي؛ خو زموږ پاکستاني ورونو افغانستان ته سم ځواب نه دی ورکړی. موږ په دې باور یوو، چې تاسو او د پاکستان مرکزونه د امریکا غوښتنو ته هېر ژمن دي، تر هغې چې موږ په افغانستان کې یوو.

**پوښتنه: پاکستانيان وايي، چې د افغانستان حکومت د دوی شکايتونه هېڅ وخت نه دي اورېدلي. د بېلګې په توګه له نورستان او کونړ ولايتونو پرې بريدونه کېږي او ځواکونه يې وژني؛ خو د افغانستان حکومت يې پر وړاندې هېڅ ګام نه پورته کوي.**

ځواب: ما مخکې هم وويل، چې دا د هماغه غبار او ابهاماتو نتيجه ده او هر څوک کولی شي، چې يو له مونږه د بل پر وړاندې وکاروي. څوک دغه هر څه درولی شي، يوازې موږ. يوازې پاکستان او افغانستان کولی شي، چې مخه يې ونيسي. کله چې موږ خپله دغه ستونزه حل کړو؛ نو هېڅ بېرونی عامل به پاکستان د افغانستان او افغانستان د پاکستان پر وړاندې ونشي کارولی؛ خو که چېرې دغه عامل پخپله دغه دواړه هېوادونه وي، چې يو بل ته د زيان اړولو لپاره هڅې کوي؛ نو د خپه کېدو او شرم ځای دی او زه هڅه کوم، چې دغه حالت ته پای ورکړم.

**پوښتنه: ښاغلی ولسمشر صيب! تاسو پوهېږئ، چې زموږ او د هند په اړيکو کې څومره حساسيت وجود لري. موږ هند ته د دښمن په سترګه ګورو. له هغو سره جنګېدلي يوو. له بلې خوا پاکستان چې طالبان يې خپل پلويان ګڼل، ستاسو په خاطر يې دښمني ورسره پيل کړه. اوس له هغوی سره په جګړه اخته دي. د هغو ځواکونو لپاره چې د طالبانو پر وړاندې جنګېږي، د اکملاتو لاره يې ورته پرانيستې؛ خو هر کله چې زموږ اړيکې له هند سره خرابې شوي دي. ولسمشر کرزی د هنديانو تر څنګ درېدلی دی او په دې وروستيو کې يې ورسره ستراتيژيک تړون هم لاسليک کړی دی، ايا زموږ شکايت پر ځای نه دی!؟**

ځواب: موږ پاکستان نه دی پرې ایښی او نه یې پرېږدو. پاکستان د افغانستان ګاونډی دی. موږ له دوه زره کیلومتره څخه ډېر ګډ سرحد لرو. موږ قومي اړیکې لرو، فرهنګي اړیکې لرو. تاریخي پیوندونه لرو او باید د سولې او نیکمرغۍ په فضا کې ژوند وکړو. د هند په اړه باید ووایم، چې دغه یو ستر اقتصادي ځواک دی، ستر تعلیمي ځواک دی، نه یوازې زموږ د سیمې په خاطر بلکې د ټولې نړۍ لپاره ستر تعلیمي ځواک دی. هند زموږ ګاونډی دی. د پاکستان ګاونډی او زموږ نږدې ګاونډی. هند هر کال دوه زره تحصیلي بورسونه افغانستان ته ورکړي دي. هند له موږ سره دوه میلیارده ډالره مرسته کړې ده، چې هر ډالر یې ډېره ګټه را رسولې او د افغانانو د ژوند د سوکالۍ لپاره لګول شوي دي. له هند سره د افغانستان اړیکې له پرمختګ او توانایي څخه د ګټې په توګه کارول شوي او د هند فرصتونه د افغانستان په ګټه تمام شوي دي. دغه اړیکې په هېڅ حالت کې د پاکستان پر وړاندې د کارېدو په موخه منځ ته نه دي راغلي. تر کومه ځایه چې پاکستان پورې اړه لري، نو په پوره ډاډ ویلی شم، چې د هند رهبران د پاکستان پر وړاندې د افغانستان د کارولو هېڅ هدف نه لري. برعکس، هغه څه چې ما تل له هندي مقاماتو اورېدلي، دا دي، چې له پاکستان سره د عادي او دوستانه اړیکو هیله لري. هند پیاوړی اقتصاد لري او پاکستان یو ستر اسلامي هېواد دی؛ نو هیله کوم، چې دغه سوتفهام ورك کړئ. اوس که پاکستان فکر کوي او یا د پاکستان مرکزونه فکر کوي، چې افغانستان باید له هېچا سره اړیکې ونه نیسي، له هېچا سره دې اړیکې ونلري او یا دا چې د پاکستان له لارې دې اړیکې ټینګې

کړي؛ نو دا یو خوب دی، چې هېڅ وخت په حقیقت نشي بدلېدی. افغانستان خپلواک هېواد دی او پاکستان هم یو خپلواک هېواد دی. پاکستان غواړي له هند سره ښې سوداګریزې اړیکې ولري. که له هند سره د سوداګریزو اړیکو نیول غلط کار وي؛ نو تاسو ولې هڅې کوئ، چې له هند سره دغه اړیکې ولرئ. ولې له هند سره خبرې کوئ، ولې ستاسو لومړی وزیر او د بهرنیو چارو وزیر هند ته سفر کوي؟ تاسو خپل ځان ته حق ورکوئ، چې له هند سره سوداګریزې اړیکې ولرئ او له هند سره ښې ولسي اړیکې ولرئ؛ خو غواړئ، چې افغانستان له هند سره تعلیمي اړیکې ونه لري. دا عادلانه او د انصاف خبره نه ده.

**پوښتنه: په دې مسایلو کې ستونزه نه لرو؛ خو په داسې حال کې چې ناټو ستاسو په هېواد کې ده او ستاسو اردو روزي. نور ځواکونه هم افغانستان کې شته او ستاسو اردو روزي؛ خو تاسو له هند څخه غواړئ، چې ستاسو اردو ته روزنه ورکړي، په داسې حال کې چې پاکستان له کلونو کلونو دغه وړاندیز تاسو ته کوي؛ خو تاسو یې نه منئ. په داسې حال کې چې ګډه ژبه لرو، ګډ فرهنګ لرو او کېدی شي موږ له بل چا په ښه توګه ستاسو اردو وروزو. کوم کار دی، چې هندیان یې کولی شي او موږ یې نه شوو کړای؟**

ځواب: کله چې شوروي اتحاد زموږ ګاونډی و او زموږ ډېر دوست ګاونډی و. موږ خپل ځواکونه هلته وروزل، چې ځینې یې د شوروي لخوا د افغانستان پر وړاندې په ګټې اخیستونکو باندې تبدیل شول. کېدی شي د راتلونکي لپاره دا په نظر کې ونیسوو، چې خپل ځواکونه پاکستان ته د

روزنې لپاره واستوو؛ خو افغانستان او پاکستان باید لومړی خپله بنسټیزه ستونزه، چې د دوی پر اړیکو یې اثر کړی، لرې کړي او هغه تروریزم دی. موږ څنګه کولی شو، چې خپل یو افسر پاکستان ته د روزنې لپاره واستوو، په داسې حال کې چې فکر دا وي، چې تروریستان له پاکستانه راځي؟ کله چې موږ ډاډه شو، چې د پاکستان لخوا افغانستان ته کوم منفي عامل نه راځي. کله چې موږ ډاډه شو، چې د دواړو هېوادونو اړیکې، متمدنې، دوستانه، د راتلونکي په نظر کې نیولو سره د احترام پر بنسټ ولاړې دي، هغه مهال به موږ خپل سرتیري، افسران، پولیس او خپل ډاکټران پاکستان ته د روزنې لپاره واستوو. د دغې ستونزې د له منځه تلو سره سم به ښې رښې اړیکې ولرو.

**پوښتنه: خو د ورور حق لومړی وي او له هغه وروسته د دوست حق راځي. ایا ستاسو ورور د لومړیتوب حق نه درلود؟ که خدای مه کړه، پاکستان د هند تر برید لاندې راشي!؟**

ځواب: سمه ده؛ خو یو له دې ورونو باید د بل ورور وینه په پټ چاقو تویه نکړي، دغه ستونزه باید لومړی حل شي او بیا کېدی شي دغه اړیکې زور واخلي.

**پوښتنه: یوه بله ګیله چې ستاسو ورور یې له تاسو لري. دا ده، چې کله له امریکا سره زموږ اړیکې خرابې شوې؛ نو زموږ ورور حامد کرزی له امریکا سره ودرېد او زموږ پر وړاندې یې څرګندونې وکړې. ویل کېږي، چې که چېرې امریکا له پاکستان سره جګړه وکړي؛ نو افغانستان به له امریکا سره ودرېږي؟**

ځواب: خدای دې نه کړي. که د امریکا او پاکستان تر منځ جنګ شي، موږ به له پاکستان سره یوو. موږ ستاسو ورونه یوو. که پر پاکستان حمله وشي او پاکستان د افغانستان مرستې ته اړتیا ولري، افغانستان به ستاسو تر څنګ ولاړ وي. سربېره د هغو ټولو څیزونو چې د پاکستان لخوا د افغانستان پر وړاندې تر سره شوي، بیا هم افغانستان ستاسو ورور دی. افغانستان به هېڅکله هغه هرکلی، مېلمه پالنه او احترام هېر نه کړي، چې د پاکستان خلکو د افغانانو لپاره ترسره کړي دي. هر هېواد چې پر پاکستان تېری وکړي، افغانستان به د پاکستان ورور وي. افغانستان به هېڅکله خپل ورور ته دوکه ورنکړي. له هند سره زموږ اړیکې، له هند سره د ستراتیژیکو اړیکو د پرېکړلیك لاسلیك کول، داسې څه نه و، چې دم ګړی دې پرې تصمیم نیول شوی وي، بلکې له کلونو کلونو د دغې مرستې لپاره بحث او خبرې اترې وشوې. له هند سره زما لیده کاته د وروستیو بدلونونو په ځواب کې نه دي، بلکې له پخوا پلان شوي و. د امریکا او پاکستان تر منځ وروستۍ ترینګلتیا زموږ او د پاکستان پر حالاتو هېڅ اغیز نه لري. تاسو په دې پوهېږئ، نو دا چې بحث د ورور او ورور پر اړیکو دی، وبه ګورئ، چې افغانستان به له تاسو سره د اړتیا پر مهال ولاړ وي. دا هغه درد دی، چې موږ یې لرو. ګرانه وروره! له هغو وسیلو ګټه اخیستل، چې موږ یې زورولي یوو او نن تاسو هم کړوي، پربېږده. راځئ، چې له بلې دروازې وړاندې شوو. هغه دروازه او لاره چې دواړو ورونه پرې په سوله او سوکالتیا مخکې لاړ شوو. افغانستان به له تاسو سره وي. افغانستان به د هېڅ هېواد لخوا پورته نه کرای شي. د هېڅ هېواد، که

امریکا، هند، روسیه، چین او یا د کوم بل هېواد امر به قبول نه کړي. افغانستان خپله سیاست لري، موقف لري، د حالاتو پر وړاندې ځانګړی نظر لري او د همدې نظر له مخې له پاکستان سره اړیکې لري.

**پوښتنه: په راتلونکي کې به څه کېږي؟ دوه اړخیز کمېسون به چېرې ورسېږي؟ له طالبانو سره به مو خبرې دوام ومومي؟**

ځواب: له طالبانو سره هغه مهال خبرې کوو، چې ادرس یې پیدا کړو او ټیلفون یې پیدا کړو. تر هغې، چې په کوم ځای کې واقعي استازی ولري او هغه وپېژنو. تر هغې وخته به له پاکستان سره د طالبانو د استازي په توګه خبرې کوو.

**پوښتنه: امریکا وایي، چې له طالبانو سره خبرې کوي، هغوی په همدې موخه له طیب اغا سره اړیکې نیولي؛ نو که امریکا خبرې کولی شي، تاسو یې ولې نشئ کولی؟**

ځواب: هغه د امریکا کار دی. زه دلته د افغانستان په اړه خبرې کوم او له خپل ورور پاکستان څخه د افغانستان د هیلو په اړه خبرې کوم.

**پوښتنه: له پاکستان سره ستاسو ګډ کمېسون به بیا څه وخت له یو بل سره وګوري؟**

ځواب: هیله لرم، چې موږ له خپلو پاکستاني ورونو سره په ترکیه کې، چې د دواړو هېوادونو ورور دی، ښه او د کار وړ بحثونه ولرو او ښې پایلې هم ولري.

**پوښتنه: ایا یوازې پاکستان د افغانستان د خرابۍ په مسله کې برخه لري!؟ په داسې حال کې چې ایران له امریکا سره تتې اړیکې لري او د ایران لخوا د طالبانو ملاتړ هم کېږي.**

ځواب: د طالبانو مرکز، د طالبانو اړیکې او د طالبانو ملاتړ په پاکستان کې دی. ایران به هم له طالبانو سره اړیکې ولري، خو دغه اړیکې تر دې پراخې، مهمې او ژورې نه دي، څومره چې په پاکستان کې دي.

**پوښتنه: د امریکا او ناټو له پالیسي ډاډه یاست؟**

ځواب: تاسو د ناټو د عملیاتو پر وړاندې زموږ له دریز څخه خبر یاست. د ملکي تلفاتو په اړه خبر یاست. زموږ د نیوکو او د ټولو مسایلو په اړه خبر لرئ. همدا دلیل دی، چې د دغه تړون په اړه مو خبرې اترې لا روانې دي. موږ امریکا او ناټو ته ځانګړي شرطونه لرو، لکه د شپې لخوا د عملیاتو ترسره کېدل دي، چې له دغه تړون لاسلیك کولو وروسته موږ غواړو، چې نور هېڅ امریکایي د افغان کور ته وردننه نشي. نور بهرني زندانونه نه وي. د افغانانو نیول او بندي کېدل پای ومومي. له افغان حکومت او دولت سره موازي د یو شمېر ټولنو کړنې، د خصوصي امنیتي شرکتونو کړنې، ټولې هغه کړنې چې د افغان حکومت د کړنو خلا ف وي، اداري فساد او د افغانستان د پلی شوي قانون خلاف عمل کول، پای ومومي.

**پوښتنه: که ۲۰۱۴ز، وروسته امریکا له سیمې وځي؛ نو ایا ستاسو ځواکونه چمتو دي او کنه، طالبان به هغوی له سیمې وباسي او خپلو هېوادونو ته به یې ولېږي!؟**

ځواب: فکر کوم، مخکې مې دې پوښتنې ته ځواب درکړ. موږ له امریکا سره د ستراتیژیک تړون د لاسلیك کولو، هغه اړې چې هغوی غواړي جوړې کړي او یا هم هغه سیمې، چې هلته به نظامي شتون ولري، د شرطونو په اړه یې مخکې وغږېدو. له ۲۰۱۴ز، وروسته د بهرنیو ځواکونو د پاتې کېدو موضوع او یا هم په افغانستان کې د هغوی د پاتې کېدو دلیل هغه پوښتنه ده، چې بیا هم زموږ هغو ورونو ته چې پاکستان کې دي، متوجه کېږي. د هغه چاپیریال او فضا پورې اړه لري، چې افغانستان پکې ځان په دې تېره درېرش کلنه جگړه کې لیدلی دی.

-: پېره مننه.